# پښتـانه

# د ولس پېژندنې له نظره

## (د ارواښاد ډاکټر کبیر ستوري ناچاپه لیکنې)

راټولونه او ترتیب:

**نصیر ستوری**

۲۰۱۶ م

بسم الله الرحمن الرحیم

د بیا چاپ حقوق له خپرندویې ادارې سره خوندي دي.

**پښتانه د ولس پېژندنې له نظره**

(د ارواښاد ډاکټر کبیر ستوري ناچاپه لیکنې)

**راټولونه او ترتیب:**

نصیر ستوری

**خپرونکی:**

د پښتونخوا د پوهنې دېره

**ډیزاین:**

ذبیح شفق

**چاپشمېر**

۱۰۰۰ ټوکه

**چاپـکال**

۲۰۱۶م/۱۳۹۵ل

**چاپـځی**

تاتره گرافکس / خپرنیز خدمتونه

# فهرست


| گڼه | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱) | د میرزا ماما (ډاکټر کبیر ستوري) په یاد | ۱ |
| ۲) | پښتانه د ولس پېژندنې له نظره | ۱۰ |
| ۳) | د پښتنو ملي غورځنګونه | ۲۰ |
| ۴) | د افغانستان ربړه او د هغې د حل لارې چارې | ۲۴ |
| ۵) | په عراق جګړه | ۳۱ |
| ۶) | سارک Saarc | ۳۶ |
| ۷) | د استاد روهي د ځېړنې لارښود | ۳۸ |
| ۸) | د خوشحال خان سرېتوب د ساپوهنې په رڼا کې | ۴۳ |
| ۹) | رښتین او پښتو د ساپوهنې په رڼا کې | ۵۲ |
| ۱۰) | د هورک هایمر د ټولنې انتقادي نظریه | ۵۹ |
| ۱۱) | د پښتنو د یووالي ورځ | ۶۲ |
| ۱۲) | رحمان بابا ادبي سیمنار ته وینا | ۶۶ |
| ۱۳) | لنډۍ او روانه ګرېدنه | ۶۸ |
| ۱۴) | د ادب ساپوهنه | ۷۳ |
| ۱۵) | خاطر اپریدی | ۸۸ |
| ۱۶) | د امیر حمزه شینواري یاد | ۹۲ |
| ۱۷) | ځلنده ستوری | ۹۷ |
| ۱۸) | د پښتونخوا د پوهنې دېره | ۱۰۱ |
| ۱۹) | سیاسي پوهنه | ۱۰۴ |
| ۲۰) | ژبه او فکر | ۱۰۷ |
| ۲۱) | د ژبې څهرې او بڼې | ۱۱۰ |
| ۲۲) | د پسرلي احساس | ۱۱۴ |
| ۲۳) | فرانکفورټ کې د کتابونو نړېوال نندارتون | ۱۱۶ |
| ۲۴) | کابل پوهنتون ته لنډه کتنه | ۱۱۸ |
| ۲۵) | وطن | ۱۲۱ |
| ۲۶) | په المان کې د ښځو پوهنیزه روزنه | ۱۲۴ |
| ۲۷) | د لر او بر پښتنو نژدېوالی | ۱۲۷ |
| ۲۸) | ارواښاد غني خان | ۱۳۰ |
| ۲۹) | شینګن | ۱۳۲ |
| ۳۰) | ژبه د انسان د ژوند په اوږدو کې | ۱۳۵ |
| ۳۱) | سریزه | ۱۳۹ |
| ۳۲) | درې خبرې | ۱۴۳ |
| ۳۳) | د ژبو مسئله | ۱۴۷ |
| ۳۴) | پوځیان او انساني حقوق | ۱۴۹ |
| ۳۵) | د خوب مانا | |
| ۳۶) | د پښتنو سیاسي، علمي او ټولنیزو مشرانو ته لیکونه | ۱۶۱ |

شاه محمود مياخېل

# د ميرزا ماما "ډاکتر کبير ستوري"

# پــــه يــاد

زه نه غواړم چې د ډاکتر کبير ستوري د ژوند په علمـي او سـياسي اړخونـو وغږېږم، ځکه چې ګڼو دوستانو د هغه کتابونه، مقالې او شعرونه لوسـتي دي، او د ويلو لپاره به ډېر څه ولري. زه غواړم چې په دی وړه مقاله کې د ډاکتر کبير ستوری سره زما د شخصي اړيکو، تړاو او ليدنو کتنو په هکله څه وليکم.

وړوکی وم، هغه وخت په کلونو نه پوهېدم، خـو دا مـې يـاد دي د کابـل پـه واصل اباد سيمه کې د عمراخان په ابتدائيه ښوونځي کې چې اوس د عمراخان ليسه ده، د دويم صنف زده کوونکی وم، ډاکتر کبير ستوری چې مونږ ورته ميرزا ماما وايه، جرمني ته د لوړو زده کـړو لپـاره روان و. نـو؛ زمـا پـلار خـداې ښښـلي سيدمحمود حسرت چې په هغه وخت کې د کورنيوچارو په وزارت کې کار کاوه، مونږ يې د ځان سره واخيستلو او کابل هوايې ډګر تـه يـې يـوړو چـې د ډاکـتر کبير ستوري سره چې تازه د رحـمان بابـا د دولسـم صـنف نـه فـارغ شـوي و، خداې په امانې وکړو. د کابل هوايې ډګر ته ورغلو او دا زما لـومړی ځـل و چـې هوايې ډګر ته لاړم. د کابل هوايې ډګر په رستورانت کې چې د ميدان د ودانـې د بام په سر و، مونږه چای وڅکه، د چای څکلو نـه وروسـته مـو کبيـر مامـا سره خدای په امانې وکړه او دی د الوتکې په لور وخوځيد. ښه مې ياد شي چې مونږ ورته د کابل د هوايې ډګر د ودانې په بام ولاړو او ده د الوتکې لـه دننـه تـر هغـو لاسونه خوځول چې الوتکې والوته.



دا ۱۹۶۴م کال و چې ډاکتر کبير ستوری د لوړو تحصـيلاتو لپـاره پخـوانې غربي المان ته لاړو. په هغه وخت کې زه د ده په سياسي افکارو، په مکتب کې د زده کړې په کچه او يا نورو راشه درشه باندې نه پوهيدم ځکه وړوکـی وم او دده د شخصيت، پوهې او سياسي افکارو اندازه مې نه شـوه لګولـی. زمـا مينـه د ده سره يوازې د ماما ولې په بنياد وه او په مورمې ډېر ګران و. ډاکتر کبيـر سـتوری او زما بل ماما محمد نعيم چې دواړه د رحمن بابا پـه ليسـه کـې شـاګردان و او هلته په ليليه کې اوسېدل نو؛ اکثره به د پنجشنبه پـه ورځ زمـونږ کورتـه راتلـل، ځکه چې هغه وخت د ليليې د شاګردانو او محصلينو لپاره په کابل کـې دا يـوه لويه تفريح وه، چې د جمعې شپه يا ورځ د خپلو خپلوانـو او دوسـتانو کورونـو ته ورشي. د پوهنتون د دوري په وخت کې ما هم د دې تفريح خوند ليدلی.

زما خدای ښښلی پلار ډېراجتماعي او سخي سړی وه، نو د جمعـې پـه ورځ به زمونږ نور خپلوان هم چې په مختلفو مکتبونو کې يې درس وايه، زمونږ کورته راتلل او په اصطلاح ښه ميله به ګرمه وه. په هغه وخت کې چې د جامو وينځلو ماشينونه نه وه نو زما مور به هميشه د دې خپلوانو جامې هم وينځلې او پـلار به مې زيادترو ته يوڅه جمعګي يعنې د جمعه د ورځې د خرچې په نامـه لـس شل روپې هم ورکولې. خو زما د ماماګانو کورنۍ چې په سيمه کې يوڅه انـدازه متموله کورنۍ وه، کله به چې دوی دواړه کابل ته راتلـل نـو نيـا بـه مـې ورتـه د خرچې پيسې ورکولې، دوی دغه پيسې زما له مور سره اېښودې، او دجمعې په ورځ به يې ترې د يوې اونۍ د خرچ لپاره يوه اندازه بېرته اخيستې. د دې پيسو برسېره کبير ماما يوه بله پټه پانګه هم لرله، او هغه دا چې زما نيابه زما مور تـه يوڅه پيسې پټې ورکولې، او ويل به يې چې، کبير بد مصرفه دی نو که پيسو ته يې ضرورت شو، دا پيسې به له نعيم نه پټې ورکوې چې هغه خفه نشي. د کبير ماما بد مصرفي همـدا وه چـې ده بـه پيسـيـ پـه خپلـو دوسـتانو او انـډيوالانو مصرفولې، او د پيسود جمع کولو او زياتو پيسو د راټولوشوقي نه و او تر اخر د عمره پوري يې همدا حال و. په هغه وخت کې بـه د خـارج نـه محصـلينوخپلو کورونو ته يو څه پيسي ليږلې خو ده به د جرمني نه کابل تـه د راتګ ټکـت هـم دکـوره غوښـته. زمـا پـلار د اوښـيتوب نـه برسـيره، دخـاص کـونړ پـه ابتدائيـه

ښوونځي کې د ډاکتر کبیر ستوری استاد هم و. دا چې ډاکترستوری د مکتب په دوره کې همیشه اول نمره و نو په پلار مې ډېر زیات ګران و.

پخوا چې ټلیفونونه عام نه و نو د یو بل سره رابطه چندان نـه وه، او څـوک به چې خارج ته لاړو نو میاشتې او کلونه به یې نیول چې دی د کور او کور دده له حاله خبر شي. ډاکتر کبیر ستوری چـې پـه اول ځـل د غـربي المـان نـه پـه رخصتي افغانستان ته راغی، نو زما د پلار وظیفه په مزارشریـف کـې وه، مـونږ ورسره هلته و، نو دی مې ونه لید. دویم ځل دی١٣٥٠ هجری شمسي کال کـې کونړ ته راغی، نو زه د خاص کونړ پـه لیسـه کـې د نهـم ټـولګي زده کـوونکي وم یعنې تقریبا پس له اته کلونو مې ولید. دا چې زمونږ د خپلوانو او ترورزو تعداد زیات و، ده به هر خوري ته ویل چې که دیرې ته د ورځي لس ځلي هـم راځـئ، ماته به ځانونه رامعرفي کوئ، چې نومونه مو یاد کړم او له یاده مې ونه وځئ.

په دې وخت کې ډاکتر ستوری په خپله ماستري کار کاوه او د ذهني کچـې د معلومولو لپاره یې د ریسرچ سوالونه جوړ کړي و او دا یـې د خـاص کـونړ او عمراخان په لیسو کې په شادګردانو و ازمایول. په خصوصی توګه یې په خپلـو خپلوانو هم تجربه کړ او ما ته یې وویل چې خوریه! ستا ذهن ډېر ښه دی او دا چې زه هم په مکتب کې اول نمره وم نو راته یې وویل چې ته به خامخا خارج ته ځې، نو د اوس نه ورته ځان اماده کړه. په دې وخت کې ده د پښتو او د پښتنو د حقونو خبرې هم کولې، خو زمونږ پرې چنـدان سر نـه خلاصـیده نـو یـوه ورځ ورته ما وویل چې ماما په کونړ کې دا ستا خبرې څه په درد خوري ځکـه دلتـه خو نور قومونه نشته او ټول په پښتو خبرې کوي. ده راته وویل چې دا سمه ده چیرته چې نور قومونه نشته نو زمونږ د نورو قومونـو سره څـه حساسـیت هـم نشته خو په خارج کې د نورو قومونو کسـان ځانونـه افغانـان معـرفي کـوي او پښتنو ته کوچان اود بدوی کسانو خطاب کوي چې دوی د لر او بر پښتونخواه په سیمه کې تګ او راتګ کوي اود افغانستان دایمي استوګن نـه دي. خـو ددې خلاف بیا په کابل د افغان نوم یوازې د پښتنو ګڼي او پښتنو ته د افغـان غـول خطـاب کـوي او ځـانونو تـه افغانـان نـه وایـې. داسې دوګانـه برخـورد سـړی مجبوروی چې د پښتنو د هویت او حقوقو لپاره مبارزه وکړي.



په دغه وخت کې ډاکتر کبیر ستوري او یو شمیر نور ملګرو لکه قدوس تندر، د المان په دویچې ویلې رادیو کې د پښتو ژبې پروګرام نوی پیل کړي و او مـونږ ته یې ویلې چې تاسې باید هره اونۍ د ټولو دوستانو او خپلوانـو لـه خـوا دوه سوه لیکونه راولېږئ، چې ووایي دوی د پښتو پروګرام اوري‌او خوښ یې دی. دا لیکونه به مونږ لیکل او د پوستې له لارې به مو دویچې ویلې رادیو تـه لیـږل. د هماغه وخت د کوښښونو او د ډاکتر کبیر او د ده د ملګرو د هلو ځلو لـه املـه د دویچې ویلې په رادیو کې د پښتوپروګرام اوس هم شته دي.

څنګه چې مخکې مې یادونه وکړه، هغه وخت کې ټیلفونونه نه و او د لیکونو د وړو راوړو چاره ستونزمنه وه، نو کله بـه چـې میاشـتې، میاشـتې وروسـته د کبیر ماما کوم لیک راورسېد، نو زما خـداې بښـلې نیـا بـه هغـه لیـک د بالښـت لاندې ایښودلی و، او چې مونږ به یې لیدو ته ورغلو، زر بـه یـې راواخیسـت او ویل به یې ماته د کبیر خط ووایه، چې تسل مې پرې وشي. دا لیـک بـه یـې پـه بېلابېلو خلکو دومره ډېر ولوسته چې اخر به دلیک کاغذ وشړېده، او په همدې به یې د کبیر د لیدو تنده ماتوله.

کله چې ډاکتر کبیر د دویچې ویـلې پـه رادیـو کـې کـار پیـل کـړ او د پښـتو خبرونه به یې ویل نو دا زما د نیا لپاره یوه لویه سرګرمي وه. رادیو به یې د کـټ سرته پرته وه او هره ورځ به یې د دویچې ویلې خبرونه اوریدل. که څـه هـم زمـا نیا ډېره پوهه او مدبره ښځه وه، خو د هغه وخت د افغانو ښځو فکري پراختیا ته پام سره ،فکر نه کوم چې د خبرونو نه یې چندان خوند اخیسـت خـو هـدف یې یوازې دا و چې د خپل زوی غږ واوري.

په وروستیو وختونوکې چې ټیپ ریکارډر (ټیپونه) راووتل، نو بیـا بـه ډاکـتر کبیر خپلې خبرې ثبتولې او د لیک په ځای به یې د ټیپ کیسټونه خپلې مور او کورنۍ ته رالیږل. نیا به مې بیا هم ټیپ ریکاردر د کټ سر ته پروت او د شـپې د ویدو کیدو نه د مخه به یې ویلې چې د کبیری کیست وراوچوئ چـې زه ویـده شم.

ډاکتر ستوری بیا المان ته لاړو او څلور کاله وروسته چې زه د دولسم صنف نه فارغ شوي وم، بیا افغانستان ته راغي. دی به معمولا څلور کاله پس د اوړي

په موسم کې افغانستان ته راتلو. په دې وخت کې زه یوڅه په سیاسي مسایلو پوه شوی وم، او د سیاسي بحثونو لړ مې پیلی شو، که دا مبالغه ونه کړم نو په خوریونو کې زه ورته ډېر ګران و او فکر کوم چې دا به د ده سره زما د فکری تړاو او په سیاسي مسایلو دبحث له امله و. مونږ کله هم په مادی مسایلو بحث نه کاوه اما نورو خپلوانو به په مادی مسایلو ډېر بحث کاوه چې څومره دی معاش دی او څه کوې او داسي نور. د ده به دا خبري چندان نه خوښېدې. په کابل کې یوه ورځ په شهرنو کې پښتو ټولنې ته د تګ په تکل روان و، ده له یوچانه په پښتو د پښتو ټولنې د پتې پوښتنه وکړه، خو هغه کس ورته په دری ځواب ورکړ. ده ورته وویل چې زه په دری نه پوهیږم که دا راته په پښتو ووایې نو ښه به وي. هغه نفر په تکلیف پښتو وویله او چې حرکت مو وکړ نو راته یې وویل چې خوریه ښه په تکلیف خو مې په دې بیچاره پښتو وویله. زما په اند دا دهر چا حق دی چې خپلي ژبې ته پخپله کار وکړي او نور څوک په دې متهم نه کړي چې ولې خپلي ژبې ته کار کوي. متاسفانه زمونږ اکثره پښتانه نور د خپلو نیمګړتیاو لپاره ملامتوي او پخپله هیڅ نه کوي نودا سم کار نه دی.

ډاکتر کبیر بېرته المان ته لاړو او د وطن حالات سره بدل شو. په ۱۳۵۷ هجری شمسی کال کې په کابل کې د ثور کودتاه وشوه، دننه او بهر د خلکو ترمنځ د اړیکو ساتلو چینلونه له مینځه لاړل، تماسونه پرې شول، د مرګ او ژوند خبره شوله او په دی لړ کې مونږ مهاجر شولو او زیات وخت مو په غرونو کې تیر کړ او بیا پاکستان ته مهاجر شولو. ( د هجرت او مهاجرت قصي زما په کتاب د واقعیتونو په بهیر کې لوستلي شئ). یو وخت مو سره تماس ونیوه ځکه دی هم د خپلي کورنې سره بی رابطي شوی و. زما بل ماما محمد نعیم هم مهاجر شوی و او د کبیر ماما کورنۍ او مشر ورور عبدالجلیل ملنګ لا هم په افغانستان کې و. دی مو وهڅوه چې پیښور ته راشي او هم به د ده کورنې پیښور ته راشي او د یوبل سره به وګورو. هماغه و چې په ۱۹۸۲م کال کې پیښور ته راغی. په پیښور کې د پښتنو د ځینې مشرانو سره دلیدو نه وروسته لا یوه اونې نه وه تیره چې د پاکستان د حکومت له خوا ونیول شو. په هغه وخت کې جنرال ضیاالحق د پاکستان نظامي واکدار و، د جهادي ډلو طرفداری



یې کوله. هغه په پاکستان کې او هم د افغانانو په منځ کې د ملي ډلواو کسانو د رشد سخت مخالف و. په دغه وخت کې ما په پیښور کې د یو امریکایې پروفیسر سره د انتروپولوجي ریسرچ کاوه.

ډاکتر کبیر تقریبا اتلس میاشتي د پیښور په سنترل جیل کې بندې و او حتی د خپلې کورنې سره یې هم لیده کاته نه کیدل. د ده سره به مونږ هغه وخت لیده چې دی به یې هره اونې اتکړي په لاس دقچرو مجسټریټ (قاضی) ته راوستو، او مونږ به د لری نه لیده او که کله به چې د سپاهیانو مزاج ښه وه او د چایوپه نامه به مو یو څو روپۍ ورکړي نو د دی زمینه به یې برابروله چې یو څو خبري ورسره وکړو. د ده ګناه دا وه چې ولي یې د پښتنو د مشرانو سره لیدنه کتنه کوله. د پیښور په سنترل جیل او باالخاصه په لومړیو شپو او ورځو کې چې مونږ ته د ده د بندی کیدو دځای درک نه و معلوم، د پیښور په بالاحصار کې شکنجه شوی و او په تورو خونو کې کوټه قلفي و. په پیښورکې د جرمنی قونسل به هره اونې ستنرل جیل ته د ډاکتر کبیر لیدو ته ورتلو، ځکه دی د المان غږ رادیو کارکوونکي و او مونږ ته به یې اطمینان راکوه چې نن دی که سبا، دی به خلاصیږي. په دی نن سبا کې اتلس میاشتي ووتلي.

کله چې د پاکستان حکومت د جرمني په منځګړیتوب تصمیم ونیوه چې ډاکتر کبیر راخلاص کړي نو مونږ ته یې احوال راولیږه چې د ده پاسپورت راوړي چې دی مونږ له پاکستان نه وکاږو او جرمني ته یې لیږو. ما د ده پاسپورت چې موده یې تیره شوی وه، واخیست او اسلام اباد ته مې د جرمنی سفارت ته یوړ چې موده یې تمدید کړي. د جرمني سفارت ډېر ښه وضعیت وکړاو ډېر ژر یې پاسپورت تمدید کړ. دا ۱۹۸۴ م کال و، دی یې له زندانه خوشې کړ، خو کورته د تلو اجازه یې ورنه کړه، او کورنۍ یې ورسره د لږې شېبې لپاره د پېښور په یوه هوټل کې ولیدل، زما بل ماما محمد نعیم او زه ورسره اسلام اباد ته لاړو او په هوایې میدان کې مو ورسره خدای په اماني وکړه. د حالاتو د خرابیدو له امله بیا زمونږ رابطه سره منظمه نه وه او یوازې کله کله به مو دده کوم لیک تر لاسه کړ. ما ته یې وویل چې جرمنی ته راشه او که جرمنی دی خوښ نه و نو بیرته تللی شې او ژبه به خو یاده کړی خو مونږ هم

د جهاد او د افغانستان د ازادی په ولولو کې غرق و نو جرمنی ته مې د تګ زړه ښه نه کړ او پلار مې هم راته اجازه نه راکوله.

په ۱۹۸۷م کال کې چې ما د امریکا غږ راډيو لپاره د محلي خبريال په توګه کار کاوه او هم د بلجيم د کميټي مرستيال وم، په يوه رسمي سفر امريکي ته لاړم او د امريکي نه د راتګ په وخت کې بلجيم د دوه اونيو لپاره لاړم. ما د کبير ماما سره اړيکه ونيوله چې که بلجيم ته راشي نو ښه به وي ځکه په هغه وخت د اروپا ټولنه نه وه جوړه شوي او د ويزي مشکل و. کبير ماما د بلجيم د ليژښار ته زما د ليدو لپاره راغی او نيت مو و چې هاليند ته لاړ شو. خو دا چې د ده سره نقشه نه وه نو څو ساعته مو د ليژيه ښار کې سرګردانه تير کړل چې باالاخره دشپې يوه بجه شوه نو راته وې ويلي چې، مابه بېرته زما د کوربه کره ښکته کړي، دی به بله اونی راشي، بيابه هاليند ته لاړشو. هغه وخت لوګزامبورک، هالنيد او بلجيم دبنيلاکس په نامه يوه ګډه ويزه درلوده. کبير ماما يوه اونی وروسته بيا بلجيم ته راغی او دهغه ځای نه د هاليند روتردام ته لاړو. په لاره مو ښې قصې وکړې او شپه مو سره يوځای تيره کړه. په سبا دی بيرته جرمنی ته لاړو او زه د پيښور په طرف وخوځيدم. يوه خبره چې ما ورته وکړه هغه دا وه چې په پيښور د ځوانانو لپاره او دده د اولادونو د زده کړې لپاره برابر چاپيريال نه لري، اوکه خپله کورنی جرمني ته راولې نو ښه به وي. ده راته وويل چې زه به پيسي درليږم او څوک چې سبق وايي مرسته ورسره کوه خو که دوی دلته راولم نو دوی بيا د وطن او خپلو خلکو په درد نه خوري.

په هرحال دی د خپلي کورنی نه لری پاتې شو ځکه پيښور ته راتلي نه شو او افغانستان کې جنګ روان و. په ۱۹۹۰ م کال زه امريکي ته لاړم او په ۱۹۹۲م کال کې جرمني ته د ده د ليدو لپاره لاړم. يوه اونی مو سره يوځای تېره کړه، د ويچي راديو مو وليده او د کولن د پوهنتون نه چې ده پکې هلته خپله دوکتورا اخستي وه، ليدنه کتنه وکړه. د ده ژوند ساده و او د ده کوټه د ډيروافغانانو، پښتنو او خپلوانو لپاره ديره وه. ډير بحثونه مو د وطن د حالاتو په هکله وکړل او ترې د تګ په وخت کې مې ورته بيا تکرار کړه چې د افغانستان حالات معلوم نه دي نو ښه به دا وي چې خپله کورنی جرمني ته راولې. ده راته ښه وکړه او د



هغې نه وروسته يې لومړی خپله ميرمن او دوه زامن نسيم ستوری او ايميل ستوری جرمني ته بوتلل.

په ۱۹۹۶م کال کې چې کله د سوات افضل خان لالا، د بينظير بهټو په کابينه کې د شمالي علاقه جاتو وزير و، ډاکتر کبير ستوری يې رسمي ميلمه کړ او پس له دولس کلونو يوځل بياپاکستان ته راغی. په دغه وخت کې زه هم د امريکي نه پاکستان ته د خپلې کورنی د ليدو لپاره راغلی وم. د اسلام اباد هوايي ډګرکې ورته خان لالا پخپله هرکلي ووايه او بيا د خان لالا کورته لاړو. شپه مو هلته وکړه او د هغه ځای نه د خان لالا سره سوات لاړو. د سوات نه وروسته چارسدې ته راغلو او د ولي خان سره مو وليدل، همداشان مو په اکوړه خټک کې د اجمل خټک سره وليدل. يوه مياشت يې په پاکستان کې تيره کړه او بيا بيرته جرمني ته لاړو. په دې وخت طالبانو کابل نيولی و او سياسی بحثونه ډير ګرم و. ولي خان وويل چې پاکستان خو د طالبانو حمايت کوي خو په حقيقت طالبان د پاکستان لپاره ډير خطرناک دي ځکه د طالبانو ځاله خو په پاکستان کې ده او دلته شل زره مدرسې دي.

اخر ځل زما په خيال چې ۲۰۰۵م کال په منی کې ما کبير ماما وليده چې زه جرمني د منشن ښار سره نږدی د اوبر امرګاو په سيمه کې د ناټوتعليمي مرکزکې د لکچر لپاره تللی وم او يو دوه شپې مې د ده سره هم په ويسلنګ ښارګوټي کې وکړې. په همدې پيره راته د ده کورنی وويلی چې کبير ماما ستا خبره مني او که تشويق يې کړې چې د زړه عمليات وکړي نو ښه به وي. ما چې ورته دا خبره ياده کړه نو ده راته عملی دلايل وويل چې د زړه عمليات د ما لپاره فايده نه لري او د زده عمليات يې ونه کړ. په همدې وخت کې يوه شپه نا وخته چې تقريبا يوولس بجي به وي نو راته يې وويل چې خوريه څه بهر به ووځو او قدم به ووهواو ازاده هوا به تنفس کړو. د ويسلينګ په ښار کې مو قدم واهه چې يو ترافيکي څراغ ته ورسيدو او انتظار مو کاوه چې څراغ شين شي او مونږ د سرک نه پوری وځو. په دغه وخت کې ده راته وويل چې خوريه! زما تقريبا څلويښت کاله وشول چې زه په جرمني کې اوسيږم، دلته مې لسانس، ماستری او دوکتورا واخستله او د دی خلکو په ژوند، کلتور او ژبه هم ښه پوهيږم خو ما

ته داسي ښکاري لکه چې ما دلته څلويښت ورځي تيري کړي وي او هيڅ مې زړه دلته نه دی نښتی. بله خبره يې راته دا وکړه چې ده يو وخت فکرکاوه چې افغانستان ته به ځي، ښه کتابونه به ليکي او په اکاډميک ډگر کې به ډير کار کوي خو زياته يې کړه چې زمونږ د پښتنو ژوند داسي کارونو ته چمتو نه دی ځکه اکاډيميک کارونه ځانته فکر او ژوند غواړي او مونږ هيڅ وخت ځانته کيږو نه نو اوس هره ورځ په دويچي ويلي راديو کې د خپل رسمی کار نه دوه دری ساعته زيات پاتي کيږم او يوڅه ليکم. که واړه کتابونه هم وی بايد چاپ يې کړم او اوس وخت کې لوی لوی کتابونه هسې هم څوک نه لولي. ده وويل چې د شعرونو ويلو نه زما مطلب دا دی چې دا د پښتو شعرونه هنرمندان ريکارد کړي او د پښتنو په کورونو کې يې خلک واوري. بله مهمه خبره يې راته دا وکړه چې ده زما ياد داشتونه ليدلي و نو راته يې وويل چې خوريه دی پسې مه گرځه چې ښه تحقيق او ريسرچ وکړې او بيا کتاب چاپ کړې نو ښه به دا وي چې خپل ياد داشتونه منظم کړې او چاپ يې کړې. په دی وخت کې ما د کورنيوچارو د وزارت د معينيت نه استعفی ورکړې وه او زيات شخصی ياد داشتونه د راسره وو نو ما هم ورته لستونې رابډوهل چې، خپل ياد داشتونه چاپ کړم او دا دی اوس زما اته کتابونه چاپ شوي او دري نور چاپ ته تيار دي خو يوازي يو کتاب چې د بيړنې لويي جرگه په اړوند و، هغه کبير ماما وليد او نور يې ونه وليدل. کاشکي چې دی ژوندې وی او زما دا نورې ليکنې يې هم ليدلې وای ځکه دی د علمي کارونو په ارزښت پوهېده،او هميشه به يې زه تشويقولم. خو ژوند هميشه نيمگړی دی، او د انسان اميدونه نه پوره کيږي، الله تعالی دې هغه وبښي او جنت فردوس دی نصيب شي. انا لله و اناالله راجعون.



# پښتانه

# د ولس پېژندنې له نظره

پښتانه په افغانستان کښې تر ټولو ستره ولسي ډله ده.

پښتون قوم په ۱۸۹۳ ع کال کښې د «ډيورنډ» د خيالي کرښې په نامه د انگريزانو له خوا په ټوټو ويشل شوی دی. پښتون، پشتون، پختون، افغان، پټان او روهيله اصطلاح گانې د همدغه يو قوم نوم دی چې د کرښې دواړو خواوو ته مېشت دي.

پښتانه د گډې (مشترکې) ژبې، نسل او د ټولنيزو (اجتماعي) او کولتوري ځانگړو (خاصو) گډو ارزښتونو له نظره د کولتوري ټولنې په مانا يو ولس گڼلی شي.

په دريېمه مسيحي پيړۍ کښې پښتنو ته د افغان نوم ورکړل شو، که څه هم افغان يو داسې اصطلاح يا نوم دی چې پښتانه پرې د نورو له خوا نومول شوي دي، خو د وخت په تېرېدو سره د پښتنو خپل نوم گرځېدلی دی.

د پټان اصطلاح يوه هندي يا اردو اصطلاح ده چې په هندي ژبه کښې پښتون تلفظ کېږي، خو په اردو ژبه کښې بيا پښتون ته پټان وايي.

د هند د نيمې وچې (قاري) په ځينو برخو کښې پښتنو ته روهيلا هم ويل کېږي، چې د غرونو د اوسيدونکو مانا لري.

پښتون / پشتون/پختون ددغه ولس خپل لرغوني (پخواني) نوم دی. داچې نن ورځ هر هغه څوک د افغانستان تابعت ولري افغان ګڼل کېږي، نو لدې کبله دغه اصطلاح ديوې ټاکلې (معينې) ډلې دتعريف لپاره مناسبه نه ده او له همدې کبله پدې ليکنه کښې د پښتون اصطلاح ته فوق العادګي ،ارزښت او امتياز ورکول کېږي

له پنځه شپيتو ميليونو زيات پښتانه چې د ډيورند د خيالي او تش په نامه کرښې دواړوغاړو ته اوسيږي، سربيره پر ګډې ژبې نور ټولنيز (اجتماعي) او کولتوري ګډ ارزښتونه او صفتونه لري چې د خپل هر يو ګاونډي څخه يې بيلوي،چې ددغه صفتونو څخه يوځانګړی صفت پښتونولي ده. پښتونولي د پښتنو د دود دستور يوه ټولګه (مجموعه) ده چې له يوه نسل څخه بل ته نقل کېږي او په ځينو ځايونو کښې د پښتونولۍ قانون او اصول په ليکلي ډول هم شته دی.

پت، ښېګړه ، توره ، وفا، ورورولي، ننګ، مېلمه پالنه، مېړانه ، غيرت ، انصاف ، پنا ورکول، عزت، ننګ، بدرګه، ننواتې ،ابرو ،دروغ نا روغ پوښتنه ، په ښه بده کې ګډون،د ژوند په چارو کې د مشرانو او دوستانو سره سلا مشوره او داسې نور په پښتونولۍ کښې تر ټولو ستر مقام لري ، له دې کبله يې ارزښت هم ډېر زيات دی. د پښتونولۍ د زده کړې ځايونه کورنۍ ، حجرې يا دېرې او پښتني ټولنه ده. د پښتونولۍ زده کړه د ځېږېدو راهسې په کورنۍ کې پېل کېږي او ټول عمر دوام لري.



پښتونولي د جرګو يو ولسي سيستم ( نظام ) دی چې ډيموکراتيک ( جمهوري ) خوی لري، جرګه کېدای شي د کورنۍ ، کلي، منطقې، قبيلې او قام په سويه مينځ ته راشي د ټول قام په سويه سره جرګې ته لويه جرګه هم وايي ، خو دا جرګې دايمي نه دي موقتي ( عرضي ) غېر مرکزي او خپلواکه بڼه لري

د پښتنو جرګې د هر چا له خوا راغوښتل کېدلې شي او ډېر وخت د کمزوري له خوا او کله کله د پېښو د ضرورت له کبله بې له دې چې څوک يې راوغواړي مينځ ته راځي او خلک د جرګې له پاره پخپله راټولېږي. جرګه ټولنيزې ، سياسي او حقوقي پرېکړې کولې شي، په جرګه کې هېڅکله رايې نه اخستل کېږي په هغه موضوع باندې چې جرګه ورته رابلل شوې وي تر هغو خبرې او بحث کېږي چې يوې موافقې او جوړجاړي ته د ټولو په خوښه ورسېږي او بيا پرې د دوعا لاس پورته شي . د جرګې راغوښتلو او جرګې جوړېدو سربيره جرګه لېږل کېږي هم، پښتانه د جرګې ډېر مخ او خاطر کوي او د ډېر څه نه ورته تېرېږي.

ماکس کليم بورګ (Max Klimburg) اطريشي پوهان د پښتونولۍ د لاندې د پښتنو يو عنعنوي يا حقوقي سيستم باندې پوهېږي چې تر ټولو ستره قضا ( عدالت ) يې جرګه ده او ليکې چې « جرګه » د ازادو ډيموکراتيکو کړو وړو سره سم نه مشر لري او نه د غونډې په وخت کې هر تن له پاره ټاکلي ځايونه وي سړی په نا پېلي ځای کې د هم غاړو کسانو په ډله کې ناست وي او هر څوک هر کله که وغواړي کولې شي چې پاڅېږي خبرې وکړي او لاړ شي. د جرګې د پرېکړو له پاره د رايو ډېر والی شرط نه دی ، هېڅ کله رايې نه اخيستل کېږي بلکې د مخالفو

کسانو شتوالی ارزښت لري، د جرګې د پرېکړو عملي کونه د جرګې د ګډون کوونکو مهمه ټولنيزه دنده ده Max) «Klimburg , 1968). همدغسې ويلي کروزی (Willy Krause1972) او ځينې نور بهرني ليکوالان پښتونولي يو حقوقي دود ګڼي. د پورتنيو ليکوالانو دا نظريه چې پښتونولي د پښتنو يوازې حقوقي دود يا سيستم دی مونږ ته بشپړه نه برېښي ځکه جرګه چې د پښتونولۍ تر ټولو ستر مقام دی يوازې حقوقي پرېکړې نه کوي بلکې ټولنيزې او سياسي پرېکړې هم کوي. د دې خبرې ښه بېلګه دا ده چې پخپله احمد شاه بابا په (١٧٤٧ ع) کال کې جرګې باچا کړ. له دې کبله پښتونولي يوازې يو حقوقي سيستم نه شي ګڼل کېدلې بلکې ټولنيز او سياسي سيستم هم دی. کليم بورک (Klimburg) وايي چې جرګه مشر نه لري په دې هکله پکار ده چې ووايو چې جرګه مشران لري خو دغه مشران د ووټونو (رايو) په واسطه ټاکل شوي نه دي بلکې عنعنوي منل شوي کسان دي د بېلګې په توګه په يوه جرګه کې چې يو قومي مشر ناست وي نو سړی ويلې شي چې دغه جرګه د هغه د مشرۍ لاندې وشوه.

جرګه او حجره په پښتونولۍ کښې د دود او دستور ساتندويه دي. په حجره کښې د يوې کورنۍ غړي، خپلوان، دوستان، اشنايان، انډيوالان، ملګري، کليوال او ګاونډيان د جرګې، مرکې، خبرو اترو، ناستې پاستې، ګپ شپ، مېلمستيا، معلوماتو، موسيقۍ، غم او ښادۍ لپاره راټولېږي.

په پښتني ټولنه کې د پښتو ويلو يا ليکلو چې د ژبې پورې اړه لري او د پښتو کولو تر مينځ توپير کېږي چې د پښتونولۍ



پورې اړه لري دنړۍ په ګوټ ګوټ کښې ټول پښتانه په يوه ګډه (مشترکه) ژبه خبرې کوي چې «پښتو» نوميږي. د پښتنو ژبه «پښتو» د ليک لوست ژبه ده.

په پښتو ژبه کښې سړی دوه مهمې لهجې توپير کولی شي چې يوه يې نرمه لهجه او بله يې سخته لهجه ده. دغه دواړه لهجې بيا نوري ورې لهجې هم لري.

په افغانستان، پاکستان اود ايران په ځينو سيمو کښې له **٢٥** ميلونونه زيات پښتانه مېشت دي.

په افغانستان کښې ستر ډېره کې (اکثريت) پښتانه اوسيږي، چې د لوديځ ولايت هرات څخه نيولي تر فراه، نيمروز، هلمند، د کندهار اود قلاته پورې د ختيځ وخواته او دهغه ځای څخه د غزني، وردګ، لوګر، پکتيا، کابل او ننګرهار پورې، او له هغه ځای څخه د هندوکش د غرونو تر لمنو پورې يعني د کاپيسا، لغمان او د کونړ په ولايتونو غزيدلی دی.

په شمالي او شمال لوديځ افغانستان کښې هم پښتانه اوسيږي چې د مالونو (څارويو) د څر د ځای او د کرنې د ځمکې په موخه د جنوبي افغانستان څخه هلته تللي او مېشت شوي دي، ددوی په مورنۍ ژبه «پښتو» د تاجکو ژبې څه نا څه اثرهم کړی دی خو بيا هم په هڅ پښتانه دي.

دغه راز د يوه اټکل له مخې د افغانستان **٥** ميلونه وګړي کوچيان دی چې ددغه کوچيانو تر ټولو ستره برخه هم پښتانه جوړوي.

د بلوچستان شمال او د کوټې، پشين، ژوب، لورالائي او د سيبي په سيمو کښې يوازې پښتانه اوسيږي. دغه راز د انګريزانو له خوا په نومول شوي سوبه سرحد (پښتونخوا) کښې

هم يوازې پښتانه اوسېږي.

د پاکستان د ۱۹۲۱ ع کال په سرشميرنه کښې جوته شوي ده چې يو زيات شمير پښتانه په ميانوالي، راولپينډۍ، لاهور، ملتان، حيدر اباد ، کشمير او کراچۍ کښې هم مېشت دي، ګمان کېږي چې دغه پښتانه د اقتصادي علتونو له کبله دغلته تللي دي.

په ايران کښې د جنوبي خراسان او سيستان په سيمو کښې چې د افغانستان پولې ته څيلمه پرتې دي هم پښتانه اوسېږي، خو ددغه پښتنو شمير سړی په صحيح توګه نه شي اټکل کولی، ځکه چې دوی په وړو وړو ډلو سره ژوند کوي او د ايران په سياست کښې کوم رول نه لري.

ځينې وګړي په کيشک او ګلران کښې چې د هرات ولايت په شمال خوا کښې پراته دي هم په پښتنو کښې ورګډ يږي.

د پښتنو لرغوني (پخواني) تاريخ تر اوسه په بشپړ ډول نه دی څيړل شوی، خو ددوی هېواد په اووم عيسوي قرن کښې د سليمان غرونه ؤ. ددغه ځای نه دوی شاوخوا ته خپاره شوي دي. چې له همدې امله ځنې نور خلک او قبيلې له دوی سره ګډ ې شوي.

د بيلګې په توګه د نسل پېژندنې پر بنسټ ذکر لاندې قبيله د پښتنو د رضاعي ځوی عمر له کبله د پښتو هډ وګرځيد چې د هندوکش خوا ته مېشته ؤ، او ځانګړې ژبه يې لرله، چې د هغې نښې نښانې اوس د لوګر په وادي او مرکزي وزيرستان کښې شته دي او دباجوړ هغه وګړي چې ملاکنډ په شاوخوا کښې اوسېږي د پښتنو څانګه ده.

په ډېره اسماعيل خان او سکهر کښې ځينې ډلې اوسېږي



چې بلوڅ پښتانه دي او په پښتو خبري کوي.

په منځنيو پيړيو کښې د امو درياب ختيځ خوا ته د پښتنو پاچاهي وه چې د بيټنو پورې يې تړاو لرلو. بيټني په لودی او سوري قبيلو ويشل کېږي چې په ۱۲مه او ۱۷ مه پيړۍ کښې يې په ډيلي حکومت کړی دی..

د ايران د نادر افشار د مرګ وروسته احمد شاه دراني (احمد شاه بابا) خپلې پاچاهۍ ته تر ډيلي پراختيا ورکړه. په ختيځه خوا (لوري) کښې يې کشمير، لاهور او ملتان، او په لوديځه خوا کښې خراسان ، په جنوب کښې يې مکران هم فتح کړل. خو له بده مرغه د احمد شاه بابا د مرګ نه پس د هغه د دويم ځوی تيمورشاه او د احمد شاه بابا دنورو وارثانو د خپل منځي شخړو او جګړو له امله دغه لوی دولت ببرته وړوکی شو.

دوست محمد خان چې د ابدالي بارکزي کورنۍ څخه ؤ د احمد شاه بابا اخرني وارث ته ماته ورکړه او پخپله په ۱۸۳۸ ع کال کښې پاچا او د امير لقب يې ځان ته غوره کړ.

د احمد شاه بابا د وارثانو څخه يو تن سدوزی شاه شجاع چې په ۱۸۰۰ ع کال کښې يې ځان د پيښور پاچا باله،د انګريزانو څخه يې د امير دوست محمد خان په مقابل کښې مرسته وغوښتله چې په جون ۱۸۳۹ ع کال کښې يې د برتانوي -هندي پوځ سره د کندهار په لور حرکت وکړ دکندهار سردارانو د هغه مقابله ونه کړه او په کندهار کښې د شاه شجاع سدوزي د بادشاه کيدلو اعلان وشو . او په اګست ۱۸۳۹ کښې يې د انګريزانو په ملتيا او زور کابل هم ونيوه او امير دوست محمد خان فرار شو.

په ۱۸۴۱ ع کال کښې پښتنو انګريزي پوځ ته ماتې ورکړه

او هغه امير چې د انګريزانو له خوا په کابل کښې باچا شوی ؤ مړ کړی شو او جګړه روانه وه. ددې لپاره چې جګړه پای ته ورسيږي انګريزانو اميردوست محمد خان له هند نه بېرته کابل ته راوستو او د باچا په حيث يې وپيژندو.

امير دوست محمد خان له افغانستانه جلاشوي برخې لکه خلم، بلخ او کندوز بېرته فتح کړې او د افغانستان پورې يې وتړلې.

دامير دوست محمد خان د مرګ وروسته دده ځامنو هر يو غوښتل چې پاچا شي. له همدې امله يې په خپلو منځونو کښې جګړې پيل کړي چې په نتيجه کښې محمد يعقوب خان بريالی شو. امير محمد يعقوب د روسانو سره دوستانه او ښه روابط ټينګ کړل.

کله چې د ايرانيانو په مقابل کښې انګريزانو د امير محمد يعقوب خان سره مرسته ونه کړه نو يعقوب خان د انګريزانو نه نااميده شو، اوله دې امله د ۱۸۷۸ ع کال څخه تر ۱۸۸۰ ع کال پورې د انګريزانو او افغانانو جګړه وشوه. ددغه جګړې په وخت کښې چې يو انګريزي هيئت له کابل څخه بېرته تللو نو د پښتنوله لاسه ووژل شول. انګريزانو د بدل اخستلو په غرض پر پښتنوبېرته يرغلونه وکړل، خو انګريزان بريالي نه شول.

کله چې محمد يعقوب خان د انګريزانو له خوا فرار شو نو دده پرځای يې عبدالرحمن خان لومړی د کندهار امير کړ او بيا يې په ۱۸۸۰ ع کال کښې د ټول هېواد واکې په لاس کښې ورکړې.

په ۱۸۹۳ ع کال کښې انګريزانو له امير عبدالرحمن خان سره يو توافق ليک لاسليک کړ چې د انګريزي هيئت د مشر



ډيورنډ په نوم د ډيورنډ په کرښه مشهور شو. ډيورنډ سرحدي پوله نه وه، بلکې يوه انتظامي کرښه وه.

د امير عبدالرحمن خان د مرګ وروسته انګريزانو په ۱۹۰۵ع کال کښې دده ځوی حبيب الله خان ته د پاچاهۍ تاج ورپسر کړ. پدغه وخت کښې روسيانو غوښتل چې افغانستان ته ځان رانزدې کړي ددې په مقابل کښې انګريزانو د افغانستان سره يو تړون لاسليک کړ چې د هغې پربنسټ به هر کال يوسلو شپيته زره پونډه افغانستان ته ورکوي.

د امير حبيب الله خان د مرګ وروسته د هغه د زوی امير امان الله خان په ۱۹۱۹ ع کال کښې د افغانستان پاچا شو. د پاچا کيدو سره سم يې د افغانستان د خپلواکۍ غږ پورته کړاو په همدغه کال کښې يې په راولپينډۍ کښې د انګريزانو سره د سولې يو تړون لاسليک کړ چې له يوې خوا يې پکښې د ۱۹۰۵ ع کال تړون تائيد کړ او له بلې خوا افغانستان خپلواک او ازاد شو. دامير امان الله خان وروسته د محمد زي کورنۍ پاچاهي په افغانستان کښې راغله. چې د نادرخان نه وروسته د محمدزيو د کورنۍ لومړی پاچا ظاهر خان ؤ.

ظاهر خان نسلي پښتون و، خو د خپلې ژبې او کولتور څخه باالکل پردی شوی و په پښتو هيڅ نه پوهېده او پارسي غږيده. ده په خپله ۴۰ کاله باچاهۍ کې د دی هڅه هم نه ده کړې چې څو ټکې پښتو ياده کړي حال دا چې په افغانستان کې د ټول مېشته لږه کيو قومونو (ازبکو، ترکمنو، تاجکو، هزاره، او داسې نورو) له مجموعې څخه پښتانه ډېر زيات ؤ که د ظاهر شاه د باچاهۍ وخت په پام کې ونيول شي نو پدغه وخت کې په نړۍ کې ستر بدلونه راغلي دي چې د پښتنو د قامي يووالي بې

اغېزې نه و. دويمه نړۍ واله جګړه پای ته ورسيده د ملګرو ملتونو موسسه (اقوام متحده) جوړه شوه انګريزان د هند دنيمې وچې څخه وتلوته مجبور شول ، پاکستان په ۱۹۴۷ ع کال کې جوړ شواو د پښتون قام نيم وجود په پاکستان کې پاتې شو.

پدغه وخت کښې ظاهرشاه يو دوه مخی سياست پيل کړ. له يوې خوا يې د پښتنو ويش ومانه او په پاکستان کې يې سفارت او قونسلګري جوړه کړه او له بلې خوا يې ورسره د ښمني راواخيسته او ويل به يې چې په پاکستان کې دمېشتو پښتنو يانې يوې برخې پښتنو حقوق غواړو چې د پښتونستان په نامه ځانته ملک جوړ کړی او افغانستان نه بيل وي.

په دې توګه يې دا پوښتنه چې د کورني سياست پورې يې اړه لرله د بهرني سياست برخه وګرځوله او د اساسي قانون يا ائين د بهرني سياست په برخه کې يې وليکل او د پښتونستان لفظ نه يوازې د پښتنو د وېش د ټينګولو او د پښتنو د قامي وحدت په ضد ؤ بلکې په افغانستان کې د پښتنو د ټکولو وسيله هم وه. په قام پرسته پښتنو به په پاکستان کې تورونه لګول کېده چې د افغانستان سره لاس لري اوپه افغانستان کې به پرې تورونه لګول کېدل، چې پاکستان سره لاس لري او په دې نامه به ځورول کېده.

ظاهر شاه پارس يا ايران سره خپله دوستي دومره پخه کړه چې خپل دربار يې د پارسيانو نمانيده ګی وګرزوله او د دننې(داخلي) ښکيلاک بنه يې غوره کړه. ملک ازاد و خو ولس يې محکوم و.



# د پښتنو
# ملي غورځنګونه

November 1992-

پښتانه د نړۍ په لرغونو قامونو کې شمېرل کېږي چې د اوږد تاريخ او بډای کلتور خاوندان دي. ددی قام په خاوره کې ډېر قامي غورځنګونه زيږيدلي دي. په ۱۲۷۰ ع کال کې د ملک اودل او ملک حمزه په مشرئ د بُست په وادی کې د مغلو په مقابل کې قامي نهضت راپورته شو -وروسته بيا د همدی سيمی نه د ميرويس نيکه په مشرۍ په ۱۷۰۹ ع کال کې د ايرانيانو په مقابل کې قامي آزادۍ بخښوونکی غورځنګ راپورته شو او خپل قامي دولت يا سټېټ يې جوړ کړ، چې وروسته بيا په ۱۷۴۷ ع کال کې د احمد ساه بابا لخوا د افغانستان په نامه ونومول شو. همدغسې د پېښور سيمه هم د قامي آزادۍ بخښوونکو غورځنګونو نه خالي نه وه. د دی سيمی نه د مغلو په مقابل کې د بايزيد په مشرۍ چې طرفدارانو يې ورته پير روښان او مخالفينو يې ورته پير تاريک وايو قامي ازادی بخښوونکی غورځنګ راپورته شو.

وروسته د پیر روښان نه بیا خوشحال خان خټک ۱۶۹۹ ع کال کې په قامي مبارزه پیل وکړ چې مهمې جګړې د تاترۍ، دوربې، نوښار او ګنداب جګړه ده چې ایمل خان پکې هم برخه درلوده.

بیا ورسته چې انګریزان راغلل نو د باچا خان (فخر افغان) په مشرۍ په ۱۹۲۹ ع کال کې د سورپوښو په نوم قامي ازادۍ بخښوونکې غورځنګ راپورته شو چې انګریزي ښکیلاک یې د هند نیمي وچې نه وتلو ته مجبور کړ.

دا چې پښتون قام تر ټولو زیات مقاومت د ښکیلاګګرو په مقابل کې ښودلی دی نو ښکیلا ګګرو پرې هم درانه ګوزارونه کړیدي. انګریزانو پښتانه په درې برخو وویشل چې یوه برخه یې د خپلې اداري لاندې راوستله (رعیت) او په بله برخه کې به یې د خپل نماینده پواسطه کار کاوه (قبایل) او دریمه برخه کې یې یوازې سیاسي علاقه لرله (افغانستان).

همدغه شان کله چې روسي ښکیلاګګرو د پښتنو خاورې ته خپلې پښې را اوږدې کړې نو تر ټولو درانه ګوزارونه یې په پښتنو وکړه.

خپل بریځی ببرک کارمل یې راوست، نورمحمد تره کی او حفیظ الله امین یې ووژل او د پښتني ارزښتونو له منځه وړلو پسې شو. د ګوند ورځپاڼه چې د ثور انقلاب نومیده د پښتو نه په فارسي واړوله او زیات شمیر پښتو کتابونه او د افغانستان د راډیو په ارشیف کې پښتو سندرې د منځه یوړې. حتی د رحمان بابا او خوشحال خان لیسي یې په فارسي کړې. سربېره پردې یې د قومي او ژبني تضادونو د راژوندي کولو هلې ځلې پیل کړې او په دې توګه یې د افغانستان د تجزیه کولو پلان



پلي کړ. چې دغې عمل د روسیانو په مقابل کې د پښتنو مقاومت نور هم تیز کړ او روسیان مجوره شو چې کارمل بېرته مسکو ته بوځي او د څه مودې لپاره ډاکتر نجیب الله رامنځته کړي، خو په حقیقت کې خبره زړه په زړه وه او ډاکتر نجیب الله سره هیڅ واک نه ؤ ددې واقیعت ثبوت په دې کې پروت دی، چې کله د خلق د ګوند نوم د وطن د ګوند په نوم بدلیده، کارمل په مسکو کې ؤ، خو د وطن د ګوند د مرکزي کمیټې غړی ؤ. بالاخره کارمل یې بېرته کابل ته راولیږه. لا څه موده وروسته یې د خپلو ملګرو سره کودتا وکړه او د ملګروملتو د موسسې پلان یې چې د عمل پړاو ته نژدې شوی ؤ شنډ کړ.

د کابل په یوې برخې باندې د رباني د ډلې په جامه کې د کارمل حاکمیت د همدغه کودتاه سلسله ده، چې لوټماری، وژنه او د انساني حقوقو تېرې کوونه یې ورځنۍ اجندا ده چې د ښځو د حقوقو تلفوول، د انسانانو بې د محکمې ښکاره اعدامول، د کتابونو سېځل، د ملي شتمنیو لوټ کول او مزار ته انتقالول یې روښانه مثالونه دي. د رباني د جنایتکاري ډلې لاسونه چې پېښور کې وه. هم د پښتنو په وینو سره ؤ چې زمونږ د ګوند د مخکښ غړي عبدالباقي خان شریفي او ګن شمیر نور وطنپالونکي ځوانان یې وژلي دي. تر هغو چې دغه جنایتکاران د کابل په یوه برخه کې حاکمیت لري، مرکزي حکومت او امن منځ ته راتلای نه شي.

د امن او سولې د ټینګښت او منځ ته راتګ لپاره پکار ده چې دغه د جګړې جنایتکاران محاکمه او په سزا ورسیږي او په دې توګه د ازادو انتخاباتو او ټاکنې لپاره شرایط برابر شي، چې ټول ګوندونه او ډلې پکې برخه واخلي او قانوني حکومت

منځ ته راشي. د یادولو وړ ده چې تجزیه غوښتونکي جنایتکاران په افغانستان کې مېشته لړه کي د پښتنو په مقابل کې راپاروي چې ګواکې ستاسو حقوق یې خوړلي دي. خو د پښتون قام چې په افغانستان کې مشر ورور او په سلو کې د ۷۵ نه زیات ډېره کی جوړوي هیڅکله د ورونو قامونو، ازبک، تاجک، هزاره، ترکمنو او نورو لړه کیو حقوق ندي خوړلي بلکې تاجکو هم د پښتنو هم د هرازه، ازبک، ترکمن او نورو لړه کیو حقوق په ډېر مکر او سپین سترګۍ سره د پښو لاندې کړي دي. په افغانستان کې د مېشته ورونو قامونو د حقوقو د تضمین او هوسائی لپاره یو فدارلي سیستم پکار دی چې د ولسولۍ او ډیموکراسۍ بنسټ جوړوي.

په داسې حال کې چې سنترالیزم یا مرکزي سیستم د دیکتاتوري سره تړلی دی. یوازې یو فدرالي سیستم کې په افغانستان کې د ورونو قومونو حقوق خوندي کېدی شي، چې په سیاسي، ټولنیز، کولتوري او اقتصادي ژوند کې د خپل نفوذ سره سم برخه واخلي. دا یو واقعیت دی چې د لړه کیو ورونو قومونو په تېره بیا کولتوري حقوق په افغانستان کې د واکمنو له خوا د پښو لاندې شویدی خو دا واکمن که نژادي پښتانه ؤ، کولتوري پښتانه نه ؤ او تاجکي کولتوري یې خپل کړې ؤ حال دا چې د ملت یا قام استلا (اصطلاح) یوه کولتوري استلا ده او کومه نژادي استلا نده که نه نو اوس به د اریا په نوم یو ملت موجود وای

پښتونخوا/یولسمه ګڼه/شپږم ټوک/ نومبر: ۱۹۹۲

**Pakhtoonkhwa magazine**
**Jahrgang (Volume): 11 / Nummer (Number): 6 / November 1992**



# د افغانستان ربړه

## او د هغې د حل لارې چارې

**January 1979**

د افغانستان ربړه هله منځ ته راغله کله چې د کورنۍ ودې، چې د ملي او اقتصادي غیرې عادلانه مناسباتو محصول ؤ، لارښودنه زمونږ د ټولنې د عیني او ذهني شرائطو سره سمه ونه شوه او له دې کبله ولس راوپارول شو، ټوپک یې راواخیست، یو شمېر ددوی څخه ګاونډي او نورو هېوادونو ته کډې وکړې او په دې توګه د بهرني ګوتې وهني لپاره لاره هواره شوه، او په تېره بیا د پوځي ډکتاتور ضیاوالحق غوا لنګه شوه، چې د افغانستان په جګړه کې د خپل ځان د بقا نښې لیدلې، د خپلو برېڅو پواسطه یې د افغاني جګړې اور ته لمن وهله او پیاوړي افغاني سرېتوبونه (شخصیتونه) یې د منځه وړل.

له بلې خوا څخه شوروي اتحاد خپل پوځونه په افغانستان رامارش کړل او د خپلو پوځونو په زور یې په کابل کې ببرک کارمل په قدرت راوست.

د ببرک کارمل د واکمنۍ په وخت کې هر څه ځای په ځای ولاړ ؤ، څه شی چې په حرکت کې ؤ هغه پوځي میخانیکي عملیات او په وده کې ببرته پاتې هلې ځلې وې چې منځ ته

راغلی. پر مختللی ټولنیز ارزښتونه یې ویجاړول. د مثال په توګه د رحمان بابا او خوشحال خان بابا د لیسو د رنګولو او د پښتو د ورځپاڼو د منځه وړلو هڅې.

خو کله چې په شوروي اتحاد کې ګورباچوف او په کابل کې ډاکتر نجیب الله په قدرت راغی نو په سیاسي صحنه کې یوه اندازه حرکت او ساه پیدا شوه . د پوځي ګامونو سره یې سیاست ملګری کړ او د ملي روغې جوړې وړاندینه یې ټولو افغاني ځواکونو او ګوندونو ته وکړه .

په دې لړ کې د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوندته هم د روغې جوړې او خبرو بلنه د ډاکتر نجیب الله له خوا ورکړل شوه.

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند چې د ربړو د حل لپاره یې سوله او روغه جوړه کړنلاره ده، دغه بلنه ومنله او په کابل کې یې دوه ځله خبرې اترې د افغاني مشرتابې سره وکړلې . په دوهم ځل خبرو اترو کې چې د (ANP) عوامي نیشنل پارټۍ پښتونخوا مشر،ښاغلی محمد افضل خان «خان لالا» پکې هم د منځګړي په توګه حاضر ؤ، د ډاکتر نجیب الله او زمونږ د ګوند د ډلګه ګۍ تر منځ په ډېر ټکو کې د نظریو یووالی منځ ته راغی او په تیره بیا په دې اساسي ټکي کې چې په افغانستان کې دې یو ډېر ګوندیز پارلماني سیستم منځ ته راشي چې زمونږ د ګوند یوه کره غوښتنه وه موافقه منځ ته راغله، او ډاکتر نجیب الله دغه د اساسي قانون په مسوده کې چې کار پرې روان ؤ ونیوله او په دې توګه یې خپل د روغې جوړې سیاست په عمل کې پلی او پیل کړ.

نو یو شمیر کسانو چې د روغې جوړې په دغه پروګرام کې خپلو امتیازونو ته خطره لیدله، ددغه پروګرام د عملي کولو په



ضد خپلې هلې ځلې پیل کړې، چې په ډاګه بیلګه یې د انقلابی شورا د ځینو کسانو له خوا په اصطلاح د ګوندونو د قانون راوښکدل دی، چې هدف یې د روغې جوړې په مخه کې خنډ اچول او د مصنوعي ګوندونو په بڼه کې بېرته د یو ګوندیز حاکمیت ټینګول او د مخالفو ګوندونو مخ نیول وه. دا چې د ګوندونو د قانون جوړونه له یوې خوا د انقلابی شورا په صلاحیت کې نه ؤ ،ځکه چې دغه شورا خپله دلوی جرګې وروسته رنګه شوه او دبلې خوا د خپل وخت څخه د مخه ځیږیدنه او له دې کبله معیوبه وه،نو د ګوندونود قانون جوړونه د صلاحیت لرونکی مقام له خوا ، د لویې جرګې له خوا د اساسي قانون د پاس کولو څخه وروسته پکاروه. د پښتو متل دی "غوایی لا حلال شوی نه دی خانک یې ورته په سر نیولی."

لنډه دا چې د ۱۹۸۷ عیسوی کال د نوامبر د میاشتی په پای کې په کابل کې لویه جرګه جوړه شوه، چې زمونږ د ګوند یوې ډلګه ګۍ پکې هم برخه اخستلې وه. ډاکتر نجیب الله د افغانستان جمهوررئیس وټاکل شو او د افغانستان نوی اساسي قانون پاس شو.

دغه اساسي قانون د افغانستان په تاریخ کې د هر بل اساسي قانون څخه پر مخ تللی او د ډېرګوندیزه پارلماني ډیموکراسی سربیره پکې زمونږ یو شمیر نوری غوښتنی چې د ملي روغې جوړې او په هېواد کې د امن او سوکالۍ بنسټ او تاداو جوړوی مراعات شویدی . خو له بده مرغه دغه اساسي قانون په کره برخو کې تش د کاغذ په مخ دی او په عمل کې پخوانی یو ګوندیز فکر په نوی جامه کې مخ په وړاندی بیول کېږي . په ځای ددی چې مخالفو ګوندونو ته د ډیموکراتیکو

اصولو د لاندې لکه څنګه چې په اساسي قانون کې تضمين شوی دی د هېواد په سياسي ژوند کې برخه ورکړ شي ، سياسي قدرت د ډېر ګوندونو په نمايشي بڼه کې پخپلو منځو کې بل ډول ويشل کېږي . دغه ډيموکراتيک فکر ندی او په بله جامه کې د سياسي قدرت انحصار دی.

په مخالف اړخ کې چې د قدرت انحصاری سوچ لری يو شمير ملائی ډلې دی چې د پرديو په پښو ولاړی دی.

ددغه دواړو انحصاری ځواکونو په منځ کې د افغان ولس يو پراخ ډېره کی پروت دی چې د کډوالو او ډيموکراتيکو سياسي ګوندونو څخه جوړ شوی دی . مطلب دا دی چې په افغانی صحنه کې نوی واقعيتونه منځ ته راغلی دی. نوی سياسي ډلې او ګوندونه منځ ته راغلی دی، چې ځينی يې ډيموکراتيک سوچ او ځينی يې انحصاری فکر لری . مونږ په دې عقيده يو چې افغانستان زمونږ د ټولو افغانانو ګډ کور او وطن دی، هر افغان د خپل دی وطن په سياسي ، اقتصادي ، ټولنيز و ، کولتوری او نورو چارو کې مساوی حق لری او د کوم ګوند او يا تن انحصار ندی. دغه حق يوازې د ډېر ګونديزه پارلماني ډيموکراسۍ له لاری د ډاډ وړکيدلی شی، چې په ګوندونو کنترول د افغان ولس له خوا وی.

دا ددی مانا هم لری چې د افغانستان د راتکونکی او برخه ليک پريکړه يوازې د افغان ولس نماينده لويه جرګه کولی شی او هېڅ يو بهرنی ځواک يا ګوند يې نه شي کولی.

مونږ د انحصاري فکر خاوندانو ته وايو چې د پرديو په پوځي مرسته د قدرت نيول مهم ندی، د قدرت ساتل مهم دی او قدرت هغه څوک ساتلی شی چې د خپل ولس ملاتړ ورسره وی .



که بيا هم څوک ادعا کوی چې د خپل ولس ملاتړ ورسره دی هغه به ډېر ګونديزه پارلمانی ډيموکراسۍ ته غاړه ږدی او دا به د ټاکنی د لاری په ثبوت رسوی چې د ولس ملاتړ ورسره دی.

په افغانی ټولنه کې د نوو واقعيتو منځ ته راتګ ددی نښه نښانه ده چې زاړه مناسبات ببرته مخ ته راتللی نه شی او زمونږ افغانانو څخه نوی فکر او د زاړه انحصاري فکر پريښودل غواړي.

همدغسې په نړيواله صحنه کې هم نوي واقيعتونه منځ ته راغلي دي. د شخړو د جوړولو په ځای د شخړو کمولو ته مخه شويده. دا هم د افغانستان په ربړه چې په دې منځ کې يو ملي، بل نړيوال اودريم تجارتي اړخ لري بې اغيزی نده.

د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند چې د پښتون ولس يو نماينده او د باچا خان په عنعنه ولاړ دی، په دې عقيده دی چې د نړۍ په اوسني تاريخي سياسي پړوا کې ربړې ،د افغانستان د ربړې په شمول، په پوځي توګه نه شی حل کيدلی بلکې يوازې د سوله ايزې سياسي لارې حل کيدلی شي . له دې کبله يې څو ځله د افغانستان د ربړې د حل په هکله نوښتونه د ملګرو ملتو موسُسې ،د نړۍ زيات شمير هېوادونو او پياوړو ټولنيزو سرېتوبونو ( شخصيتونو ) ته وړاندی کړی دی.

د شوروي اتحاد د عمومي مُنشی ميخائيل ګورباچوف او د افغانستان دجمهور رئيس ډاکتر نجيب الله دا وړاندينی جی افغانستان ته دی د ملګرو ملتو د موسئسی د سولې پوځونه راشی او د افغانستان په هکله دی يونړۍ وال کنفرانس جوړ شی، زمونږ د يوه نوښت چې لا په ۱۹۸۵ عيسوی کال کې مو وړاندی کړی ؤ برخې دی ،چې مونږ يې له دې کبله د زړه د

کومی هر کلی کوو.

دا چې شوروي اتحاد د خپلو پوځونو په وتلو پيل کړيدی او خپل پوځونه وکاږی نو هيله ده چې د مخالفو ډلو سره هم د امريکا ، عربو ، پاکستان ، ايران او نور هېوادونو پوځي مرسته بنده شي او د ښارنې او امن لپاره د ملګرو ملتونو د موسئسی د سولې پو ځونه افغانستان ته راشی او په دې توګه بهرنی ګوتی وهنه پای ته ورسيږي او کله چې دغه پای ته ورسيږي، نو بيا افغان ولس خپلې ربړې پخپله حلولی شی.

ددی لپاره مونږ د پېړيو راهيسې د جرګې سيستم لرو ، جرګه ليږو . جرګه کوو او خپلې ربړې په جرګه حلوو. په جرګه قامي او دولتی مشر ټاکو.

تر هغو پورې چې بله لويه جرګه نه وی شوې ،د وروستنۍ لويې جرګې پريکړې اعتبار لري. له دې کبله مونږ د افغانستان د نوی اساسي قانون چې د لويې جرګې د ارادی ښکارندوی دی، د عملي کولو غوښتنه کوو. يوازې په دې توګه د کډوالو او جلاوطن سياسي ګوندونو افغانستان ته د راتګ لپاره دننی شرايط برابر يدلی شي.

د شوروي اتحاد د بهرنيو چارو د وزير مرستيال او په افغانستان کې د شوروي اتحاد سفير ورونځوف، خو ها خوا دی خوا ډېر تونده منډې رامنډې وهي خو دده دا منډه ترړه به هله په بريالۍ توګه د افغانستان د سولې په خدمت کې شی، کله چې د ربړې بهرنی علتونه چې د مخالفو ډلو سره د امريکا ، عربو ، پاکستان ، ايران او نورو هېوادونو پوځي مرسته ده د منځه يوسی او کډوالو د بېرته راتګ لپاره بهرنی شرائط برابر کړی ،چې ځوک يې په زور سره د راستنيدو مخه نه نيسی.



په افغانستان کې د قدرت پوښتنه د افغان ولس کار دی چې د افغان ولس نماينده لوی جرګې حل کړيده . په کابل کې په واکمنو دی زور راولی چې د لوی جرګې د پريکړو چې د افغان ولس اراده تمثيلوي احترام وکړي.

مونږ په دې پوره عقيده لرو چې د افغان ولس ستر او غوڅ ډېره کې، سوله او روغه جوړه غواړي او ډېر لږ کسان دي چې د روغی جوړی مخالفت د خپلو شخصي ( ذاتي ) ګټو لپاره کوی او دوکانو نه يې خلاص کړيدی . دغه د افغانانو د وينو سوداګر د پرديو په مرسته ولاړ او خپلې پښې په افغان ولس کې نه لری . کله چې مرسته بنده شی نو ددوی به هم دغه حال نه وی . له دې کبله مونږ د ټولو سوله غوښتونکو افغاني قومي مشرانو او ګوندونو د يوې عمومي غونډې د جوړيدلو وړانديز کوو چې په افغانستان کې د وينو د بنديدلو او د کډ والو راستنيدلو په لار و چارو خبرې وکړي .بې د روغې جوړې بله لار نه شته مخکې وي او که وروسته ټول به دغې لارې ته راځي.

پښتونخوا/څلورمه ګڼه /دريم ټوک / جنوری: ۱۹۸۹

**Pakhtoonkhwa magazine**

**Jahrgang (Volume): 3 / Nummer (Number): 4 / January 1989**

# په عراق جګړه

تقریباً ټوله نړۍ عراق ته ځیر شوې ده. د امریکا متحده ایالتونه غواړي چې د عراق رژیم بدل کړي. یوه امکاني جګړه د عراق په ټولو ګاونډیو هېوادونو اغیزه لري. دغه هېوادونه ځانونه د کډوالو راتګ ته چمتو کوي. دعراق د ګاونډیو هېوادونو له ډلې څخه د بیلګې په توګه د ایران حالاتو ته لږه رڼا اچوو.

د پیټرفیلیپ له نظره ایران د عراق د جګړې په برخه کې وده په ګډوله احساساتو تعقیبوي. په رسمي توګه به تهران ځان ترې وباسي، خو دا ثابته ده چې په عراق باندې برید به په ختیځ ګاونډي هېواد هم اغیزه ولري. که د امریکا متحده ایالتونه چې عراق ورسره هیڅ اړیکي نه لري، او یا خراب اړیکي لري، یو د بل سره په جګړه بوخت شي، نو دا د تهران لپاره د خوشالۍ او رضایت علت نه دی.

د تهران د سیاسي او نړیوالو څېړنو د انستیتیوت مشر سید کاظم سجاد پور نن سبا برلین ته راغلی دی چې د بهرني سیاست لپاره د الماني ټولنې سره خبرې وکړي. دی وایې چې زه دلته خپله نظریه لرم او دنورو لپاره خبرې نه کوم. ځما په عقیده دداړو خواوو څخه فاصله نیول کېږي، دا ددې مانا لري چې



مونږ په عراقیانو نه ژاړوو هغوی باید دی چې د ملګرو ملتونو د پریکړې غوښتنې پوره کړي. د بلې خوا څخه زمونږ د امریکا ګامونه هم نه خوښیږي، دا ګامونه یو ډول عمل دی چې په سیمه کې بدلون راولي او دا داسې یو عمل دی چې نتیجې یې نا معلومه دي او کیدای شي چې تاواني وي.

ایران په دې اخرنیو اوونیو کې تکراري ددې هڅه کړې ده چې منځګړتوب وکړي او د جګړې مخه ونیسي. ددې هڅو ناکامي به ایران ته تاوان ګڼلی شي.

طبیعي خبره ده چې ایران دا هڅه کوي چې د جګړې مخه ونیول شي او دا د هغه کډوالو له خاطره هم کوي چې ایران ته د جګړې له کبله به ورځي.

پدې سړی پوهیږي چې کله یوه جګړه پیل کېږي، خو په دې نه پوهیږي چې د جګړې له امله څه پیښیږي او کوم بدلون به منځ ته راځي. نه یوازې په عراق بلکې د عراق په ګاونډیوهېوادونو کې دا اندیښنه شته، ځکه چې ډېر څه روښانه نه دي. کله چې سړی په دې ډاډه نه وي چې جګړه به څنګه روانه وي او کومې پایلې (نتیجې) به په سیمه کې ولري، نو په دې باندې خو هډوله نه پوهیږي چې د جګړې وروسته به حالات څنګه وي.

ډېر نا روښانه اړخونه شته دی، خو د امریکایانو بنسټي ګڼنه یا فرضیه داده چې دوی هر څه په دغه سیمه کې په پوځي زور سره حل کولی شي او دوی د پوځ څخه په سیمه کې د ټولنیز جوړښت د وسیلې په توګه کار اخستلی شي.

بل ډول ټولنیز سمبالښت سړی په اسانۍ سره د کاغذ پر مخ لوستلی شي، خو په واقعیت کې سړی د ربړو او ستونزو سره

میدان ته د راوتلو سره مخامخ کېږي، نو بیا نتیجه روښانه نه ده او کله نا کله غیر تولیدي ده، او هغه څه نه دي چې پلان شوي وي.

هغه لانجه چې د عراق د پوښتنې په برخه کې د امریکا د متحده ایالتونو او اروپا تر منځ پیښه شوي ده، دا هم جوته ده چې خوشبیني چېرته ده. په اکثره هېوادونو کې د اروپا په دریځ خلک پوهېږي او پرې راضي دي، بې له دې څخه چې د اروپا په دننه کې د اختلاف په باره کې څه ووايي.

دا په لومړي سر کې د امریکا د متحده ایالتونو او عراق لانجه نه ده، بلکې د امریکایانو موخه یا هدف دلته نړیوال سیستم دی. امریکایان غواړي چې اروپایي ملګرو په ګډون په هر چا امر وکړي او نه غواړي چې لودیځ خپل لاربښوونکي و ګڼي ، بلکې غواړي چې امر ورته وکړي.

د اروپا لپاره نړیوال حقوق ډېر مهم دي، همدغه شان د ملګرو ملتونو موسئسه یا تنظیم او عامه نظریه ورته هم مهمه ده ، چې نه یوازې په اسیا کې بلکې په غیرو لودیځو هېوادونو او نوره نړۍ کې د اروپا د دریځ هرکلی کېږي.

دغه راز په ۱۹۹۸ ع کال کې د عراق او یا د خلیج د کړکیچ په هکله اروپایانو په بهرني او د امن په سیاست کې په مهمو پوښتنو یو ګډ دریځ نه لرلو. کله چې امریکایان ډګر ته راغلل،نو اروپایانو جدي خبرې و نه کړې چې څنګه د اروپا اتحاد په ګډه سره دریځ ونیسي. یوازې د اروپا د جرګې مشر یاکویس سانتر د ملګرو ملتونو د مشر د هلوځلو ملاتړ کاوه چې د سوله ایز حل لپاره لاره ګوري.

د امریکا د متحده ایالتونو په مقابل کې ګډ اروپایي دریځ



یوازې د سوداګرۍ د سیاست په برخه کې نیول کیده، د کیوبا او ایران په مقابل کې د اروپا د اتحاد او د امریکا د متحده ریاستونو بیلابیل دریځونه یې بیلګه وه.

د اروپا د اتحاد ۱۵ هېوادونو په دې برخه کې یو د بل سره د نظریو توپیر لرلو. دا چې د امریکا د وسله وال ځواک سره سیده پوځي مرسته وشي او که یوازې لوژیستیکي مرسته وشي، پدې هکله په بروکسل کې د اروپا د بهرنیو چارو د وزیرانو له خواکومه پریکړه هم ونه شوه. بلکې د واشنګټن سره د دوه اړخیزه اړیکو په واسطه چې هر هېواد ورسره لرلي لاره وټاکل شوه او د اروپا د اتحاد غړیو هېوادونو مختلف دریځونه په خپل حال پاتې شول.

پاریس د عراق په مقابل کې د زور څخه کار اخستل په کلکه ردول او د امریکایانو سره یې هیڅ مرسته نه کوله. لندن په بشپړه توګه د امریکایانو ملاتړ کاوه، او پدې سره یې غوښتل چې صدام حسین د بمونو په زور سره دې ته اړ کړي چې د ملګرو ملتونو له خوا منع شوې وسلو پلټنو ته اجازه ورکړي. لندن داسې انګیرله چې په خلیج کې د دوی د جګړې په لیږل شویو بېړیو چې د انګلستان بیرغونه رپیږي، نو دا په دې مانا دي چې په عینې وخت کې د اروپا بیرغ رپیږي، خو خبره داسې نه وه، ځکه چې اروپا اتحاد یوه خوله نه ؤ.

د اروپایي اتحاد هغه هېوادونه چې د ناټو غړي ؤ، غوښتل چې د امریکا د وسله وال ځواک سره کم ناکمه لوژستیکي مرسته وکړي، مطلب یې د هوایي ډګرونو او هډو څخه د الوتکو د الوتلو او هم په خپل هوایي قلمرو باندې د الوتکو د تیریدلو اجازه وه. په اروپایي اتحاد کې د بې پلوه هېوادونو لکه

سویډن، فنلینډ، ایرلینډ او اطریش زړه هم په امریکایانو ؤ، دوی د خپل بې پلو توب سره سره دې ته په ښه سترګه کتل چې په نږدې ختیځ کې خطرناک ډیکتاتور چې خطرناکې وسلې لري، د منطقې د امن په خاطر وټکول شي، نو له دې کبله د امریکایانو سره د ملاتړ پلویان ؤ.

نو دا پوښتنه پیدا شوه چې بیلابیل هېوادونه څنګه د امریکایانو په ډډه ودریږي. داچې د امریکا د مخالف سره څوک څنګه مناسبات لري دې ته هیڅ پاملرنه ونه کړه. یوازې د ملګرو ملتونو او د هغوی پریکړو ته د مختلفو کړکیچونو په هکله ګوته ونیول شوه، په خوله ملاتړ وشو، خو په عمل کې څه ونه شول.

د لیکلو نیټه: مارچ ۲۰۰۳



# سارک SAARC

د جنوبي اسیا ټولنه چې د هند، پاکستان، بنګله دیش، بوتهان، مالیدیو، نیپال او سریلانکا څخه جوړه شوې ده د سارک **SAARC** په نامه یادیږي.

**SAARC** د سیمه ایزګډ کار لپاره لارې چارې لټوي. دا ټولنه د خپلو دوه ځواکمنو غړو هند او پاکستان د اتومي ازمایښتي چاودنو د هند د نیمې وچې په شمال ختیځ او جنوب کې په کوشنیو (کوچنیو) ګاونډي هېوادونو کې اندیښنه پیداکړې ده، ځکه چې د هند او پاکستان تر منځ هر یو اتومي ګوزار خامخا په دغه نورو هېوادونو اغیزه کوي.

ددې واقیعت اغیزې چې ددې دواړو ګاونډیو هېوادونو د وسه دا پوره ده چې په خپلو دوه اړخیزه لانجو کې یوه ورځ د اتومي وسلو څخه کار واخلي، د همالیا هېوادونه **Nepal** او **Bhutan** په ناڅاپي توګه ځان په اتومي کړیو کې بند احساسوي، ځکه چې ددې دواړو هېوادونو په شمالي پوله اتومي ځواک چین د جنوب وخوا ته توغوندي ودرولي دي.

هند خپلې اتومي ازمایښتي چاودنې د چین څخه د پیداکیدونکې خطر په بنسټ مدللې کړي وي، نو ددې دواړو هېوادونو تر منځ پراته هېوادونه دا اندیښنه لري چې د دوی تر منځ د لانجې په حالت کې به په دوی اغیزه وشي او دل به شي. په یو وار سره ټول حالت بنسټیي تغیر خوړلی دی. د اتومي ازمایښتي چاودنو څخه وروسته دا په پوښتنه کې اچول

کېږي، چې ايا ددې اوه هېوادونو هند، پاکستان، بنګله ديش، بوتهان، مالديو، نيپال او سريلانکا نور د ګډو شيانو نمايش او ټول هغه شيان چې پکې شاته غورځول شوي لکه څنګه چې تر اوسه پورې کيدلی شوه په راتلونکي کې هم کېږي او که نه.

د ۱۹۸۵ کال راهيسې چې د جنوبي اسيا دا ټولنه جوړه شوې ده، عمومي دود يې دادی چې هغه موضوع ګانې چې دوه اړخيزه لانجې پکې وي، په اجندا کې نه نيول کېږي او د خبرو اوبحث موضوع نه ګرزي.

نه پکې د هند او پاکستان تر منځ د کشمير لانجه او نه پکې د سرې لانکا په کورنۍ جګړه کې د هند په کله ناکله پوځي مداخلې، او هم دغه شان نه پکې د هند او بنګله ديش په منځ د ګنګا د سيند د اوبو د ويش او نه پکې د **Bhutan** د کډوالو له کبله د نيپال په ربړو خبرې کېږي.

د سارک د غونډې په ترڅ کې د پخلاينې د خبرو او د اختلافونو په باره کې د نظريو بدلون لپاره موقع پيدا کېږي.

د سارک اصلي موضوع ګانې د ټولې سيمې لپاره خورا مهمې دي. مطلب دلته د اقتصاد دعمومي کيدنې غوښتنې او د اسيا مالي کړکيچ دی چې اغيزه يې د هند په نيمه وچه کې حس کېږي.

په عمل کې د سارک ټول غړي هېوادونه ستونزې لري او کوشني هېوادونه لا نورې ډېرې ستونزې لري. د هند په مقابل کې بنديزونه په نيپال او بهوتان اغيزه لري، ځکه چې نيپال او بهوتان يوازې د جغرافيائی موقيعت له کبله د هند سره د سوداګرۍ تماس ته اړ دي او خپل ضروري شيان بل ځای په اسانۍ لاس ته راوستلی نه شي.

د ليکلو نېټه: جولاي ۱۹۹۸



# د استاد روهي
# " د ښېرنې لارښود"

ښېرنه د پوهنې ژوند او ساه ده. د پوهنې د ودې او پراختيا دپاره ښېرنه ضروري ده. هره پوهنه د ښېرنې ځانته بېلابېلې ميتودې (لارې، طريقې) لري.

ارواښاد استاد محمد صديق روهي پخپل کتاب "د ښېرنې لارښود" کې چې په **۱۹۷۵** عيسوي کال کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی يو شمېر د ښېرنې ميتودې (لارې يا طريقې) را په ګوته کړې دي، چې په هره يوه يې اوږدې خبرې او بحث کېدلای شي؛ خو زه يوازې ددې کتاب هغو برخو ته ځغلنده کتنه کوم او غټو ټکو ته يې ځير کېږو، چې په سا پوهنې او ټولنپوهنې پورې اړه لري.

ارواښاد استاد محمد صديق روهي د پوهنې د ودې په نښتون کې د ښېرنې د ميتودو (لارو، طريقو) بدلون او تغيير ته نظر اچوي او يو شمېر ميتودې (لارې، طريقې) (۱) په نښه کوي، چې د پوهنې په درشل کې دي او بيا د ساينسي پوهنو او فلسفې په توپير ګرېږي او وايي، چې "فلسفې ته ځينې خلك د علومو مور وايي؛ ځکه چې ټول علمونه د فلسفې په غېږه کې

روزل کېږده. وروسته دا سې موقع په لاس راغله، چې اولادونه يې يو په يو خپلواك شول، لېکن د خپلې مور سره يې د يوې مخې رابطه نده شکولې. د فيلسوفانو په نظر د ژوندانه مهم شيان؛ کله هدفونه او ارزښتونه د ساينس له خوا تر څېړنې لاندې نه شي نيول کېدلی. فلسفه د شيانو په مبداء، هدف، ارزښت، حقيقت او انجام باندې خبرې کوي" (روهي، ١۴ مخ).

همدا شان د علت په پوښتنه هم استاد روهي رڼا اچوي او ليکي، چې: "د علمي ميتود پيروان؛ لکه څنګه، چې د ارزښت او هدف مسئله فيلسوفانو ته پرېږدي په علت پسې هم نه ګرځي يوازې د حوادثو تر منځ رابطه څېړي" (٢١ مخ).

د فلسفې او پوهنې د توپير څخه وروسته استاد محمد صديق روهي د څېړنې اهميت او کړنلاره او هم د اندازه کولو د نظريې بنسټونه انځوروي او د څېړنې ميتودونو (طريقو يا لارو) ته اوړي او په درې ډوله ميتودونو (لارو يا طريقو) رڼا اچوي

د تاريخ څېړنې ميتود، سروې **(Survey)** او تجربه. استاد روهي د پوهنيزې او شخصي تجربې تر منځ توپير کوي او ليکي، چې: "علمي تجربه تر کنترول شوو شرايطو لاندې يو سيستماتيك پلان شوی کوشش دی.شخصي تجربه غالباً په يو نيمګړې تصادف او بې کنترولـه ليدنو کتنو باندې ولاړه ده (روهي، ٨ مخ).

استاد روهي د مولی **(Mouly)** په حواله سره ليکي، چې: "علمي ميتود څو مرحلې تعقيبوي، چې د دغو مرحلو ارقامونو تشخص له يوه ليکوال نه تر بل ليکوال پورې توپير لري؛ مګر عمومي نمونه يې په دې ډول ده : "يوه پېښه ليدل کېږي، يوه پوښتنه او پرابلم منځته راځي، چې توضيح او څرګندتيا ته اړه



لري، يو څه روابط په تجربوي توګه احساس کېږي، ورپسې يوه فرضيه **(Hypothesis)** منځته راځي. ددغې فرضيې د صحت د معلوملو لپاره يوه نقشه جوړېږي. فرضيه يا ثبات ته رسېږي او يا ردېږي. په نتيجه باندې نورې ازمويني هم کېږي. په وروستۍ مرحله کې نتيجه د ساينس له پخوانيو مفهومونو سره يو ځای کېږي". (روهي، ۴۴ مخ).

دا مطلب غواړم، چې د خپلې څېړنې په يوې بېلګې (مثال) سره، چې د هوښيارتيا **(Intelligence)** او د ښوونځي د نومره د اړيکو په باره کې په کونړ ولايت (صوبه) کې په ښوونځيو کې سر ته رسېدلې ده روښانه کړم.

د هوښيارتيا او د ښوونځي نومرې :

په اروپايي هېوادونو کې په زيات شمېر څېړنو کې په ثبوت رسېدلې وه، چې د هوښيارتيا او د ښوونځي د نومرو په منځ کې څه ناڅه په سلو کې ٧٠ دوه اړخيزه مثبت اړيکې **(Koraelation)** شته دی. ياني په سلو کې ٧٠ هغه زده کوونکي، چې هوښيار دي په ښوونځي کې ښې نومرې هم لري. ددې واقعيت له مخې زما لپاره د علاقې وړ وه، چې آيا دا ډول اړيکې په افغانستان کې هم د ښوونځي د نومرو او د هوښيارتيا په منځ کې شته؟

نو په څېړنه په دې ډول پيل وشو :

پوښتنه : آيا په افغانستان کې هم هوښيار زده کوونکي ښې نومرې په ښوونځي کې لري.

فرضيه (ګمنه) : د ښوونځي د نومرو او د هوښيارتيا په منځ کې دوه اړخيزه مثبت اړيکي شته دي؟

پلان : د دوه سوو زده کوونکو څخه د هوښيارتيا ازموينه

واخيستل شوه او هيله ترې وشوه، چې د تېر کال د نومرو مجموعه وليکئ، د نومرو د مجموعې کنترول د ښوونکو په مرسته سره وشو.

نتيجه: د هوښيارتيا او د ښوونځي د نومرو تر منځ هيڅ دوه اړخيزه مثبت اړيکي نه وو.

د نتيجو تعبير يا مانا: په کونړ کې د ښوونځي نومرې د لياقت په بنسټ نه ورکول کېدلې؛ بلکې واسطې او يا رشوت پکې رول لرلو. له دې کبله د ښوونځي د نومرو او هوښيارتيا (ذکا) تر منځ اړيکي ناسوب دي.

د څېړنې لارښود پوهنيزه ازښتنه: پوهنيزې ليکنې يا د پوهنيزو کتابونو په لوست او يا پخپلو پوهنيزو څېړنو او يا په دوارو ولاړ وي د څېړنې لارښود دا لومړی ډول ليکنه ده.

په دې پوهنيزو ليکنو کې، چې په تېره بيا د بهرنيو ژبو د پوهنيزو کتابونو څخه پکې ګټه اخيستل شوې وي د ژبې او ژباړې ربړې او ستونزې کره رول لوبوي؛ ځکه چې ژبه د انساني ټولنې او په دې توګه د پوهنې د ودې او پرمختګ بنسټ جوړوي. ژبه نه يوازې د پوهېدلو او پوهولو آله ده؛ بلکې د فکر يوه بڼه هم ده. بې له ژبې څخه فکر منځته راتللی او وده کولی نه شي. کله چې د يوې ژبې پوهنيز متن د بلې ژبې په پوهنيز متن اړول کېږي؛ نو پکار ده، چې دا د مانا او مفهوم له پلوه وي او ميخانيکي نه وي. په پوهنيزو ليکنو کې دا منل شوي اصول دي، چې د پردۍ ژبې لغات هغه وخت په ليکنه کې استعمالېږي، چې پخپله ژبه کې مناسب لغات نه وي. سربېره پر دې په پوهنيزو ليکنو کې د ځانګړي ليکدود په واسطه په نښه کېږي، چې کومه خبره د ليکوال خپله ده او کومه يې د بل چا



څخه اخيستې ده. همدا خبره د ژباړې دپاره اعتبار لري. تړلې او آزاده ژباړه دواړه په نښه کېږي.

استاد روهي د څېړنې لارښود **۳۱** کاله دمخه د هغه وخت د ژبې په پرتله يې په ساده، روانه او سوچه پښتو ليکلی دی، چې تر نن ورځې پورې يې خپل ارزښت د لاسه نه دی ورکړی. د څېړنې لارښود به دده ياد په پوهنيزو کړيو کې تر ډېره حده ژوندی او تازه ساتي.

**سپارښت**: دا چې د څېړنې لارښود يو داسې کتاب دی، چې د څېړنې بنسټي ميتودي (لارې يا طريقې) پکې په سمه توګه راغونډې شوې دي؛ نو هيله ده، چې دا کتاب د پوهنې په خدمت کې د هېواد په پوهنتونونو کې د پوهېدونکو د زده کړې د کتابونو په لست کې ونيول شي (۱ (لکه د سليم عقل، د شخصي تجربې او داسې نورې.

(دا ليکنه په ۱۳، مې، ۲۰۰۲ع کال د جرمنې په مونشن ګلډ بخ ښار کې د ارواښاد استاد محمد صديق روهي د لسم تلين په علمي غونډه کې هم واورول شوه)

# دخوشحال خـان سـړیتوب
# د ساپوهنې په رڼا کې

خوشـحال خـان یـوه سـتره معنـوي شـتمني ده د ګڼ شـمېر پوهنـو د څېړنـې پـه زړه پـورې موضـوع جـوړوی او هـره پوهنـه پخپلـو ځـانګړو لارو ددی شـتمنۍ د مختلفـو اړخونـو څخـه ملغـرې راوباسـي مـونږ ددی شـتمنۍ انګړ تـه د سـاپوهنې پـه لارو ( طریقـو میتـودو ) ورننوځـو او ددې هڅـه کـوو چـې د خوشـحال خـان د سـړیتوب ځینـې لړونـه راوسپړو . د هـر انسـان سـړیتوب د هغـه ټـولنې د اغیـزې د لانـدې پـه کومـه کـې چـې پیـدا شـوی وی وده کـوی د خوشـحال خـان د ژونـد ډیـوه پـه پښـتونخوا کـې بلـه شـوی ده، له دی کبله پښتنې ټولنې ته لنډ نظر اچول ضروری دی.

پښـتنه ټولنـه یـو مـوړ او بډای کولتـور لـری چـې پښـتونولي نـومیږی د پښـتو نـولی بنسـټ د اولسـی جرګـو پـه یـوه ډیموکراتیـک ( جمهـوری ) سیسـتم ولاړ دی دا جرګـې یـو د بـل څخـه ناپیلې او غیـری مرکـزی بڼـه لـري پـه جرګـه کـې لکـه د سـټیټ پـه شـان اجرایـه ، مقننـه او عدلیـه قـوه راټولـه شـوی او خپلـې پریکـړې د رایـو پـه توافـق سره کـوی . او د رایـو پـه ډیـره کـې سره یـې نـه کـوی . دا ددې مانـا لـري چـې پښـتنو کـې د هـر تـن رائـی تـه ارزښـت ورکـول کېـږي او ځـانګړتوب ( انفرادیـت ) مهـم رول لوبـوي او د بلې خوا د پښتنو ژوند ټولنیز او ډله ایز دی.



د پښـتنو کـورنۍ د لویـدیز د کورنیـو پـه بـر خـلاف غټـې او څـو کولـه یـا ( نسـله ) دی کـورنۍ د خیلونـو ، خیلونـه د قبیلـو او قبیلـې د قـام سـره تـړون لـري، لـه دې کبلـه د پښـتون پیژنـد ( تشـخص ) پوړیز دی.

کـه څـوک وواییـ چې زه مومنـد یـا اپریـدی یـم نـو هـر څـوک پـه دی پـوهیږی چـې پښـتون دی یـانې د خیـل یـا قبلـې نـه پـه پیژنـد (تشـخص ) کـې د قـام پیژنـد پـروت دی همدغسـې پښـتو د یـوې خـوا د پښـتنو ژبـه او د بـل خـو ایـې بنسـتی قـانون دی چـې د یـو شـمیر نرخونـو یـا دودونـو چـې هـر پښـتون یـې پابنـد دی او ارزښـتونو یـا صـفتونو څخـه چـې هـر پښـتون بایـده دی چـې ولـری جـوړ شـوی دی د ځینـو ارزښـتونو یـا صـفتونو لـومړنی تـوری یـې پـه هغـه تـورو پیـل کیـږی چـې د پښـتو او پښـتون پـه لفظونـو کـې شـته لکـه پـت ، ښـیګړه ، تـوره ،وفـا او ننـګ. د پښـتو د ارزښـتونو یـا صـفتونو پولـه یـوازې پـه دی تنګـه نـه ده بلکـې دا ارزښـتونه زیـات دی خـو دا ارزښـتونه زر یـاد تـه راځـی کلـه چـې سـړی د پښـتو یـا پښـتون د لفـظ سـره مخـامخ شـی میـا سـید رسـول رسـا پـه دی نښـتون کـې لیکـی چـې پښـتو پښـتانه خپلـې ژبـې تـه وایـي او پښـتو پښـتانه خپـل ملي سیرت تـه وایـي د دنیـا پـه هـیڅ قـوم کـې ملي ژبـه د ملي سـیرت پـه مانـا کـې نـه اسـتعمالیږی دا امتیـازي خصوصـیت صـرف د پښـتو پـه کلمـه کـې دی یعنـې فارسـیوان دا نـه وایـي چـې تـا کـې فارسـی شـته یـا نشـته یـا عـرب دانـه وایـي چـې تـا کـې عربـی شـته یـا نشـته انګریـزان دا نـه وایـي چـې تـا کـې انګریـزی شـته یـا نشـته خـو صـرف پښـتانه وایـي چـې تـا کـې پښـتو شـته یـا نشـته. پـه لنډو تـورو سـره پښـتو د پښـتنو قـامي قـانون (آئـین ) یـا ژونـد دود (ضـابطه حیـات ) دی پښـتو د ژبـې پـه توګـه هـم زمـونږ د یـوې څېړنـې

له مخې بې سارې توانمنه ده .

د پښتو ژبې د غږونو تورو شمیر چې د ژبې د توان (ظرفیت) نښه ده حتا د نړیوالو پر مختلفو ژبو لکه انګلیسی او المانی په پرتله زیات دی که څه هم تراوسه پورې د پښتو ژبې ټولو ګړونو ته توری نه دی نیول شوی خو دغه تورو شمیر چې اوس د پښتو په عربی لیک دود پکارول کېږي شپږ څلویښت ته رسیږی او د پښتو په پخوانی میخی لیک اووه دیرش توری تر اوسه معلوم شویدی.

حال دا چې د انګلیسی ژبې د تورو شمیر شپږ ویشت او د جرمنی (المانی) ژبې د تورو شمیر دیرش دی په دې حساب پښتو د ژبې په توګه د انګلیسي جرمني ژبو څخه زیات توان (ظرفیت) لری یانې دودې زیات قابلیت لری خو کار ورته نه دی شوی او دوییو (لغاتونو) او نومونو ټولګه یې د انګلیسي او جرمني ژبو په پرتله ډېره کمه ده . ژبه نه یوازې د قامي پېژند نښه ده بلکې د ټول ساوال (نفسي ، روحي) ژوند سره ټینګه تړلی او د ساوال ژوند په وده کې کره برخه لری او هم د ساوال ژوند جوړښت او وده په ژبه پوره اغیزه لری او د ژبې ځرنګوالی ټاکی ژبه او ساوال ژوند یو له بل سره دوه اړخیزه اړیکې لري او یو له بل څخه بیلدلی نه شي خپله سوچ (اند یا فکر) د ژبې یوه بڼه او څهره ده. د ژبې په ډډ او وده سړی سم پوهیدلی نه شي که یې د نورو ساوالو (نفسي ، روحي) پېښو او ځواکونو څخه په ناپیيلی توګه د اشارویو سیستم وګڼي او یا یې د ګوښی او ځانګړي توان نښه لکه د پوهیدلو او پوهلو (مفاهمې) اله ګڼلې.

که پورتنی متن راغونډ کړو په پښتني ټولنه کې ځانګړتوب



او ډله ایز توب تر منځ ازادی او تړون شته او هم پښتو د پښتنو ژبه او قانون دی . په ساپوهنه کې د انسان د سړیتوب (شخصیت) د لړونو د معلومولو لپاره مختلفې تلې اولارې شته مونږ د رول د راسپړیدلو په لاره د خوشحال خان د سړیتوب لړونه په ګوته کوو . په پښتني ټولنه کې د یو تن مقام د پښتو متې ،مال او پوهې (تجربه هوښیارتیا او علمیت) له مخې ټاکل کېږي. مشر ته درناوي په پښتني ټولنه کې په همدې اصول یانې پوهې په بنسټ دی چې تجربه به یې زیاته وی . ددې څلورو توکونو (عناصرو) اندازه او ترکیب په پښتني ټولنه کې د انساني رول او مقام راپه ګوته کوي چې د سړیتوب هنداره ده هر څومره چې سړیتوب کې پښتو زیاته وی هغومره قامي سړیتوب دی . خوشحال خان د پښتو ژبې وتلی شاعر دی او د شعر تومنه (خمیره) په لاشعور کې د سرته نارسیدلو هیلو څخه جوړیږی چې د تخیل سوچ او احساستو په مرسته سره د الفاظو په تنظیم شوی رنګ کې ټولنې ته وړاندې کېږي لاشعور د سړیتوب یا شخصیت خوځونکی قوه ده ، هر شاعر په خپل شعر کې د ګل یا بلبل نندار چې او یا د یوې ډلې قبیلی قام او یا کومې نظریې د نمائنده په توګه رول لوبوی هر شعر ځانته موضوع لری چې دا موضوع خاصه یا عامه کیدلی شی او کوم شعرونه چې موضوع نه لری نو هاغه شعر د شعر لپاره دی او پخپله موضوع ده . مونږ د خوشحال خان رول د هغه په یو شمیر شعرونو کې را په ګوته کوو . خوشحال خان وایي:

زه خوشحال د شهباز خان یم
چې تورزن یم کان په کان
شهباز خان د یحیی خان ؤ

چې بل نه ؤ هسې ځوان
يحيى خان د اکوړي ؤ
چې په توره شو سلطان
د هجرت زر دوه ويشت سن ؤ
چې زه راغلم په جهان
هغه کال پوره پنځوس ؤ
چې شهيد شو شهباز خان
د هغه دور باچا ؤ
قدردانه شاه جهان
د پلار ځای يې ماته راکړ
په اولس شوم حکمران
که د توري که د ورکړې
هيڅ مې پرې نه ښود ارمان
لکه خرڅ مې د بابا ؤ
زما لاو دوچند ان
واړه ديرش زره ختک دي
درست زما ؤ په قربان
درست ختک زما په دور
نامور شو په دوران

او په بل ځای کې وايي:

زه د يوسفزي په ځان زهروم قاتل
بل مقصد مې نه ؤ په خدمت کې دمل

په دې بيتونو کې خوشحال خان د ختکو د قبيلې د مشر رول لوبوي چې د پلار نيکه نه ورته ميراث پاتې دی او د مغلو د باچا شاه جهان سره د خپلې کورنۍ او ځان اړيکې راښيي او



وايي چې دا اړيکې ددې د پاره وې چې يوسفزو ته زه زهر قاتل وم. د خوشحال خان اړيکې بيا د مغلو سره خرابيږي د مغلو له خوا بندي کېږي او د بند څخه وروسته د مغلو د منصب نه لاس اخلي او وايي:

د مغل منصب مې پرېښود هسې خوښ
لکه خلاص له لويه بنده بنديوان
ازادي تر باچاهيه لا تېرې که
چې د بل د حکم لاندې شي زندان شي

بيا د قام د مشر په رول کې ډګر ته راځي او وايي:

درست پښتون د کندهاره تر اټکه
سره يو د ننګ په کار پټ او اشکار

په بل شعر کې وايي:

هره چار د پښتانه تر مغل ښه ده
اتفاق ورڅخه نشته ډېر ارمان
د بهلول او د شير شاه خبرې اورم
چې په هند کې پښتانه ؤ باچاهان
شپږ اوه پيړۍ يې هسې بادشاهي وه
چې په دوی پورې درست خلق ؤ حيران
که توفيق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

په دې شعر کې خوشحال خان پښتانه او مغل سره پرتله کوي د پښتنو هر کار د مغل نه ښه ګڼي او د پښتنو د لودي او سوري قبيلو باچاهانو ته ګوته نيسي، چې په هند يې ډېره موده حکومت کړی يعنې پښتون قام خو لا څه کوي چې قبيلې يې د حکومت کولو جوګه دي.

د خوشحال خان په وخت کې قبیلوي سوچ او احساس پله که څه هم د قامي سوچ تصور پکې پروت ؤ خپله د قامي سوچ او احساس د پلی څخه درنه وه. خوشحال خان قامي سوچ ته پاملرنه وکړه او پښتو یې د مټ یانې قبیلې او مال څخه مخکې کړه او په دی توګه یې د ټول پښتون یا قامي وحدت نظریې ته ژوند وبخښلو او د قامي سوچ او احساس پله یې د قبیلوی سوچ او احساس څخه درنه کړه.

لکه د پورتنیو شعرونو په شاه خوشحال خان پخپلو نورو شعرونو کې هم د قامي مشر په رول کې د پښتني ټولنې نیمګړتیا او بې اتفاقی راپه ګوته کوی او د بې اتفاقی د منځه وړلو د پاره د پښتنو په ارزښتونو ټینګار کوی او وایي:

سر دې درومي مال دې درومی پت دې نه ځي
د سړي د چارې کل خوبي په پت ده

د خوشحال خان دا پورتنی شعر په عملي تجربو ولاړ دی او د پښتني ټولنې حقیقی تصویر دی پښتانه تل په خپل ټوپک ویشتل شوی. پښتانه پردو نه دی ټکولی بلکې د پښتو څخه پردی شوی پښتون ټکولی دی او یا هغه پښتون چې د پښتو یا پت څخه چې د پښتو برخه ده مال ته یې امتیاز ورکړی او د مال له خاطره د پردو غیر ته تللی دی د خوشحال خان نیرغ په دې کې پروت دی چې د خپلې کورنۍ او قبیلې د اغیزې څخه یې ځان خلاص کړو او د ټول پښتون سوچ یې خپل کړو او قامي ګټې یې د وخت د سوچ او اند په برخلاف د قبیلې ، خیل او کورنۍ د ګټو څخه درنې کړی.

پښتون کول یې د پښتو ویلو او لیکلو سره یو ځای مخ په وړاندی بوتله، له دی کبله د توري چې د پښتو کولو پورې اړه



لری او قلم خاوندګڼل کېږي چې د پښتو ویلو او لیکلو پورې اړه لری چې د یوه بشپړ پښتون نښه ده د خوشحال خان پوهه هم بې ساري ده . فلسفي ، اخلاقي ، دیني، تاریخي ، ادبي او سیاسي مطالب یې پخپلو شعرونو کې رانغښتي دي او په هر برخه کې خوشحال خان د سرېتوب د ودې په جګ پړاو کې د خپلې پوهې رڼا کې پښتو ته د مال او پت څخه اوچت ځای ورکړی دی له دی کبله ورته د پښتون د قامي وحدت د نظریې پلار وئیلی شو. لنډه دا چې خوشحال خان یو ډېر اړخیزه سړیتوب دی چې د پوهې پلوشې یې نه یوازې پښتونخوا بلکې نړۍ هم روښانوي دا ډول سړیتوبونه د خپلې لوړې معنوي شتمنۍ له کبله ابدي ژوند وي.

د خوشحال خان وروسته د باچا خان د سولې فلسفې د پښتون قامي وحدت ته ژوند وروبخښلو . په اوسني وخت کې قامي سوچ او احساس په پښتنو کې ژوندی شوی دی د پښتون/ افغان قامي جرګه کې چې د ننګیالي مشر خان لالا محمد افضل خان په زیار سره د پښتونخوا په پېښور کې د دوه زرم کال په څوارلسم او پنځلسم نومبر جوړه شوی وه ټول پښتانه قامي مشران د پښتنو په نوي تاریخ کې د لومړي ځل لپاره په یو ټغر راټول شو او دا احساس یې د مینځه یوړو چې پښتانه اتفاق کولی نه شي. دې جرګې د پښتون د قامي وحدت پریکړه وکړه او د یو شمیر غوښتنو سربیره یې دا قرارداد پاس کړو چې «پښتون یو غاصیب ویشلی دی د غاصب عمل قانوني حیثیت نه لری قامي یووالی د پښتون / افغان قوم حق دی دا چې کله او څنګه به حاصلیږي، وخت به خپله ددې حل رواکاږي. د پښتون /افغان قامي وحدت د هیچا په ضد نه دی، دا د یو تاریخي

حقيقت پېژندل او په سيمه کې د امن د پاره ضروري دی ».

اوس نو دا د هر پښتون دنده او ذمه واري ده چې د پښتون / افغان قومي جرګې ددې پريکړې د عملي کولو د پاره د خپل وس سره سم هلې ځلې وکړي.

### اخستونځي:

ميا سيد رسول رسا په « ارمغان خوشحال » کې يونيورستي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور ،

ظريف پوهاند ډاکتر ګل جانان « پښتو ميخمري ډيبونه دوه زره پنځه سوه کاله پخوا » چاپ رحمت پر ينټنګ پريس پېښور نولس سوه څلور نويم کال،

کبير ستوري « ژبسا پوهنه » خپرونکي د پښتونخوا د پوهنې ديره ، پېښور نومبر دوه زره

وحدت ورځپاڼه / وحدت : ۲۴ جون ۲۰۰۱

**Daily Newspaper "The daily Wahdat" / 24th June 2001**



# "رښتين " او پښتو

# د ساپوهنې په رڼا کې

دلوی، مهربان او بخښونکي خدای پاک په نامه.

ددې سرليک څخه مطلب دا دی، چې د رښتين او پښتو اړيکي په پوهنيز ډول څېړل کېږي. د پوهنې ډېر تعريفونه شته دی، چې دلته نه راجمع کېږي او د ساپوهنې د جرمني پوهاند تراکسل TRAXEL تعريف بنسټ ګرځول کېږي، چې وايي:
((پوهنه د څېړنلارې (ميتودې) پواسطه په لاس راغلي معلومات دی))

هره پوهنه ځانته څېړنلارې لري د څېړنلارو په بنسټ مختلفې پوهنې يو د بل څخه بېليږي. پدې ليکنه کې دا خبره څېړل کېږي، چې پوهاند رښتين نه يوازې د ليکوال په توګه بلکې د دندې په توګه د پښتو سره اړيکي لرل. دلته د ادب د ساپوهنې د څېړنلارې يا ميتود څخه کار اخيستل کېږي، چې د يوه ليکوال د ليکنو له مخې د هغه سړيتوب يا شخصيت انځوروي او بر خلاف د سړيتوب څخه يې د ليکنو اندازه لګولی شي. له دې کبله د رښتين روزنې او ژوند ته ځغلند نظر اچول کېږي، چې د سړيتوب د پېژند په برخه کې د معلوماتو غوره چينه ده.

**پېژندګلوي**: پوهاند صديق الله رښتين د مولانا تاج محمد خان ځوی دی، چې په مهتمم مشهور و او په هډ پښتون د سليمان خېلو د پرګنې پورې اړه لري. پوهاند صديق الله رښتين په **۱۹۱۹**ع کال کې د مومندو په غازي اباد (سور کمر) کې زېږېدلی دی او لومړنۍ زده کړه يې د مولانا فضل الربي او مولانا ابراهيم کاموي او مولانا غلام نبي خان څخه کړېده. **۱۹۳۲**ع کال کې د هډې صاحب دارالعلوم نجم المدارس کې په زده کړه پيل وکړ بيا په **۱۹۳۲** کال د کابل په عربي دارالعلوم کې شامل شو او هغه يې په پښتو ټولنه کې عالی درجه سرته ورساوه، او په **۱۹۳۹** کال يې په پښتو ټولنه کې په کار پيل وکړ او په **۱۹۴۱** کال د پښتو د قواعدو عمومي مدير شو، چې دوړانګي په نامه مجله يې خپروله او د څه وخت دپاره يې د ځيري جريده او د ورمې مجله هم چلوله. په **۱۹۵۵** کال کې د پښتو ټولنې رييس شو. په **۱۹۵۶** کال کې د پوهنې د وازرت سلاکار او د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي استاد و. په **۱۹۶۱** کال کې د کابل د پوهنتون له خوا د پوهاند درجه ورکړی شوه. په **۱۹۶۳**ع کال بيا د پښتو ټولنې رييس شو او **۱۹۷۳**ع کال پورې ددې ټولنې رييس و، بيا تقاوت شو.

د اروابناد پوهاند صديق الله رښتين دا لنډه پېژندګلوي مونږ ته نه يوازې دا راپه ګوته کوي، چې د پښتو ټولنې د مشر په توګه ده ته د پښتو د خدمت دنده ورپه غاړه شوې وه او د پښتو سره يې ددندې له پلوه اړيکې لرلې بلکې دده لوړ استعداد هم راپه ګوته کېږي، چې د مدرسې او ملايئ روزنې سره سره يې ځان د پښتو ژبې د پوهاند درجې ته رسولی دی.

دا، چې اروابناد پوهاند رښتين د خپل استعداد او هغه



وسايلو سره، چې د پښتو ټولنې د مشر په توګه يې په لاس کې لرل، د پښتو حق يې څومره ادا کړی دی، په دې برخه کې قضاوت د پښتو نورو مينوالو او پوهانو ته پرېږدم او د پوهاند صديق الله رښتين پښتنې لارښوونې نومې کتاب، چې د پېښور د يونيورسټۍ بك ايجنسۍ له خوا د دوهم ځل دپاره په **۱۹۸۲**ع کال کې چاپ شويدی لنډ نظر اچوم.

اروابناد پوهاند رښتين د دې کتاب په لومړي برخه پښتنې خويونه او په دوهمه برخه کې پښتنې دودونه او په دريمه برخه کې پښتنې لارې چارې راپه ګوته کړيدي. د لومړي برخې په پيل کې ليکي، چې: يوې برخې کې هغه ټول خويونه او صفتونه راځي، چې په ټولو پښتنو کې يو شان لمانځل کېږي او هر څوك ورته په درانه نظر ګوري. دا خويونه د پښتون د کليمې د هر توري يوه ښکاره مانا او تفسير هم ګڼل کېدلی شي.

پت او عزت: تر ټولو درون او سپېڅلی خوی پت او عزت يا په بله ژبه پت پالل او عزت ساتل دي. د پښتو پاخه شاعران او استاذان پت او عزت پدې ډول ستايي:

خوشال ختك وايي:

سر دې لاړ شي مال دې لاړ شي پت دې نه ځي<br>
د انسان خو بې همه واړه په پت ده

حميد مومند وايي:

پروت په وينو کې لت پت ښه يم په پت کې<br>
نه د سرو زرو په تخت باندې بې پته

رحمان بابا وايي:

مړ بهتر ښه دی تر هغه چې بې پت وي<br>
په ياري کې دې څوك نه کا خدای بې پته

پښتون په هر حال کې، غریب وي او که شتمن، خو د پت او عزت ټینګ ملګري دي. بیا پوهاند رښتین پښتنې ښه خویونه او یا صفتونه لکه: (ښېګڼه او نیکي وفا او وعده، توره او مېړانه، ننګ او غیرت، رښتیا او صداقت، زړوتیا او همت، انصاف او عدالت، شرم او حیا، ښه ځواني او سخي توب! امانت ساتل او سلا مشوره) راپه ګوته کوي او د پښتو د منل شوو شاعرانو او مشرانو ویناګانې ورته د دلیل په توګه وړاندې کوي. دا واقعیت، چې خپله پوهاند رښتین هم د پښتنو زیات صفتونه را په ګوته کړي نسبت د پښتون د کلمې تورو ته دده ددې خبرې سره، چې وایي: پښتنې خویونه او د پښتون د کلیمې د هر توري یوه ښکاره مانا او تعبیر هم ګڼل کېدلی شي. (پښتنې لاربنود ۷ مخ) په تضاد کې ښکاري.

دا خبره تر هغو، چې تاریخي مدلله شوې نه وي، چې د پښتون د کلیمې توری د پښتو د صفتونو لنډیز دی پوهنیز مقام نلري، خو د روزنې د سا پوهنې EDUCATION PSYCHOLOGY د پیوستون ASSOCIATION د برخې او سمت قانون له مخې، چې وایي: چې کله، چې د یوه ټول یا سمت برخه را یاده شي، نو ټول یا سمت را په یادېږي. کېدای شي، چې دا توری د پښتنو د هغه صفتونو د رایادېدو سبب وګرځي، چې دا توری پکې راځي او برخه یې ده. زما دا لاندې شعر هم پدې ډول منځ ته راغلی دی، چې سړي ته دا احساس پیدا کوي، چې ګني د پښتو د کلیمې د هر توري تعبیر او مانا ده، خو کله، چې زما نور شعرونه څوك ولولي، چې د پښتو نور صفتونه پکې راغلي دي، نو بیا یې دا احساس له منځه ځي. ښکاره خبره ده، چې پښتو دلته د ټولو صفتونو په بنسټ نه



بلکې د یوڅو صفتونو په بنسټ تعریف شوی دی.

لوی پښتون شې

تش خیال ندی مادې چېرته اوریدلي
پښتنې مور ځوی ته داسې ویلي

پښتو ویل، پښتو لوستل، پښتو لیکل به کوي
زما بچیه لوی پښتون شې پښتو تل به کوي

پښتو د پت، ښېګړې، توري او ورورۍ نوم دی
په پت کې ژوند په پت کې ناسته ودرېدل به کوي

ښېګړه ژوند د پښتنو کې ټولنیز قانون دی
ښېګړه هرچېرې بې تمې بې بدل به کوي

په توره یا د مونږ پښتانه د ډېر پخوا نه یو
توره به نن، توره سبا توره هر ځل به کوي

وروري د ځواك او د ژوندون د سوکالۍ نښه ده
وروري کول، وروي، پالل، وروري ساتل به کوي

چې پښتونخوا ته پسرلی د پښتونوالي راوړي
په زړه کې ساته پام دستوري په غزل به کوي

پوهاند رښتین د پښتنې لاربنود په سریزه کې دا هم وایي، چې:

پښتو له یوې خوا د پښتون لاس د ژبې نوم دی، نو د بلې خوا د پت او عزت، ښېګڼې او ښه خوی، توري او مېړانې، ننګ او غیرت، وفا او حیا نوم هم دي. پښتو، پښتو، نو له پښتونواله

دا ټولې کلیمې په یوه مطلب دلالت کوي (د پښتنې لارښود مخ ۳_۴)).

د ساپوهنې د اصولونو له مخې دا خبره سړی تاییدولی شي، چې پښتو یوازې د پښتنو ژبه نده بلکې د یو لړ صفتونو مجموعه ده، چې پوله یې د پښتون د کلیمې د تورو په شمېر تنګه نده او زیات دي. هر پښتون که موړ او که غریب وي دا صفتونه لري د پښتو بابا خوشال خان ختك هم دا خبره تاییدوي، چې وایي:

درست پښتون له قندهار تر اټکه
سره یو دننګ پـکار پټ او اشکار

مونږ وینو، چې پښتو ویل او پښتو کول سره توپیر لري پښتو د پښتنو ژبه ده، چې یوازې د پوهېدلو یا پوهولو وسیله نده بلکې سوچ هم د ژبې یوه بېه ده، بې د ژبې څخه سوچ وده کولی نه شي.

پښتو د یو شمېر صفتونو مجموعه ده، چې پښتانه یې لري او یا یې پښتو د صفتونو د مجموعې په توګه د پښتونولی هم ذاتي برخه ده لکه څنګه، چې دودونه، نرخونه، لارې چارې، پېغور او بدل برخه ده. پښتونولي د جرګو یو اولسي سیستم (نظام) دی، چې ډیموکراتیك (جمهوري) خوی لري. له دې کبله پښتو او پښتونولي بېل بېل مفهوم افاده کوي او په یوه مطلب دلالت نه کوي.

د اروابناد پوهاند رښتین د پښتنې لارښود د کتاب نورې دوه برخې پښتنې دودونه او پښتنې لارې چارې هم په زړه پورې مطالب لري، چې په تیره بیا د ټولنیزې ساپوهنې او حقوقي ساپوهنې د څېړنې موضوع ګرزېدلی شي، چې مونږ یې بل وخت



ته پرېږدو.

لنډه دا، چې پوهاند رښتین په پښتنې لارښود سره پښتون اولس ته یوه داسې شتمني پرېښودلې ده، چې د یوې خوا د پښتونولي جرړې خوندي ساتي او د بلې خوا پدې ډګر کې د پوهنیزو څېړنو بنسټ ګرزېدلی شي، چې د پښتو سره د رښتین نه یوازې د دندې په توګه بلکې د لیکوالۍ په توګه د اړیکو نښه ده.

روح دې ښاد وي

یادونه: دا مضمون څوکاله وړاندې په هغه سمینار کې، چې د پښتنو کلتوري ټولنې- جرمني له خوا جوړ شوی و، ویل شوی دی

# د

# هورک هایمر د ټولنې انتقادي نظریه

الماني فیلسوف **Max Horkheimer** چې د ۱۹۷۳ عیسوي کال د جولای د میاشتې په اوومه نیټه په **Nürnberg** کې وفات شو، په شلمو او دیرشمو کلونو کې د ټولنې انتقادي نظریه منځ ته راوړه، چې په شپیتمو کلونو کې یې د لودیځې نړۍ د پوهیدونکو (محصلینو) په غورځنګ ډېره اغېزه لرله.

په وروستیو کلونو کې د فرانکفورت ښوونځی چې د هورک هایمر په نوښت سره چې **Theodor W. Adorno, Herbert Marcuse** او **Erich Fromm** یې غړي ؤ هم منځ ته راغلی ؤ. دده دواړه کتابونه چې یو یې د «څرګندونې ډیالیکتیک» او بل یې د «وسیلوي پوهې انتقاد» نومېږي او د **Adorno** سره یې په ګډه لیکلي دي، زمونږ د وخت د ټولنیزو پوهنو د څېړنې تر ټولو غوره کتابونه دي.

د هورک هایمر لپاره په انتقادي نظریه کې دا مهمه وه، چې وسیلوي پوهه ټوله پوهه نه ده. ددې څخه دا مالومېږي چې هغه هدفونه چې د لاس ته راوړو لپاره یې وسایل تیارېږي ارزیابي کیدلی نه شي، او یا نه ارزیابي کېږي.

دا خبره په پوهنې او تخنیک کې د وسیله وي پوهې په برخه کې برملا کېږي چې د اتوم بم یې جوړ کړ، بې له دې څخه چې دا



پوښتنه وکړي چې ایا دغه وسله مانا لري او ښه ده، دا خبره د پوهې یوې بلې برخې ته پرېښودل شوې وه، چې عملي اخلاقي پوهه ده، چې د فلسفې لړ جوړوي.

**Horkheimer** کله چې انتقادي نظریه په شلمو او دیرشمو کلونو کې په المان او امریکا کې مدله له کړه چې په ډېره اندازه د **Marx** د اغیزې لاندې وه او له دې کبله یې خپله ونډه په لودیځ او ختیځ کې د کارګرو د غورځنګ په ملاتړ او غښتلي کولو کې لیدله. اود نوموړي ددې نظریې ورځنی ارزښت په ډاګه او په تیره بیا چاپیریال ته زیان (تاوان) رسیدل پکې له ورایه ځلیږي.

تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته په هورک هایمر کې غټ بدلون راغی نو بېرته المان ته راستون شو او ویویل چې د تاریخ هدف اوښتی دی. د انسانانو دردیدنه تل تر تله (دایمي) ده، او د ټولو انسانانو د ملاتړ سپارښت یې د دردیدنې او مړه کیدنې له کبله وکړ.

د ژوند په پای کې یې یو نا امیده نړۍ لید لرلو. ده په خپلو یاداشتونو کې چې د ۱۹۴۹ عیسوي کال څخه نیولي تر ۱۹۶۹ عیسوي کال پورې یې لیکلي دي، دا راپه ګوته کړې ده، چې د تخنیکي وسایلو وده د غیر انساني کولو د یوې لړۍ څخه بدرګه ده. پرمختګ او هغه موخه (هدف) چې عملي کیدل یې پکار دي او هغه دانسان نظریه ده، د نشت سره برابروي.

**Horkheimer** د انتقاد تیز، تحلیلي او په لرې لید ولاړ دی چې یوه پیړۍ وده پکې د سترګو لاندې ساتل شوې ده.

دده دا کتنه چې د یوه تن دخپلواکۍ (ازادۍ)، او د ټولنې سره د ځان د برابرولو د جبر په باره کې ده په اسانۍ سره

خپلیدلی شي.

په غټو تنظیمونوکې لکه ګوندونه، د کارګرو ټولنې او داسې نوروکې یو تن د یوې کړنې کړی ده، د بیلګې (مثال) په توګه لوړ او جګ مقامونه او کرسئ د پوهې، استعداد اولیاقت په واسطه چې د کومو معنوي نظریو سره تړلي وي نه ورکول کېږي، بلکې یوازې ددې توان یوه پوښتنه ده چې انسانان د اغیزې لاندې راولي.

دلته سوچه اداري او تخنیکي توان د لوړ او جګ مقام د لاس ته راوړلو بنسټ جوړوي ، خو په هر ډول سره **Horkheimer** دا ګڼنه هم کوي چې یوه فلسفي بیداري دغه لړی په بله خوا هم روانولی شي او د نا امیدی سره سره یې د پوهې د ځواک امید له لاسه نه دی ورکړی. دی وایي : کله چې مونږ د ځرګندولو او معنوي ودې د لاندې د غلطو عقیدو څخه لکه دیوان، پیریان د انسانانو خلاصول پوهیږو، نو بیا د هغه څه رسوا کونه چې غلطه او ړنده عقیده ده د پوهې یو غټ چوپړ (خدمت) دی.

د ارواښاد ډاکتر کبیر ستوري له ناچاپه لنډولیکنو څخه
د لیکلو نیټه: فبروری ١٩٩٥



# د پښتنو د یووالي په ورځ

کولن ١٢ نومبر ١٩٩٤

د لوی او بخښونکي خدای په نامه

درنو مېلمنو او ګرانو وطنوالو ! زه د تاسې څخه د پښتنو د ټولنیز ولسولیز ګوند له اړخه خوښنه کوم چې خپل کارونه مو پریښودلی او دلته مو په خپل راتګ سره د پښتنو د یووالی ورځ درنه او ښکلی کړی ده . د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند چې تاسې یې د پښتنو د یووالی د ورځې جشن ته رابللی یاست د پښتنو د ملي ازادی د غورځنګ یوه برخه ده چې په ١٩٢٩ کال کې د انګریزی ښکیلاک په ضد د باچا خان «فخر افغان» په مشری منځ ته راغلی دی . په افغانستان باندې د شورویانو د یرغل وروسته د پښتونخوا په دننه او بهر کې ددې غورځنګ پلویانو د یوه داسې ټولنیز ولسولیز ګوند د جوړیدلو ضرورت ولیده چې د پښتونولی او ملي علایقو په بنسټ ولاړ وی او د وطن د ازادی او امن چغه پورته کړی . وروسته د اوږدی مودې تیاری او تماسونو څخه د ١٩٨١ کال د فروری د میاشتی په ١٧ نېټه د پښتنو د ټولنیز ولسولیز ګوند بنسټ کېښودل شو چې لر او بر پښتانه پکې راټول شول. پښتانه چې په اوسنی وخت کې له ٢٠ میلونو نه زیات اټکل کیږی د نړی په لرغونو

قامونو کې شميرل کيږي او د يوه بډای او موړ کلتور خاوندان دی چې پښتونولي نوميږي . پښتونولي د جرګو يو ولسوليز سيستم دی چې بنسټ يې په پښتو ولاړ دی ، پښتو يوازې د پښتنو ژبه نده بلکې د يو لړ صفتونو مجموعه ده لکه پت ، ښيګړه ، ميړانه ، توره ، ورور ولی ، ننګ او داسې نور چې هر پښتون يې که موړ وی او که غريب بايده دی چې ولري. پښتو د ټولو پښتنو ګډه ښکلا ده نو ځکه پښتون نيکه خوشحال خان بابا وايي:

درست پښتون له قندهاره تر اټکه
سره يو د ننګ په کار پټ او اشکار

د جرګو سيستم چې د پښتونولي بنسټ جوړوي او اوس په مونږ کې رواج دی د هغه ټولنو محصول دی چې لس زره کاله د مخه اټکل کيږي دا ددی مانا لري چې پښتون قوم لس زره کاله د مخه موجود ؤ . پښتنو په خپل دې اوږد تاريخ کې ډېرې سرې او تودې ليدلي دي، خو تل يې خپل ملي هويت ساتلی دی . يو د بره سل کاله د مخه پيرنګيانو ددی هڅه وکړه چې د ډيورنډ د کرغېړنې کرښې پواسطه په مصنوعی توګه پښتانه په برخو وويشی خو پښتانه چې نه يوازې ګډ تاريخ ، ګډه ژبه ، او کلتور لري بلکې جغرافيايي وحدت هم جوړوی دغه کرښه په عمل کې نده مراعت کړی او بې د پاسپورته يو د بل سره تګ راتګ لری .
څنګه چې د هند د نيمې وچې څخه د پيرنګيانو په وتلو سره د ډيورنډ تړون د ولسونو د حقوقو له مخی په اوتوماتيکي توګه د اعتباره لويدلی وو ځکه چې په کوم هدف چې دغه تړون منځ ته راغلی وو هغه هدف د منځه تللی ؤ ، نو د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند پرو سږکال دغه تړون چې هډو د اعتبار موده



پکې نده ليکل شوی په رسمی توګه د تل لپاره لغوه اعلان کړ او د ردی کاغذونو ټوکری ته يې وغورځاوه . په عمل کې هم د پښتنو يووالی د لړی په بڼه کې مخ په وړاندی روان دی، ددی لړی لومړی پړاو لې.ی پښتونخوا ته د برې پښتونخوا د پښتنو په کډی کولو سره پيل شوی دی چې يو د بل سره تماسونه زيات شوي او ښېخې ګانې هم پکې منځته راغلي دي . د شوروي اتحاد د ړنګيدو وروسته د نړی په تاريخ کې نوی سياسي پړاو پيل شوی دی . ددې پړاو نښې نښانې په کمونستي ډيکتاتور باندې د ولسولی بری ، د ښکېلاکي ځنزيرونو ماتول ، د وېشل شوو ولسونو بيرته يووالی او د خپلواکو هېوادونو جوړيدل دی. د نړی نوی سياسي نظم جوړيږي او نوې سياسي نقشه منځ ته راځی چې دا پېښتنو ته د يووالی او خپلوکی زيری ورکوی. د پښتنو يو خپلواک هيواد پښتونخوا په سيمه کې د سولې ثبات او ولسولی تضمين دی چې داسين د هيوادونو د ټولنې په نمونه سره د ګاونډي هيوادونو سره د خپلو ګډو علايقو په بنسټ د سيمی اود نړی دانسانانو د هوسايې د پاره ګډ کار کولی شي.
کله چې مونږ د پښتونخوا څخه خبرې کوو ، نو مطلب مو د احمد شاه بابا افغانستان دی داحمد شاه بابا لپاره د افغانستان او پښتونخوا نومونو يوه مانا لرله کله چې احمد شاه بابا د ډهلی تخت ونيوه نو ويويل:

د ډهلي تخت هېرومه چې راياد کړم
زما د ښکلې پښتونخوا د غرو سرونه

د احمد شاه بابا افغانستان د ورونو قومونو پښتنو ، هزاره ، ازبک ، تاجک ، ترکمن ، بلوڅو او نورو ګډ کور دی . زمونږ د ګوند په منشور کې په فدرالي بڼه کې د ورونو قومونو حقوق

خونـدي شـوي دي، چې د هیـواد پـه سیاسـي ، اقتصـادي او ټـولنیز ژونـد کـې د خپـل شـمیر سـره سـم عـادلانـه برخـه ولـري . کومـه ورور وژنـه چې نـن سبا زمـونږ پـه ګـران هیـواد کـې روانـه ده مـونږ يـې پـه کلکـه سـره غنـدوو او د ملګـرو ملتونـو او ټولـو نـورو هڅـو ملاتـړ کـوو چې پـه هیـواد کـې د جرګـو او مرکـو لـه لاری سـوله راولـی او ډېر ګوندیزه ولسولی پلی کوی .

پـه پـای کـې د پښـتنو د ټـولنیز ولسـولیز ګونـد د میرمنـو د ټـولنې ، د ځـوان پښـتون ، د ننګیـالی پښـتون ، د پښـتنو د کلتـوری ټـولنې ، د پښـتون کـور ، او ټولـو هغـه کسـانو څخـه چې ددی میلـې پـه تنظـیم او سمبالښـت کـې يـې مرسـته سـرته رسـولی ده، د زړه لـه کـومي خوښـنه کـوم . د ټولـو زیاتـه خوښـنه د پښـتو د نـامتو فنکـارانو اسـتاد شـاه ولـي ، انـور خیـال ، صـاحب ګـل او او انور شاه څخه کوم چې دا میله په خپل فن او هنر رنګینه کړه.

ډاکتر کبیر ستوری

د پښتنو د ټولنیز ولسولیز ګوند مشر



# رحمان بابا ادبي سیمینار ته وینا

د لـوی او بخښـونکي خـدای پـه نامـه درنـو مشـرانو او لیکوالانو، شاعرانو او ادیبانو!

زه ترهرڅـه لـومړی لـه تاسـې نـه خوښـنه کـوم چـې ماتـه مـو ددې درنـې غونـډې د مشـرۍ ویـاړ راوبښـه. پـه انسـاني ژونـد کـې ډېـر پراونـه منـځ تـه راځـي، چـې پـه مختلفـو پړاونـو کـې مختلفـې هیلـې او ارزوګـانې او خواهشـات پیـدا کیـږي، خـو یـوازې هغـه خواهشـات او هیلـې چـې د ټـولنې د دود دسـتور سـره سـمې وي او د ټولنې یا سماج له خوا ورته اجازه ورکول کېږي، سرته رسېږي.

هغـه چې اجازه ورتـه ورنـه کـړای شي هغـه لا شعور تـه ځـي او پـه لاشـعور کـې ځـای نیسـي. خـو ځینـې داسـې ارزوګـانې او خواهشـات دي چې د هغـې سـره انسـان ډېـره مینـه لـري، نـو هغـه یـا تخیـل تـه ځـي او تخیـل کـې پرتـې وي چې دا پـه حقیقت کـې د شعر محرکـه قـوه ده، چـې شـاعر يـې د خپلـو راپاربـدلو احساسـاتو پـه وخـت کـې چې مینـه ورسـره بدرګـه وي د تخیـل نـه رااخلـي او پـه داسـې جامـه کـې او یـا پـر یـوه منظمـه جامـه کـې رانغـاړي چـې وزن، قافیـه او تـال ولـري ټـولنې تـه پـه داسـې ډول وړانـدې کـوي، چـې د یـوې خـوا پـه سزا ورنـه رسـېږي او د بلـې خـوا هغـه خپـل خواهشـات

پوره کړي. تخيل د غير حقيقي نړۍ پورې اړه لري. هلته څوك په سزا نه رسېږي. هغه يوه باغي دنيا ده خو بېرته چې دا هيلې او خواهشات د مينې او احساساتو په برکت سره حقيقي نړۍ ته راځي، نو دلته ورته داسې وزن او تال ورکول کېږي، چې شاعر يې په سزا نه رسېږي. زموږ په ټولنه کې دوه مرکزونه دي چې يوه حجره ده او بل يې جومات دی. د رحمان بابا شعر هم د حجرې سره تړون لري او هم د جومات سره. زه به تاسې ته د رحمان بابا يو شعر وړاندې کړم چې د حجرې سره تړون لري.

که مې چېرې لاس دا ستا په بوسه بر شو
دا نعمت به د جنت په خوان ورنکړم

اخري بيت يې داسې دی:

په رحمان دا ستا د لبو مې حرام
شه څو د خپلو وينو جام تاوان ورنکړم

د رحمان بابا دا شعر که څه هم څو سوه کاله مخکې ويل شوی دی، اوس هم د هر نوي شعر سره نه يوازې سيالي کولی شي بلکې ترې غوره هم دی.



# لنډۍ
# او
# روانه ګړېدنه

د لنډيو پواسطه سړی د روانې ګړېدنې توان (بلاغت) اندازه کولی شي. د دغه توان خاوندان بې د ستونځو څخه ګړندۍ خبرې او وينا کولی شي خو مخکې له دې څخه چې په دې موضوع ورګډ شو پکار ده چې خپله لنډيو ته يو ځغلنده کتنه وشي.

**د لنډيو پېژندنه (تعريف)**: لنډۍ يو بيته شعر دی چې لومړۍ مسری يې نهه او دويمه مسری يې ديارلس سيلابه ده او په پای کې هـ (ه) راځي. (١)

که څه هم ځينې لنډۍ د ځينو کسانو د نومونو سره تړلې دي لکه دا لنډۍ چې د پښتونخوا د ستر فيلسوف غني خان د نوم سره تړلې ده:

څانګه به نن سبا کې ګل شي
ما يې په سر کې سرې غوټۍ ليدلې دينه

او يا دا لنډۍ چې د ملالۍ په نوم يادېږي.

که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

خو خپله غني خان او هېڅوک ددی دعوه نه کوي، چې دغه يا هغه لنډۍ يې جوړه کړی او دده معنوي توليد دی او که معنوي توليد يې وی هم، نو پښتني ټولنې ته يې بخښلی او د پښتني ټولنې ګډه پانګه ده . له دې کبله لنډۍ ته بې شاعره شعر ويل هم بې ځايه ندي، لنډۍ ځانله هم ويل کېږي، او په لوبو کې (چې په ادبي پوهنيزه ژبه کې ورته سروکی وايي) هم وراچول کېږي کله چې لنډۍ ځانله ويل کيږي نو د ټپی په نامه ياديږي او که د لوبې (سروکی) سره يو ځای شي، نو بياد ټکۍ په نامه يادېږي.

**د لنډيو تاريخ** : د پښتني ټولنې منځ ته راتګ د لنډيو د پيدا ايښت نېټه ده دا چې پښتنه ټولنه کله منځ ته راغلې ده او پښتانه د څه وخت راهيسې د نړۍ په سر شته دی؟

د انساني ټولنې د ودې د تاريخ په نښتون کې د پښتنو د جرګې د سيستم په مرسته چې د پښتونولۍ بنسټ دی او اوس پری مونږ خپلې ربړې او چاری په پښتونخوا کې سموو، اټکل کيدلی شي.

که چيرته د نړۍ په سر د انساني ټولنې د ودې تاريخ ته نظر واچوو نو وبه وينو چې د جرګې سيستم د لومړنيو (ابتدايي) انساني ټولنو ياني هډی ټولنو ( Gentil Society ) چې طبقی پکې موجودی نه وی محصول دی ددی خبرې په تائيد کې انګلس(Engels ) د مارګن ( Morgen) په حواله سره دايروکيزن (Irokesen) د سينيګاس(Senekas ) قبيله راپه



ګوته کوي، چې د جرګې سيستم يې لرلو (٢) دا د دې مانا لري، چې پښتنه ټولنه او پدې توګه پښتون ولس د انساني ټولنې د ودې د لومړنی پړاو راهيسې موجود ؤ، خو له بده مرغه د پښتنو لرغونی تاريخ نه دی څېړل شوی.

داسې برېښي چې پښتونخوا د اسيا په زړه کې د مدنيتونو ( Civilization ) ځانګو او ټاټوبی ؤ چې د نړۍ په نور و مدنيتونو او کولتورونو يې اغېزه کړيده او هم يې ورسره ټکر راغلی دی . په دې لړ کې د پښتنو د جرګې د سيستم دندې پراخې شوي او بشپړې شوې او غيرې مرکزي خوی يې غوره کړی دی چې همدی دغه سيستم ته تر اوسه پوری ژوند وربخښلی او د طبقاتی ټولنو په منځ ته راتګ سره لکه د نورو هډی ټولنو د جرګې د سيستم په شان د منځه نه دی تللی او ځای يې ستېټ ( State) ندی نيولی د پښتنو په نوی تاريخ کې هم تاريخ پوهان په پښتونخوا کې لوی بډائی مدنيت راپه ګوته کوی. د اسلام څخه د مخه چې په پښتونخوا کې د پښتنو د کوشانی او يفتلی قبيلو باچاهي او دوران ؤ او پښتانه بودايي مذهبه ونو د پښتني مدنيت او د پښتو ژبې پلوشې هم د ايران د بخستان (بيستون) پورې رسيدلی وی ، عبدالحی حبيبی -(٣) د معين په حواله سره ليکی چې د ايران د بخستان په غره باندې د ميلاد څخه ۴٨٢ کاله د مخه يو ډبر ليک کيندل شوی ؤ او په دغه ډبر ليک دا د پښتو شعر په ميخی ليک ليکل شويدی.

نی اړی کووم**Ne a ri kd d hum**
نی دروه جنه اوم**Ne drau ja na a hum**
نی ځور کاره اوم**Ne zura ka ra hum**

که چيرته د پښتونخوا غرونو رغو کې پراته تاريخي اثار

ټول وخپرل شي نو کيدای شی چې د پښتنو د لرغوني تاريخ په هکله ډېر ثبوتونه په لاس راشي.

او د پښتنو لرغوني تاريخ به رابرسيره شي . او په دې توګه به د لنډيو تاريخ چې د پښتني ټولنې د تاريخ سره تړلی دی هم روښانه شي.

لنډۍ د رواني ګړيدنې (Fluency) د تلې په توګه : روانه ګړيدنه د سړيتوب ( Personality) يو لړ دی چې په ساپوهنه ( Psychology) کې داسې اندازه او تلل کيدلی شی چې سړی په ټاکلی وخت کې ټول هغه مانا لرونکی لغاتونه چې په ټاکلی توری، د مثال په توګه په « ن » پيل کېږي ليکی لکه ننګ ، نور ، نوی ، نوم ، نر ، او داسې نور هر څومره چې سړی زيات لغاتونه وليکي يا يې ووايې هغومره يې دروانی ګړيدنې توان زيات دی او هر څومره زيات چې سړی دروانی ګړيدنې توان ( بلاغت ) لری هغومره يې د روښانې ګړيدنې توان ( فصاحت ) هم زيات دی په ۱۹۷۲ کال کې مونږ د برې پښتونخوا د کونړ د صوبې په ښوونځيو کې د هوښيارتيا ( Intellgence) د يوې څېړنې ( Research) خوا کې د زده کوونکو څخه غوښتنه وکړه چې ټول هغه لغاتونه چې مانا ولری او په «ک » پيل کېږي وليکی او لس دقيقې وخت مو ورته ورکړ . د څېړنې په بله ورځ مو بيا د زده کوونکو څخه د ټولو هغه لنډيو د ليکلو غوښتنه وکړه چې دوی ته يا دی وی او لس دقيقی وخت مو ورته ورکړ. د څېړنې په نتيجه کې ثابته شوه چې د لنډيو شمير او د لغاتونو د شمير په منځ کې چې په «ک » پيل کېږي دوه اړخيز مثبت اړيکی شته دی، يانې هر څومره چې چا ډېر لغاتونه ليکلی ؤ هغومره يې ډېری لنډۍ هم ليکلی وی، دا ددی مانا لری چې د لنډيو د شمير په واسطه سړی په پښتني ټولنه کې د روانی ګړيدنی توان اندازه کولی شی ، خو لنډۍ يوازې دورانی ګړيدنی د توان د



اندازه کولو تله نده بلکې د پښتني کولتور او دود دستور سره د سمون اندازه هم راپه ګوته کوي.

هر څومره چې د چا زياتې لنډۍ يادې وي، هغومره د پښتني کلتور په دننه کې پاتې شوی دی او هر څومره چې د چا لږې لنډۍ يادې وي او يا يې هډو يادې نه وي، هغومره د پښتني کلتور څخه لرې پاتې شوی او پردی شوی دی، دا ګڼېه ( فرضيه) د هغو پښتنو په کتنه ولاړه ده چې د پښتني کلتور څخه لرې د پښتونخوا نه بهر زېږيدلی دی او په پښتو خبرې کولی شي، خو لنډۍ يې يادې نه دي.

سربيره پر دې د يوتن د لنډيو متن د هغه د سړيتوب ( Personality) هنداره ده.

## اخستونځی :

ستوری په پښتونخوا کې : لومړ ټوک ، خپرونکی ستوری خپل چاپ ، جرمنی ۱۳۵۲ ، لومړ ټوک ، مخ ۱۱۸

**Riedrich Engels : Der ursprung der Familie desPrivateigentnun und des Staat , Dietz verlag Berlin 1974 , S 96 - 113**

عبدالحی حبيی ، د پښتو ادبياتو تاريخ دوهم ټوک ، پښتو ټولنه ۱۳۴۲ ، مخ ۲-۸

پښتونخوا/څلورمه ګڼه /دريم ټوک / نومبر: ۱۹۸۹

**Pakhtoonkhwa magazine**
**Jahrgang (Volume): 3 / Nummer (Number): 4 / November 1989**

# د ادب ساپوهنه

پښتانه واړه سره یو دي
ورک دې اغیار شي چې به دوی جدا کوینه

**شعر او شاعر**: شعر یوازې د ادب یوه برخه نده بلکې د پخوانیو پېښو او معلوماتو د لاس ته راوستلو یوه مهمه وسیله هم ده ځکه چې زیاتره هغه لرغوني اثار چې زمونږ تاریخ پېژندونکي پرې استناد کوي، د شعربڼه لري. ددې خبرې ښه شاهدان د «اویستا» او «ریګویدا» لرغوني کتابونه دي. د غه کتابونه بل شی نه دي، بلکې د هغه وخت د خلکو یانې د لرغونو اریایانو مذهبي سرودونه دی (مذهبي سرودونه د حمد او نعت په رنګه د شعر یوه خاصه څهره ده). همدغسې د پښتو ژبې پخوانی اثر چې مونږ ته راپاتې دی د امیرکروړ شعر دی چې له دې کبله شعر د خپل ادبي ارزښت په خوا کې پوهنیز (علمی) ارزښت هم لري.

**د شعر تعریف**: ځنیې لیکوال شعر هغه کلام ته وایي چې بحر، وزن، ردیف او قافیه ولري. ځینې نور بیا د شعر لپاره دغه شرط نه ګڼي او د شعر تعریف داسې کوي، چې انسان د خپلو احساساتو جذباتو او عواطفو اظهار په داسې ادبي رنګ کې وکړي چې د اوریدونکی یا لوستونکی احساسات هم په



هغه شان راوپاروی لکه څنګه چې د شاعر را لړزیدلی وی. که داسې کلام د بحر، وزن، ردیف او قافیې د قید دننه وی هم شعر دی او که ددې څخه ازاد وي هم شعر دی.

که سړی دی تعریف ته انتقادی نظر واچوی نو وبه وینی چې مونږ ددې لپاره کوم میچ یا معیار نلرو چې د هغه پواسطه ثابت کړای شو چې د اوریدونکو یا لوستونکو احساسات په هغه شان راپاریدلی دی لکه څنګه چې د شاعر و، نوله دې کبله ویلی شو چې د غه تعریف تیوریتیکی طبیعت لری او د عملي استفادی وړ ندی.

ددی لپاره چې د داسې یو تعریف لټه وکړو د کوم پواسطه چې مونږ په اسانئ سره وکولای شو چې شعر د نور و کلامونو څخه توپیر کړو نود هغه کلامونو څیړنه او تحلیل ضروری دی چې د پښتو په ادب کې په عمومي ډول د شعر په حیث منل شوی وی. خو په هر صورت سره، مونږ د شعر د تعریف لپاره هغه نښې نښانې او خصوصیات پوره ګڼو چې عام خلک د هغو پواسطه شعر د نورو کلامونو څخه د خپل لومړنی ادراک په وخت کې په شعوري یا غیر شعوري توګه سره بیلوی یعنې کله چې یو سړی د لومړی ځل لپاره یو کلام واوری یایې ولولی نو سمدستی پوهیږی چې دغه کلام شعر دی او که نه.

د دې واقیعت له مخې ویلی شو، چې په شعر کې باید هرومرو داسې څه پراته وی چې هغه په نور کلامونو کې نه وي خو که چېرته سړی د نظم او ناظم اصطلاح ګانې د خپل تحلیل اساس وګرزوی نو دی نتیجی ته به ورسیږي، چې په شعر کې د یوې یا ډېر نښانو او شیانو په اساس توری تنظیم او قانون بندی شوی وی. ددی نښو او شیانو د معلومولو لپاره یوې امپیری

ځېرنې ته اړتيا ده په کومه کې چې بايد شعرونه او غيري شعرونه خلکو ته وړاندې شي او د هغوی ځخه د دې پوښتنه وشي چې ولې دا شعر دی او دا شعر نه دی.

دلته بايد دا خبره هيره نه شي چې ځينې خلک شعرونه په نوو او زړو شعرونو ويشي خو که څوک دغسې نوي شعرونو ته سترګې واچوي، نو وبه ويني چې د غه د نارو (شعارو) څخه هيڅ توپير نه لري او يا د يوې بلې ژبې د شعر ژباړه ده چې د شعر خصوصيات يې په ژباړه کې د لاسه ورکړي وی.

دغه ډول شعرونه د اميانه شعرونو څخه هم توپير لری اميانه شعرونو هغه شعرونه دی چې په ويلوکې د نورو شعرونو څخه هيڅ توپير نلری خو د ليک دود پکې مراعات شوی نه وی (لکه دبی په مشاعره کې دننګيالی شعرونه»پښتونخوا : د مضامينو او شعرونو ټولګه ؛ ۵۸ مخ(« او هغه شاعران يې جوړوی چې د ليک او لوست څخه بې برخې پاتې شوی.

**شاعر** : ځيړموند فرايد د شاعر د شاعرۍ لومړني پلونه په ماشومتوب کې ويني او ليکي چې "دماشوم په زړه پورې او ژور بوختوالی لوبې دی".

ښايي چې مونږ د دې خبرې د کولو اجازه ولرو چې هر يو لوبې کوونکی ماشوم د شاعر په شان سلوک کوی. دی په خپلو لوبوکې ځانته يوه خاصه نړۍ جوړوي او که سمه افاده وکړو نو دی د خپلې نړۍ شيان په يوه نوي او داسې نظم کې راولي، چې دده خوښېږي. دا به نا حقه وی که فکر وکړو چې دغه ماشوم خپله دغه نړۍ جدي نه نيسی برخلاف دی خپله لوبه ډېره جدي نيسي اوپه زياته اندازه احساسات په کې په کار اچوي. د لوبې



ضد جديت نه دی، بلکې حقيقت دی. سره ددې چې ماشوم د خپلې لوبې په نړۍ کې ډېر احساسات په کار اچوي خو د حقيقت نه يې توپير هم کولی شي او غواړی چې خپل غيری حقيقی شيان او مناسبات په ښکاره او شته شيانو د حقيقی نړۍ پورې وتړي.

کله چې د غه ماشوم لوی شي نوبيا مجبوره دی چې لوبې پرېږدي اوهغه دندی(وظيفی) چې چم ګاونډ او چاپيريال يې دده څخه انتظارلری سر ته ور سوی. خو کله چې سړی د يو شی سره عادت شوی وی، نو بيا ډېره سخته ده چې دغه عادت د لاسه ورکړی ولی چې هيڅ شی چې سړی ورسره عادت شوی وی د منځه نه ځي خو ځای يې په ظاهري توګه يوبل شی نيولی شی.

څه وخت چې دغه ماشوم د لويانو پاوړی ته ورسيږی نو بيا د لوبو په ځای چرت وهی ځکه چې که دی اوس هم خپل د کوچنيوالی عادت پرېښږدي او لوبې کوي، نو د ټولنې له خوا غندل کيږي.

دا بايد هم وويل شي چې د چرت وهلو توليد کوم ثابت اونه بدليدونکی شی نه دی، بلکې دانسان د ژوند د هر حالت سره سم تغيير خوري. فکر او چرت **(Phantasie)** دواړه د معنوي توليد وسايل دی خو توپير يې يو د بل سره دادی چې فکر په حقيقی نړۍ او چرت په غيرې حقيقي او خيالي نړۍ کې د توليد باعث ګرزی. فکر د چرت مخالف قطب دی.

کله چې د انسان احساسات د دننې يا بهرنې علتونو له امله را وپاريږی او د فکر يا چرت سره يو ځای شی او هغه په کار وا چوی نو معنوي توليد يوه برخه ګڼلی شی يعنې هر معنوي توليد شعر ندی خوهر شعر معنوي توليد دی.

د شعر د جوړولو په وخت کې باید د شاعر احساسات په دومره اندازه سره را پارېدلي وي، چې وکولای شي چې فکر یا چرت په حرکت راولي او په کار پیل وکړي . هر څومره زیات چې احساسات فکر د شاعر په فعالیت راولي، هغومره یې شعر د حقیقي نړۍ پورې په مستقیمه توګه تړلی وي دا ددې مانا لري چې شاعر خپل شعر په رواجي او عادي ژبه جوړوي.

بر خلاف هر څومره چې احساسات چرت د شعر د جوړولو لپاره په فعالیت راولي هغومره شاعر په حقیقي نړۍ پورې لږ تړلی یا په بل عبارت سره په غیری مستقیمه توګه تړلی دی او خپل شعر په ناآشنا او غیری رواجي ژبه جوړوي، ځکه چې دی دلته په ډېره اندازه سره ازادی لري چې پخپل شعرکې داسې کلمې او توري د خپلې خوښې او راپارېدلو احساساتو سره سم بې له دې څخه چې د حقیقي نړۍ سره د هغوی ارتباط په نظرکې ونیسي، استعمال کړي.

د فکر، چرت او احساساتو قدرت او جریان او د دوی یو خاص تناسب شاعران په ډلو وېشي چې په عمومي ډول سړی درې ډوله شاعران جدا کولی شي چې یوې ډلې ته یې سړی احساساتي اوفکري - بلې ډلې ته یې احساساتي او چرتي او دریمې ډلې ته یې احساساتي، فکري او چرتي شاعران ویلی شي.

دلته دا سوال راپیدا کېږي چې ځینې خلک کولی شي، چې صرف د فکر په زور سره شعر جوړ کړي او له دې کبله ضروري نده چې د شعر جوړولو په وخت کې د شاعر د فکر او یا چرت د احساساتوله خوا بدرګه شي . ددې سوال په جواب کې د سید رسول رسا سره یو ځای ویلی شو چې دا به یوازې د ور او غر د



نقافي برابر ول وي او هغه خوند او مزه به پکې نه وی کومه چې په شعرکې پرته وی او د شعر خاصیت جوړوي.

د شاعرانو دغه درې ډلې بیا په نورو ورو ډلو ویشل کېدلی شي چې مونږ دلته د مجلسي شاعرانو په مثال سره دا خبره جوتوو.

مجلسي شاعران مونږ هغه شاعرانو ته وایو چې هم شاعر وي او هم خپله سندری وایي لکه رحیم غمزده، حضرت باز، نواب او داسې نور...

په پخوانیو وختونوکې چې راډیوګانې کمې وې، نو میلې او مجلسونه زیات وو . کله کله به په دغه مجلسونو او میلوکې مجلسي شاعران یو د بل سره په سندروکې نښتل، چې کله به دغه نښتو په شپو شپو دوام وکړ او لا یو به هم لامت نه و.

عوامو خلکو به دغه شاعرانو ته بادی جوشی یا اتشی شاعران هم ویل . بادی یې ور ته ځکه ویل چې کله چې به دغه شاعر شعر ووایه نو بیا به تری هیر و. د شعر چپه به په شاعر باندې د باد په شان راغله او تیره به شوه. جوشي یا اتشي به دغه بل شاعر ته له دې کبله ویل کېده چې هر څومره چې به ده ډېر مجلس وکړ هغومره به تودیده او په جوش کې به راتو.

کیدای شي چې د عوامو د خولې دغه خبرې د هغه څلورو طبقو سره ارتباط ولری چې د بادي، خاکي، ابي او اتشي په نامه سره یادیږي.

که پورتنی مثال ته ځیرشو نو دی نتیجې ته به ورسیږو چې بادي او جوشي شاعران دواړه احساساتي او فکري شاعران دي، خود بادي شاعر توپیر د جوشي شاعر سره دا دی چې د بادي شاعر احساسات راپاریږي او بېرته مړه کېږي یعنې عادي بڼه

نيسي او د جوشي شاعر احساسات چې راوپاريږي، بيا په اسانۍ سره نه سړيږي.

**د شعر او شاعر اړيکي** : نن ورځ په ګرافولوژۍ کې دا منلي شوې خبره ده چې قلمي ليک د ليکوال د شخصيت سره مستقيمې اړيکي لري او له دې کبله سړی کولی شي چې د قلمي نسخو په اساس د دغه نسخو د ليکوال د شخصيت تحليل وکړي. دا چې په ګرافولوژي کې د قلمي ليک د تحليل لپاره څه اصولونه شته دی او دا اصولونه زمونږ د ليک لپاره تر کومې اندازې پورې اعتبار لري؟ يو داسې سوال دی چې زمونږ د بحث موضوع نه ده، ځکه چې زمونږ د بحث موضوع شاعر سره د ده د چاپي شعرونو د روابطو سوال دی خو ددې سوال د روښانولو لپاره د ځيږ موند فرايد (Freud) او د يونګ (Jung) دغير شعور اصطلاح ګانو ته لنډ نظر اچول پکار دي.

دفرايډ په عقيده ساوالی (روحي) پېښې يوازې په شعور کې پرتې نه دي ځکه چې د شعوري موادو د تشريح لپاره نور مواد پکار دي کوم چې د شعور نه بهروی سربيره پر دی تجزيوي تجربې دا خبره راپه ګوته کوي، چې د ساوالو ماهيتونويوه برخه داسې نامعلوم او غيرې عقيدوي خصوصيت لري چې د معلومو شعوري پېښو سره په تضاد لکه د ځان پخپله مرګ.

دشعور د لاندې فرايډ يوه تمثيلی اصطلاح يعنې دساوالو پيښو څرنګوالی (کيفيت) پوهيږی. سړی کولی شي چې دا خبره په دې لاندې مثال سره پوره روښانه کړی. که چيرته مونږ يو ساوال عنصر د مثال په توګه خيال په نظر کې ونيسو، نو دا خيال د تل لپاره زمونږ په ياد نه شي پاتې کيدی وروسته د يوه څه وخت څخه زمونږ د ياده وزی او کيدای شي چې د ځينو



شرايطو د لاندې مو بېرته په ياد شي نو دلته دا سوال راپيدا کېږي چې دا خيال په دې منځ کې چيرته و او څه پری شوی و. مونږ ددی سوال په جواب کې ويلی شو چې زمونږ د ياده وتلی و يعنې چيرته پټ و، او که ښه افاده وکړای شو نو وبه وايو چې دا خيال په دې وخت کې غيری شعوري و. ددی واقيعت له مخې فرايډ ساوالی پېښې او محتويات په دوه کتارو يعنې شعوري او غيری شعوري وويشل. ټولې ساوالی پېښې او محتويات چې اوس مونږ ته په ياد دی شعوري او کوم چې مونږ ته په ياد ندی غيری شعوري و بلل.

وروسته له څه مودې فرايډ د خپلو تجربو په ترڅ کې د غيری شعوري ساوالو پيښو او محتوياتو ساحه لاپسی تجزيه کړه اودوه ډوله فعالې ساوالی پېښې پکې مونده کړی. يو داسې فعالې ساوالی پېښې وی چې بې د کوموستونزو څخه په لږه پاملرنه شعور ته راتلای شوی او بل ډول يې داسې پټې فعالې ساوالی پېښې وی چې د يوې ژوندې قوې پواسطه د شعور نه بندي شوې وې، چې يوازې د ټاکلو شرايطو د لاندې په ډېر ستونځو سره شعور ته راوړل کيدلی شوی.

دغه لومړنۍ ډله د پټو ساوالو پيښو يې د شعور تلی (Vorbewusstes) اوپه خپله د غيری شعور Unbewusstes کلمه يې د دوهمی ډلې لپاره وساتله. ددی څېړنې څخه وروسته فرايډ شعوري او د شعور د تلی پېښې او محتويات د يوه خيل او غيری شعوري يې د بل خيل وګڼل او دا ځکه چې د شعور د تل محتويات هر وخت شعوري کيدلای شی کله چې ورته پام وشی اوبر خلاف شعوري محتويات د شعور تلی ته کوزيږی که پام ورته ونه شی.

مګرغيری شعوري محتويات د مثال په توګه يو خيال چې په غيری شعور کې پروت وی راسا شعور ته راتلای نه شی. لومړی بايد د شعور د تلی په محتوی يا خيال او بيا په شعوري محتوی بدل شی.

د ځې .ګ. يونک په نظر يه ساوالی غيری شعوري پېښې په شخصي غيرې شعوري او ډله ايزو غيرې شعوري پيښو ويشل کېږي. شخصي غيرې شعوري پېښې په پاسنۍ برخه کې پرتې دي چې د ځانګړو محتوياتو خوی لري د ډله ايزو غيری شعوري ساوالو پيښو کره وړه د ګډو او عمومي معلوماتو پواسطه ټاکل کېږي چې يونګ ورته ارشی تيوپ وايې .د ارشی تيوپ د تشريح لپاره يونګ د ارشی تيوپ نښانو ته چې په کيسو اوافسانو کې راځی لکه بلا، پيريان، شيشکه او داسې نورو ته ګوته نيسي چې د يوه نسل څخه بل نسل ته د ټولنې چم ګاونډ اوچاپېر يال پواسطه نقل کېږي او د سړي د غيری شعور په لاندې برخه کې چې ډله ايز غيری شعور دی مېشت او ديره کېږي.

فرايډ او يونګ ساوالی پېښې په ډلو ويشلی دی چې په مختلفو برخو کې ځای لري، خو دايې نه ده څرګنده کړې چې دغه برخې د انسان په کوم ځای کې دی. کيدای شی چې دغه برخې په حافظه کې وی ولې چې حافظه هغه قدرت دی چې پخوانی معلومات ساتي او بې د تغيره يې د ټاکلو شرايطو د لاندې ياد ته راوړی خو په هر صورت د ساوالو پېښو د مرکزيت په باره کې مختلفې نظری شته دی چې د هغوی تشريح مونږ ته دلته ضروری نه ښکاری ځکه چې د فرايډ او يونګ د غيری شعور اصطلاح ګانې ددې لپاره کفايت کوی چې مونږ پرې د



شاعر سره د ده د شعر اړيکي روښانه کړو.

کله چې يو ماشوم نوی نړۍ ته راشي نو وروسته د يوې يا درې ((سمدستی نوی زېږيدلی ماشوم ته تی نه ورکول کېږي بلکې لږ څه وخت وروسته چې ماشوم وچ شي. په هر کلچر کې د تی د وخت په باره کې بيل ډول دود دی)) ورځومو يا دا بېځ په دې پيل کوی چې د ماشوم دلوږی اړتيا د تی په ورکولو سره پوره کړی چې په دې توګه سره د ماشوم تماس د خپلې کورنی سره چې د ټولنېز کيدلو د عملي مبلغه ده پيدا کېږي او د همدی ځای څخه دده لپاره د ټولنېز کيدلو عمليه پيل کېږي چې د ژوند تر پايه پوره يې مخ په وړاندې ځی.

ددی عمليې په ترڅ کې د ژوند په مختلفو پړاوونو کې مختلفې اړتياوي منځ ته راځې. خو يوازې هغه اړتياوې سرته رسيږي چې د ټولنې د دود دستور او قوانينو سره په کومه کې چې سړی ژوند کوی برابروی .هغه اړتياوې چې د ټولنې د دود دستور او قوانينو(×××) سره سمون نه خوري د ټولنې له خوا غندل کېږي او پوره کيدل يې منع او په جزا محکوم دی له دې کبله ددغه اړتياو د پوره کيدلوهيلې په غيری شعور کې ځای نيسی او پټېږي، خو د بلې خوا د سرته رسېدلو هڅه د لاسه نه ورکوي او د يوې داسې ساوالی لانجې بڼه نيسي، چې د يوې خوا بايد حل شي اود بلې خوا يې حل کيدل منع دي، نو په چرت او خيال کې يې د حل کېدلو هڅه کېږي.

همدا علت دی چې ځيېمونډ فرايډ د اړتياو(غريزو) د سرته رسيدلو هيلې دچرت محر که قوه ګڼی او له دې کبله هرچرت د يوې هيلې د سرته رسيدلو اويا د يوې لانجې يا مسئلې د حل، چې تاداو يې په منع شوو هيلو ولاړ وي مانا لري. هر څومره چې

سړی زیاتې هیلې او ارمانونه په زړه کې ولري، هغومره ډېر چرت وهي . اکثره وخت سړی خپل چرت د نورو خلکو څخه پټوي.

کیدای شي چې سړی ته ځان یوازې ښکاري چې ځانله دې دغسې شیانو کې چرت وهي او یا د دې څخه ډارېږي، چې د ټولنې له خوا به په سزا ورسیږي ځکه چې په هر چرت کې د منع شوو او سرته نارسېدلوهیلو د پوره کیدلو اراده پرته ده یا په بل عبادت سره په چرت کې د هغه مسایلو او لانجو د حل نیت پروت دی چې د سرته نارسیدلو او منع شوو هیلو په نتیجه کې پیدا شوی دی .

په لنډه توګه سره ویلی شو چې هغه هیلې او ارزو ګانې چې د ټولنې له خوا د تل لپاره منع وي (او هم ددغه هیلو او ارزو ګانو د سرته رسېدلو فکر) غیری شعور ته فرار کېږي، خو تل د سرته رسېدلو هڅه کوي، چې له دی کبله دغیری شعور څخه د شعور تلې ته راځي او د هغه ځای څخه کله کله کډه کوي او په چرته کې دېره کېږي ځکه چې په حقیقي نړی کې یې ځرګندونه په جزا محکومه ده.

دلته باید دا هم یاده شي چې هغه هیلې او مسایل چې د ځینو ټولنېزو شرایطو د لاندې ځرګندو نه او حل کیدل ازاد وي او د ځینو ټولنېزو شرایطو د لاندې بیا نه وی نود شعور په تل کې دېره کېږي او د حقیقي نړۍ سره یې بشپړ اړیکي نه شلیږي، خوکه ددغه هیلو او همدغسې ددغه هیلو څخه د پیدا شوو مسایلو لپاره د بندیز ټولنېز شرایط ډېره موده دوام وکړي، نوبیا ددې امکان هم شته دی چې دوی د شعور دتل څخه غیرې حقیقي نړۍ یعنې چرت ته لاړی شي، نوله دې کبله چرت د سرته



نارسېدلو هیلو او مسئلو کور او ځای دی . خو کله چې د سړي احساسات راوپاریږي، نو بیا د جزا څخه دومره نه ډارېږي او جرئت یې زیاتیږي . ملي شاعر ملنګ جان هم زمونږ د اخبره تائیدوي:.

حق به وایم سمدستي که وژل کیږم
جذبات د شاعری دي نه ویریږم

شاعران همد غه خلک دي چې د خپلو راپاریدلو احساساتو په وخت کې خپلې سرته نارسیدلې او فرار شوې هیلې د شعور د تل او یا د چرت څخه را اخلي او په داسې جامه کې یې د شعر پواسطه ټولنې (حقیقي نړی) ته بېرته وړاندې کوي، چې د یوې خوا په سزا ونه رسېږي او د بلې خوا یې هیلې د عمل جامې واغوندي . په دې برخه کې شاعران د مختلفو تخنیکونو او طریقو څخه کار اخلي چې مهم یې د « نومولو تخنیک» دی .

دلته شاعر شیان او مسایل په خپل اصلي نوم سره نه، بلکې په بدل نوم سره په خپل شعر کې مطرح کوي او په دغه بدل نوم د اصلي شیانو او مسائلو تمثیل په غیری مستقیمه توګه کوی، چې یو شمیر شاعران په دې برخه کې لکه غني خان او سیلاني افغان د حیواناتو د نومونو څخه کار اخلي او پوره مهارت پکې لري (د ډېی په مشاعره کې د سیلانی افغان د مستو کاری شعر ته ددی تخنیک د پوهیدلو او زیاتو معلوماتو د لاس ته راوستلو لپاره پام کولی شی» پښتونخوا : د مضامینو او شعرونو ټولګه؛ **۵۸** مخ.

په لنډه توګه سره ویلی شو چې ساوالی پېښې اومسایل په درې برخو ویشل کیدلی شي چې شعوري، د شعور تلی او غیری شعوري دی . غیری شعوري بیا په ځانګړو او ډله ایزو غیری

شعوري ویشل کېږي.

شاعران خپلې غیرې شعوري هیلې او مسائل چې د شعور تلې ته راغلې وي او یا د شعور د تلې څخه چرت ته تللي وي په داسې حال کې چې احساسات یې را پارېدلي وي را اخلي او په خپلو شعرونو کې مطرح کوي. لکه څنګه چې غیرې شعوري پېښې او مسائل په ځانګړو او ډله ایزو ویشل کېږي همدغسې شاعران هم سرې د دوی د هیلو په اساس په ځانګړو (فردي) او ډله ایزو شاعرانو ویشلی شي. دلته باید د شاعر د شعر محتویات وکتل شي چې ډله ایز مسائل په کې پراته دي او که ځانګړي. که څه هم د ډله ایزو او ځانګړو مسائلو توپیر ډېر سخت دی خو په عمومي ډول سرې ویلی شي چې ډله ایز هغه مسایل دي چې د یوې ډلې یا کوم ملک او یاد کومې ایډیولوژۍ نمایندګي وکړای شي. په دې توګه سره ملي شاعر دی چې د ده د شعر محتویات د یوه قام (ملت) ګډې ارزو ګانې او مسایل وي.

همدغسې انقلابي شاعر هغه شاعر دی چې د ده په شعر کې د کارګرو او دهقانانو د طبقې هیلې او مسایل پراته وي.

په دې اساس شاعران سرې په مختلفو ډلو او ګروپونو ویشلی شي. دا باید هم یاده شي چې ځینې داسې شاعران هم شته دي چې د شعر محتویات یې د مختلفو ډلو د مسائلو او علائقو نمایندګي کوي. په دې حالت کې باید هرې ډلې ته منسوب شعرونه د کمیت له لحاظه درجه بندي شي. د درجه بندۍ لپاره سرې یوبیت یا یوه مصرع د واحد په حیث استعمالولی شي.

د کومې ډلې شعرونه چې ترټولو زیات وي همدغې ډلې ته



سرې دغه شاعر منسوبولی شي. دا چې په کومه اندازه دغه شاعر د دغې ډلې سره ورته والی لري او ددغه ډلې په هدفونو او مسائلو په حل کې برخه اخلي. د شاعر د رول د تحلیل په واسطه چې په شعر کې پروت دی اټکل کیدلای شي ځکه چې هر شاعر کې د یو چا، یا څه شي سره ځان مشابه او ورته کوی او یو رول لوبوي. د مثال په توګه د ګل، بلبل، تندر، ناصح، کتونکی، تماشاکونکی د یوې ډلې دغړی یاد کومی ایډ ولوژی د نماینده د یوې ډلې د مشر یا مبلغ او داسې نور رولو نه لوبوی.

دلته باید وکتل شی چې شاعر د دغی ډلې په هدفونو مسائلو کې څه رول لوبول غواړی یوازې د ډلې د هدفونو او مسائلو تمثیل د یوه کتونکی په حیث کوی او که ددغه ډلې د مسائلو او هدفونو په حل کې ددغه ډلې د غړی یا مشر یا کوم بل څه په حیث فعاله برخه اخلی او د مسائلو د حل لپاره نظری، پیشنهادونه، ابتکارونه وړاندی کوی او که نه!

دبورژوازی په ایډولوژۍ ملبس شاعران یوازې د د طبقاتی ټولنې د تضادونو تمثیل کوی او ددغه تضادونو دحل او منځه وړو لپاره کومه نظریه نه وړاندی کوی او د بدلون اراده نلری.

دلته باید دا خبره هیره نه شی چې د شاعر د یوه یا یوڅو شعرونو په اساس چې د کومی ډلې پورې اړه لری باید قضاوت ونه شی بلکې د ده د ټولو یا اکثره شعرونو په اساس چې ددغه ډلې پورې اړه لری ځکه چې یو شاعر پخپلو مختلفو شعرونو کې مختلف رول لوبولی شی حتی په یوه شعر کې هم ممکنه ده چې شاعر ډېر رولونه ولوبوی.

---------------------------

(×××)قانونونه زمونږ په عقیده په دوه ډوله دی مصنوعی

قانونونه او طبعی قانونونه:

مصنوعی قانونونه هغه قانونونه دی چې د خلکو له خوا جوړیږی( لکه حقوقی قانونونه ) او اکثره وخت د هغه خلکو له خوا منځ ته راځي چې قدرت یې په لاس کې وی له همدی کبله ددغه خلکو د ګټو د ساتلو په خدمت کې دی.

طبیعي قانونونه هغه قانونونه دي چې د خلکو له خوا په ارادي توګه نه جوړیږي بلکې د خلکوله خوا درک اوموندل کېږي.

اخستونځی:

1سیدرسول رسا: ادبي تنقید« یونیور ستی بک ایجنسی خیبر بازار پیښور
2 S.Freud: "Das Unheimliche; Aufsätze zur Literatur", Vlg.Fischer 1963
3 S.Freud: "Gesamelte Werke"; Bd 13, Vlg.Fischer 1968
4 C.G. Jung: "Bewusstes und Unbewusstes", Fischer Bucherei, 1957
5د ملنګ جان: « خوږی نغمی» پښتو ټولنه
پښتونخوا: (د مضامینو او شعرونو ټولګه)/ چاپکال: ۱۹۷۷
Pakhtoonkhwa: A Collection of Essays and Poems / published in 1977 Germany



# خاطر اپریدی

زړه که مې هر څو رانه هر څه غواړي
هیڅ نه دی خبر چې هر څه زړه غواړي
تل به بې پروا وي ګړنګونو نه
څوک چې خپل منزل ته رسیده غواړي
خلک پرې تیر شوي د سرونو نه
خوله ورنه خاطر په تشه خوله غواړي

دا شعر د مصري خان خاطر (خاطر اپریدی) دی، چې فلسفي، ادبي او ټولنیز ارزښت یې ډېر دی او د شعر په فن کې د خاطر لوړ استعداد او توان راپه ګوته کوي.

مصري خان خاطر په ۱۹۲۹م کال کې د خیبر په تاریخي دره کې د اکبر خان په کور کې ځیږیدلی دی. دی په قام زخه خیل اپریدی دی. خاطر لا وړوکی ؤ، چې د مور او پلار سیوری یې له سره کم شواو له زده کړي څخه بې برخې پاتي شو، چې له دې کبله یې په لومړی سر کې لیک لوست نه شو کولی، خو بیا وروسته یې د لعل زاده ناظر شینواري څخه لیک لوست زده کړ. شاعري یې په وینه کې راوړي وه، خو د ناظر اصلاح په کې ډېرې بلې کړي.

د خاطر هر غزل زړه راښکونکی دی او هر شعر یې لکه د پښتو د ټپې غوندې د زړه تل ته کوزېږي او د زړه په کور کې ځای مومي. دا ځکه چې خاطر خپل شعرونه اوغزلې په روانه ولسي ژبه ویلي دي، چې دده دځو غزلو دا څو بیتونه ددې خبرې ګواهي (شاهدي) کوي:

زه خاطر دې نور خاطر کولی نه شم
ای رقیبه که پوهېږې نو سړی شه

او په بل غزل کې وایي:

چې د زړه کور له دې راشي پروا نه شته
ای خاطره، خاطر تل د مېلمنو شي

د خاطر ټول شعرونه د یو بل څخه خواږه دي لکه چې وایي:

خلک چې ننبه ولي ګوري ورته
تاچې مخ پټ کړ نو ګوزار دې وکړ

او یا داچې:

چې څه یې کړل هغه یې ټول وکړل په تا خاطره
که دي یوځلي په لاس راشي په اشنا به څه کړي

دمصري خان خاطر خوږې غزلې او شعرونه د مقدرشاه مقدر او فضل ربي قیس په زیار سره د سندرغاړو اوولسي خلکو له خولې او له ځینو مجلو څخه چې دده غزلې او شعرونه په کې چاپ شوي ؤ، راټول شوي او د تاترې پښتو ادبي جرګې، خیبر ایجنسۍ له خوا په ۱۹۸۷ م کال کې د «دیوان خاطر» په نوم چاپ او خپاره شوي دي.

ښاغلي مقدر شاه مقدر په دغه کتاب کې د خاطر د شاعرۍ د پیل په هکله د ښاغلي باجوړي خبره راوړي، چې ښاغلي مراد شینواري ورته ویلي ؤچې په ۱۹۴۹ م کال کې به خاطر زمونږ



سره په لواړګي کې د باصر چای والا په دوکان کې کښیناستو او ددغه ادبي محفل تر اغیزې لاندې راغی او په شاعرۍ یې پیل وکړ. په دغه وخت کې دی د شلو کلونو په عمر ؤ.

خاطر اپریدي په خپل ژوند کې ډېرې تودې سړې تېرې کړې دي، ځکه چې ددې اقتصادي حالت ښه نه ؤ، د مال دولت څخه پرته ژوند تیرول ډېر ستونزمن کار دی، خو ده هیڅکله خپل همت نه ؤ بایللی او په خپلو مټو یې خپل بال بچ ته روزي پیدا کوله او په هر حالت کې به یې منډې ترړې وهلې، ان تر دې چې په نري رنځ اخته شو، او له دې دنیا نه یې د ارمانونو ډک زړه د ۱۹۶۹ م کال د جون دمیاشتې په یوولسمه نیټه د څلویښتو کالو په عمر ګور ته یووړ او په خیبر کې په خپله پلرنۍ هدیره کې په ډېر درناوي سره خاورو ته وسپارل شو.

خاطر نه مري شعر ژوندی یې په جهان دی
هر یو بیت یې ولسي ساده روان دی
خاطرې به د خاطر، خاطر کې تل وي
چې جوړ کړی د غزلو ګلستان دی
که خاطر د رقیبانو خاطر نه کړي
خو خاطر د مېلمنو کړي قدردان دی
د خاطر خاطر په ستوري ځکه ګران دی
چې خیبر یې په مصرو باندې ودان دی

که چیرې د خاطر شاعرۍ ته د موسیقۍ په ننښتون کې وکتل شي، نو د موسیقۍ سره په اسانۍ یو ځای کېږي. د خاطر په سلو کې څه ناڅه اتیا (۸۰)شعرونه هنر مندانو د موسیقۍ په پردو کې راوړي دي. د پښتو نامتو هنرمندانو، لکه د پښتو د موسقۍ بابا استاد خیال محمد ،استاد اول میر، استاد ګلزار

عالم، استاد شاولي او نورو ګڼ شمیر سندرغاړو د خاطر غزلې په خپلو خوږو او زړه رابښکونکو غږونو کې ویلې او دده غزلونو ته یې ژوند وربخښلی دی.

ښکلي به سر ټیټ کړي یاره ستا په تصور کې
ډېر خاطره ستا دغزلونو په سرونو

د لیکلو نیټه: ډسمبر ١٩٩٥



# د امیر حمزه شینواري یاد

د پښتو غزل بابا ابوالمراد امیر حمزه شینواری په ١٩٠٧ عیسوي کال د ډسمبر په میاشت کې په لواړګي کې د قومي مشر ملک بازمیرخان په کور کې زیږیدلی دی. حمزه شینواری دوه کلن ؤ چې د مور د سر سیوری یې د سره کم شو. پلار یې یو مالدار ، ملک او سرکاري ټېکه دار وو، او په خپلو کارونو بوخت ؤ چې له دې کبله یې حمزه ته یې پوره نه لرلو او مشر ورور یې هم ورته ډېره پاملرنه نه شوه کولی او د ژوند تودو سړو ته له کوشنیوالی ګوښې پاتي شوی ؤ.

ښاغلي حمزه شینواري د شپږو کلونو په عمر د لنډي کوتل په ښوونځي کې په زده کړه پیل وکړ او بیا په پیښور کې اسلامیه کالج ته لاړ، هلته یې د نهم ټولګي (جماعته) پورې زده کړه وکړه او بیا یې ښوونځی پریښود.

د زده کړې او سبق د پریښودو علت د حمزه شینواري په اقتصادي ستونزو او یا په بې توانۍ او د استعداد په کموالي کې پروت نه دی، بلکې د یو ښوونکي (استاد) دښوونې او روزنې په نیمګړتیا کې چې دده زړه یې د زده کړې (سبق) څخه تور کړی و، پروت دی. د میر حسین شاه دقول له مخې دی

پخپله وايي: «سبق ته تلم راتلم، په تختې به مې پټۍ هم ليکله، خو يوه ورځ چې مې کور کې د پټۍ ليکل وکړل، نو يو نوی خيال مې په ذهن کې وغوځېده. د تختې د پاسه مې د پټۍ په ځای د انسانانو خاکې جوړې کړې، پخپله ورته د خوشالۍ نه کټ مټ په خندا شوم، او سهار چې مدرسې ته تلم نو د خوشالۍ نه په جامو کې نه راتلم. خو چې استاد ته مې تختۍ ورښکاره کړه او هغه وکتله نو اکر بکر يې ودران شو او چغه يې کړه ،، نا لايقه دادې څه کړي،، او ورسره يې بيا راواخستو بس نو بيا استاد جي دا پروا نه کوله چې سر مې لګي که پښې، خو بيدريغه بېدونه يې چلول او چې نهم جماعت ته لاړم نو د ځوانۍ سپرلي مې د بغاوت جذبه نوره هم تېزه کړه. بيا را باندې د چا لاس نه رسيدو نو تعليم مې پرېښود او نيمګړی پاتې شوم. يو بې کيفه اضطراب ؤ او زه ؤم.

نن چې دا څه اوتې بوتې ليکلي شم د پنځوسو کالو د مطالعې حاصل دی او بس.

ښاغلی حمزه شينواری لا په پنځم ټولګي (جماعت) کې ؤ چې په اردو ژبه يې شعرونو غوټۍ وسپړدې، خو په پښتو شعر يې د ۲۳ کالو په عمر په ۱۹۳۰ عيسوي کال کې پيل وکړ. ده ته په دغه کال کې پير سيد عبدالستار شاه چشتي نظامي نيازي وويل چې د اردو پر ځای په خپله مورنۍ ژبه شعرونه جوړوه، ځکه چې د هغه په خيال ده په خپله مورنۍ ژبه ظلم کاوه.

ښاغلي ابوالمراد امير حمزه شينواري د پير سيد عبدالستار شاه خبره سيند ته ونه غورځوله او د پښتو شعر په ويلو يې پيل وکړ او په معجزانه توګه يې د اردو شاعرۍ ته مخه ښه وويله او د خپلې ژبې شاعرۍ ته يې غېږ پرانسته.



د پير سيد عبدالستار شاه تصوفي نظرياتو په ده ډېره اغېزه کړې ده. حمزه شينواری ډېر کلونه دده مورېد او شاګرد ؤ او لاس نيوی يې ورنه کړېدی، همدا وجه ده چې د تصوفي نظرياتو خواته د حمزه تمايل دده په ټولو اشارواو د ليکوالۍ د ټول فعاليت په جريان کې ليدل کېږي.

د ۱۹۴۱ په اخر کې د پښتو فلم ليلا او مجنون د سندرو او مکالمو لپاره د بمبئ يوې فلمي کمپنۍ وغوښت، په دغو ورځو کې د حمزه شاعرۍ ټول روح د غزل په بڼه کې ځرګند شوو.

دښاغلي حمزه شينواري تصوف د پښتو او پښتونولۍ سره مل دی، لکه چې وايي:

حمزه سفر که د اعجاز وي نو هم
زه د پښتون د قافلو سره ځم

د رحما بابا نه وروسته امير حمزه خان شينواري د تصوف په پاچاهۍ کې په پښتو ادب کې ملي ورمې خوري کړي دي او په تيره بيا د پښتو غزل ته يې نوی ژوند وربښلی دی او د پښتو د غزل بابا ګڼل کېږي.

دده د وينو سرخۍ د پښتو غزل ته د ځوانۍ جوش او مستي ورکړې ده، لکه چې وايي:

ستا په اننګو کې د حمزه د وينو سره دی
ته شوي د پښتو غزله ځوان زه دې بابا کړم

د پښتو دغزل بابا امير حمزه شينواري د نورو شاعرانو په هکله چې د غزل په هنر کې ګوتې وهي وايي:

حق به ادا نن د غزل نه کړي
پل چې هر څوک ځما په پل نه کړي

حمزه شينواري به له نورو شاعرانو سره هم راشه درشه لرله او

ملګرتيا به ورسره پاله. په ۱۹۸۳ ع کال کې چې زه د ضياالحق مارشلا يې رژيم له خوا د پښتنو ديووالي او ازادۍ په خاطر د سياسي فعاليتونو په نامه نيول شوی وم او د پېښور په سنټرل جيل (مرکزي زندان) بندي او د نظارت لاندې وم نو پدغه وخت کې د پښتو ژبې تکړه ليکوال او شاعر ښاغلی عبدالرحمن لوګی کاکاخېل چې د«زه او حمزه» د سرليک لاندې کتاب يې هم ليکلی دی، په سنټرل جيل کې بندي ؤ. حمزه شينواری به يې ملاقات ته راتلو. حمزه شينواری چې له ما څخه خبر شو نو د ملاقات ډېر کوښښ يې وکړ خو له بده مرغه هوم سيکرټريټ (کورنيو چارو سوبائي دفتر) او د جيل انتظامې ورته زما د ملاقات اجازه ور نه کړه، ځکه چې سياسي بندي وم او ملاقات راباندې بند ؤ.

بيا ما ته عبدالرحمن لوګي صيب دده د ملاقات د کوښښونو وويل، خو زما ملاقات ورسره ونه شو، خو هر وخت چې به يې له لوګي صيب سره ملاقات کاوه نو زما د حال احوال به يې له هغې څخه اخسته. لوګې صيب به هم ډېر ښه ښه شعرونه ويل چې د بيلګی په توګه يې دا شعرونه ليکم:.

کله راته ځان نه دا جهان ورکی ښکاري
کله د هر چا نه راته ځان ورکی ښکاري
وي به په غلطه که تحقيق ورپسې وکړي
چا ته چې لوګی عبدالرحمن ورکی ښکاري

ښاغلي حمزه شينواري د پېښور راډيو لپاره هم ډيري ډرامې او افساني ليکلی دی، په ۱۹۳۷ع کښې د تصوف په حقله يو کتاب (تجليات محمديه) هم چاپ شوی دی. په دې کال کې يې له پېښوره د «رڼا» مجله هم جاري کړي وه.



حمزه شينواری د شعر، شاعرۍ نظم، نثر او نورو ليکنې تر څنګ زميندار، ژرنده ګړی، کوچيانۍ پيغله، جهاد، ميراته، خارغلی مورچه، شليدلئ ښه او داسې نوري ډېرې په زړه پورې ډرامې او افسانې ليکلي دی. ده د ليلا مجنون پښتو کيسه هم ليکلې وه چې بيا تری لومړنی پښتو فلم جوړ شو.

حمزه شينواري د ۱۹۹۲ عيسوي کال د فبرورۍ په ۱۸ مه نيټه ددې فاني نړۍ څخه د تل لپاره سترګي پټې کړی او د فرورۍ په ۱۹ مه نيټه په خيبر کې په خپله پلرنۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

روح دې ښاد وي.

د ليکلو نيټه: فبروري ۱۹۹۲

# ځلنده ستوری

که ټولنه د يوې خوا ننګيالي او اتلان زېږوي، نو د بلې خوا ننګيالي او اتلان په ټولنه کې خورا مهم رول لوبوي. په پښتنه ټولنه کې د ننګياليو مشرانو منظوم تاريخونه شته دی. د بېلګې په توګه د کونړ د لوی خان ميرزمان خان منظوم تاريخ چې بيا وروسته د استقلال په څلورمه جبهه نومې کتاب کې چاپ شوی دی، او د دغه راز په ،،پټه خزانه،، کې شعرونه دا خبره مونږ ته راپه ګوته کوي چې شعر د ادبي ارزښت سربيره تاريخي ارزښت هم لری.

د ۱۹۹۸ عيسوي کال د سپټمبر په مياشت کې د سوات د ماما خيلو خانانو منظوم تاريخ ،، ځلنده ستوري،، د ښاغلي قيمت ګل انقلابي له خوا ليکل شوي دی . ښاغلی قيمت ګل په خپله شاعرۍ کې د ماما خيلو خانانو د پوره پوره پېژندګلوۍ کوښښ کړی دی، او د هغه حالاتو يې لنډه يادونه (ذکر) کړې ده د کومو حالاتو او ناخوالو سره .چې دغه کورنۍ مخ شوي ده

د پښتو ژبې نامتو ليکوال ، شاعر او افسانه ليکونکی ښاغلي لايق زاده لايق د کتاب په سريزه کې ليکي چې د سوات د خاورې په سوونو زوړ اولرغوني تاريخ ګواه دی چې دلته کله



هم يو استعماري قوت د عام ولس د حقوقو خلاف قدم پورته کړی دی، نو د ماماخيلو خانانو کورنۍ د دغه ظلم او جبر خلاف عملي او کوټلې مبارزه کړې ده او په دغه لاره کې د هر رنګه کړاوونو ، تکليفونو او ستونزو په نره يې مقابله کړې ده.

دغه ټول داسې حقيقتونه دي چې څوک ترې انکار نه شي کولی. قيمت ګل انقلابي د شاعرۍ د رنګونو په زريعه د ماماخيلو د کورنۍ سره د خپلې مينې اظهار کړی دی.

په دغه اظهار کې د ساده ګۍ رنګ جوت ښکاري او دا په دې اساس چې ښاغلی قيمت ګل انقلابي ولسي شاعر دی او دومره ډېر ليک لوست يې نه دی کړی.

ښاغلي انقلابي د ماماخيلو د خانانو منظوم تاريخ د خان محمد حبيب خان څخه چې د دارمي خان په نامه ياديده او د پښتون قامي وحدت ستر لاښود او د ماماخيلو د نامتو مشر محمد افضل خان (خان لالا) پلار دی پيل کوي.

ښاغلي انقلابي د خان محمد حبيب خان منظومه کيسه په دې شعرونو پيل کوي:

راشه وروه چې خبر دې کوم له حاله
يو اميل د سرو ګلونو در کړم تاله
هره پاڼه لټوه، ښه ورته ګوره
د مقصد پاڼې ترې وليږه هر خواله
پدې سوات کې يو امير ؤ درته وايم
ؤ د سوات د پښتنو د فخر سياله
نوم د دې امير، محمد حبيب خان ؤ
په دارمي خان مشهور ؤ زما لاله
د دارمي د امير لويه مرتبه وه

ځکه نه ځي په پيړوو پيړو له خياله
قيمت ګله دا قيصه کړه په خوند جوړه
اوريدو ته يې دي ډېر خلک ليواله

ښاغلی انقلابي په ۱۱۵ مخونو کې د سوات د ماماخيلو منظوم تاريخ ليکلی دی چې ديو بل شعر په يوه برخه کې وايي:

سوات تاريخ کې چې نوم راځي اول
نوم ددغه خان محمد حبيب خان دی
ازادي کې د سوات لاس ددې نواب ؤ
ځکه نن په وړو، لويو باندې ګران دی
په صفت يې کونډې رنډې خوشالېږي
سوات تاريخ کې دده نوم لعل ومرجان دی
هره پاڼه د تاريخ پرې سلام وايي
نوم ګټلی يقيناً د دارمي خان دی
سلسله يې د نومونو شروع کومه
پام کوه وروره دا ټول يو خاندان دی
د محمد حبيب خان يو مشر ورور ؤ
نوم ددغه خان محمد ماسم خان دی
دا باقي شپږ د دارمي دخان ځامن دي
ما دبيل بيل شناخت کړی په ميدان دی
په کاکا خان به چې ياد ؤ اشاړي کې
اصلي نوم دده محمد يعقوب خان دی
دويم خان ته چې يې خان د بيدرې ويو
نوم د هغه خان محمد رسول خان دی
اشاړي کې ددې خان دوه فرزندان دي
کاکي خان، چې په نامه عبدالخالق خان دی



دا دويم ورور دکاکي خان ډېر زيات دلير ؤ
نوم ددغه دلير عبدالحميد خان دی
پنځم ځوی د خان ديره په درشخيله
په نامه باندې محمد عالم خان دی
درشخيله چې پرې نن ورځې ګلزار ده
نوم د هغه ځوان محمد افضل خان دی
دا شپږ واړه د دارمي دخان ځامن دي
ما دهر يو تعريف کړی په ښه شان دی
غيرتي پلار غيرتي ځامن راوړي
په هر يو دماماخيلو کور ودان دی
قيمت ګل وی، زه يې نه ستايم يوازې
په صفت ددوی هر سړی ګويان دی

د ليکلو نيټه: جنوري ۱۹۹۹

# د پښتونخوا د پوهنې دېره

په ويښتو کښې زما سپين ډکي ښکاره شو
خپل احساس راته دا وايي چې بوډا شوې
خو مئين زړه دا خبره کله مني
وايي اوس خو ايله ځوان شوي چې بابا شوې

دا شعر د پښتونخوا د پوهنې ددېرې مشر او د پېښور راډيو جنرل ډايرکټر نامتو ليکوال ،شاعر اديب، افسانه ليکونکي او ژونالست ښاغلي لايق زاده لايق دی.

ښاغلی لايق د ۱۹۵۹ ع کال د جنورۍ د مياشتې په پنځلسمه نېټه د خدای بښخلي لعل جان ميان کره د سوات په ښايسته او مشهور کلي «مدين» کښې ځيرېدلی دی.

ښاغلی لايق زاده لايق په قام اخون خيل، مشرخيل دی. لومړنۍ زده کړې يې په خپل کلي کښې کړې دي. لوړې زده کړې يې په اردو ادب، سياست، حقوقو او پښتو ادب کښې تر سره کړي دي.

ښاغلی لايق زاده لايق سربېره پر دې چې د پښتونخوا ددېرې د بنسټ اېښودونکو د ډلې مخکښ او مشر دی، د پښتو ژبې يو وتلی نوميالی او منلی شاعر ، ژورنالست اوغوره افسانه ليکونکی هم دی.

نامتو ليکوال او څېړونکی ښاغلی ځلمی هېوادمل د



افغانستان د څېړنې د مرکز په خپرونه «ازاد افغانستان» کښې د پښتونخوا د پوهنې ددېرې په هکله ليکي چې : دا ټولنه د لرو اوبرو افغانانو په ګډه همکارۍ د ۱۹۹۸ عيسوي کال د اګست په مياشت کښې جوړه شوې ده، او په پېښور کښې فعاليت کوي.

ددې ټولنې په يادښت کښې راغلي ،چې د پښتونخوا د پوهنې دېره په ولس کښې د ځان پيژندنې د روحئ د پياوړتيا لپاره هلې ځلې کوي، چې د هر ډول سياسي نظر نه پرته د پښتني کولتور، پښتو ژبې اوادب د پرمختګ لپاره کار وکړي او په دې توګه د لر او بر ليکوالانو تر منځ د هماهنګۍ او نظريو يووالي ته وده ورکړي.

د پښتونخوا د پوهنې دېره دوه څانګې لري. د فرهنګي څانګې چارې يې ښاغلی ننګيالی ميردادخيل په غاړه لري او مطبوعاتي څانګې مسئول يې ښاغلی جمشيد نديم نيازي دی.

فرهنګي څانګه يې د کولتوري غونډو او مشاعرو د جوړولو لارې سنجوي او د موسيقۍ پروګرامونه برابروي

تر اوسه پورې ددې څانګې له خوا د موسيقۍ دوه پروګرامونه شوي دي، چې د هېواد نامتو شاعر او پيژندل شوی هنرمند استاد رحيم غمزده ، ښاغلي ځلمي غمزده ، خوږ غږي سندرغاړي او کمپوزر ښاغلي ماسټر علي حيدر، ښاغلي رضوان منور، ښاغلي شاضوان منور، سيداګل مينا ، ګل جان صادق په خوږو اوازونو او ګڼ شمير نورو هنرمندانو په موسيقۍ رنګينه شوي ؤ.

مطبوعاتي څانګه يې له ليکوالانو سره اړيکې ټينګه وي، د اثارو لپاره يې د چاپ زمينې برابروي.

د پښتونخوا ديرې په خپل دې کولتوري سفر کښې تر اوسه شپږ کتابونو ته د چاپ اسانتياوې برابرې کړې دي او د پوهنې له ديرې له خوا چاپ شوي دي.

ګل پاڼه: د مبارز څاپي شعري مجموعه،

ماته آئينه: د لايق زاده لايق لنډې افسانې،

لعلونه: د اختر ملک اختر او رحيم سيد خان ټولونه

د سوات او ملاکنډ د شاعرانو منتخب شعرونه او پيژندګلوي،

يادونه: د محمد ابراهيم بيدروال شعري ټولګه (مجموعه) او

ژوندی وزر: د ډاکتر ديدار يوسفزي شعري ټولګه، چې د پښتني (قيا) په سر يې دا شعر ليکل شوی دی:

پرواز کوم ،پرواز د توري شپې نه تر سحر
قيام کوم ،قيام زه دشعور په هر نظر
لټومه په الوت د فکر ورک منزل د قام
غوغ غوغ لرم ځيګر، خو لا ژوندی مې دی وزر

د پښتونخوا ددېرې مرستيال او لوي منشي ښاغلی عبدالبصير بيدار ددېرې عمومي چارې سموي او دېره د لر او بر د ګڼ شمير ليکوالانو په تماس توده ساتي.

پتمن پوهان چې په پښتو ادب کښې کره لاس اولوړ استعداد لري، په تيره بيا د اسلاميه کالج استاد پروفيسر اباسين يوسفزی، د پيښور د پوهنتون د ژورناليزم ډيپارټمنټ مشر ډاکتر شاه جهان د پښتونخوا ددېرې ډيوه بله ساتي.

د ليکلو نيټه: اکتوبر ۲۰۰۰



# سياسي پوهنه

په اوسني وخت کې د سياست او سا پوهنې (نفسياتو، روحياتو) په اړيکو (تعلقاتو) ډېر ټينګار کېږي؛ ځکه چې سياسي پېښې بې د هغوی د ساوالو (نفسي يا روحي) علتونو او وجوهاتو څخه تشريح او روښانه کېدلی نه شي؛ خو مخکې له دې څخه چې د سياست او ساپوهنې په اړيکو وګړېږو پکار ده، چې خپله د سياست او ساپوهنې بنسټونو (بنيادونو) ته ځغلنده کتنه وشي، تر څو چې لوستونکي ددغو دواړو پوهنو د بڼو (شکلونو، څېرو) او ډډ (ماهيت) څخه خبر او په اسانۍ سره يې په اړيکو او خپلوۍ پوه شي.

**سياسي پوهنه**: د سياست اصطلاح لکه د نورو اصطلاحګانو په شان د عوامو په ژبه کې يو مانا (معنا) او په پوهنيزه (علمي) ژبه کې بله مانا لري. پخپله په پوهنيزه (علمي) ژبه کې هم مختلف پوهان او ليکوالان د سياست د اصطلاح د لاندې مختلفو څيزو نه پوهېږي.

سياسي پوهنه يوه لرغونې او پخوانۍ پوهنه ده. دغه نوم د يوناني کلمې پولېس **(Polis)** څخه راوتلی دی، چې د ښاري هېواد **(City-State)** مانا ورکوي کوم، چې پخوا په يونان کې

و. يوناني فيلسوف ارستو(**Aristo**) ، چې د ۳۲۲ څخه تر ۳۸۴ ق. م (قبل الميلاد) کلونو کې تېر شوی دی يو کتاب وليکه. ددغه کتاب نوم سياست، يعني پولټيك (**Politics**) و، کوم چې د يونان د ښاري هېواد **City-State**، چې د پوليس (**Polis**) په نامه يادېده باقاعده څېړنه وه.

د همدې ځای نه دا نظر راوتلی دی، چې سياسي پوهنه د هېواد(**State**) پوهنه ده او د هېواد سره سر و کار لري؛ خو دلته دا ويل هم پکار دي، چې په نړۍ کې د نورو څيزونو په شان هېواد (**State**) هم په ټول وخت کې په يوه بڼه (شکل) کې نه دی پاتې شوی او وخت په وخت يې خپله بڼه بدله کړې ده. د انساني ټولنې د تاريخ په لومړنيو پړاوونو کې هېواد (**State**) نه و؛ خو کله چې انساني ټولنې وده وکړه او زياته منظمه بڼه يې ونيوله؛ نو هېواد (**State**) منځته راغی. ځينې ليکوالان داسې فکر کوي، چې د انساني تاريخ په لومړنيو پړاوونو کې خصوصي ملکيت نه و او هر شی ګډ او شريك و؛ خو بيا وروسته خصوصي ملکيت منځته راغی او خصوصي ملکيت د منځته راتګ سره سم اتثمار (استحصال) هم منځته راغی او انساني ټولنه په دوو ډلو (طبقو) يعنې استثمار کوونکيو (استحصال کوونکيو) او استثمار کېدونکيو (استحصال کېدونکيو) باندې ووېشله شوه او هېواد (**State**) بيا د استثمار کوونکيو د حاکميت د يوې وسيلې په توګه (حيث) منځته راغی. دا ليکوالان په دې عقيده دي، چې ټولنه د ودې او پرمختګ په لور روانه ده، چې په اخرني پړاو کې به د توليد (پيداوارو) په وسايلو قبضه، يعنې خصوصي ملکيت د منځه لاړ شي او بېرته به ټولنيز او ګډ شکل غوره کړي. دا به استثمار (استحصال) او



په دي توګه استثمار کوونکي (استحصال کوونکي) ډله د منځه يوسي او بې ډلو (طبقو) ټولنه به منځته راشي. څنګه، چې هېواد (**State**) د استثمار کوونکي (استحصال کوونکي) ډلې د حاکميت يوه وسله وه؛ نو چې استثمار (استحصال) او استثمار کوونکي (استحصال کوونکي) ختم شو؛ نو د هېواد (**State**) د موجوديت ضرورت نه پاتې کېږي او دا به هم د منځه ځي.

# ژبه او فکر

زمونږ فکر د ژبې سره نه شليدونکې اړيکې لري . ددې لپاره چې د ژبې او فکر په اړيکو ښه پوه شو په يو مثال سره د فکر مهم اړخونه راپه ګوته کوو.

مثال : کله چې سړی په ژمي کې په حجره کې د شپې ښخ اوده وي او سهار د خوبه راپاڅي او د حجرې څخه بهر را ووځي، ووينې چې ځمکه لمده ده نو فکر کوي چې د شپې باران شوی دی . که دې مثال ته ځير شونو وبه وينو چې سړي خپله باران ليدلی او حس کړی نه دی خو د ځمکې د لمدوالي پواسطه په دې پوهيږي يا خبريږي ، په نورو تورو سره ،فکر د ناسيده (غيري مستقيمې ) پوهيدنې يا خبرېدنې لرې ده چې دا د فکر يو اړخ دی.

دغه نا سيده پوهېدنه ياخبريدنه د شيانو په منځ کې د اړيکو او نښتونو په بنسټ ولاړه ده تل چې باران شوی دی نو



ځمکه يې لمده کړيده او دغه نښتون څخه سړی خبر دی نو ځکه وايې چې د شپې باران شويدی دلته د فکر بل اړخ راښکاره کېږي ، چې هغه عمومي والی دی يانې د ځمکې د لمد والی او باران په منځ کې نښتون عمومي خوئی لری او د کوم يو خاص باران پورې د ځمکې لمدوالی تړلی نه دی هر باران ځمکه لمدوي . په نورو تورو سره دا ددې مانا لري چې د فکر پر لرې کې مونږ شيانو د يوې ډلې د عمومي خاصيتونو سره مخامخ يو ، فکر د يوې ډلې شيانو د عمومي خاصيتونو انعکاس او د شيانو په منځ کې د عمومي نښتونونو او اړيکو موندنه ده.

د فکر په «ناسيده توب او عمومي توب» کې د ژبې سره دفکر اړيکي پراته او نغښتلی دي.

ژبه که د يوې خوا د فکر څرګندولو « پوهيدلو او پوهولو وسيله ده » (۱ )

د بلی خوا د ژبې پواسطه مونږ فکر کووو او ژبه د فکر يو بڼه ده.

تيپلوف ( **Teplow**) د دننی يا بې غږه ژبې او د بهرنـي يا غږ لرونکی ژبې په منځ کې توپير کوي . او ليکی چې « بهرنی يا غږ لرونکی ژبه د نورو د پوهولو او دننی ژبه د ځان لپاره ده ،د کومی په مرسته چې مونږ فکر کوو او له دې کبله د فکر يوه بڼه ده . پخپله د فکر او د هغه د ژبني څهرې په منځ کې توپير دا دی چې سړی هماغه يو فکر په مختلفو ژبو څرګندولی شي . په دې لړ کې فکر ثابت پاتې کېږي، که څه هم ټول لغاتونه بدليږي هماغه يو فکر کولی شي چې دژبې مختلفې بڼې لري خو بې د ژبې د يوې بڼې څخه انسان فکر موجوديت نه لري ( ۲ )

مطلب دا دی چې د فکر په لړی کې مونږ تل د عمومي

نومونو او ويېو (اصطلاګانو يا لفظونو) سره سرو کار لرو کومې چې د يوې ډلې شيانو د ګډو او مهمو خويونو ښکاروندوى دى. د مثال په توګه د «کلک» ويې د ډېر شيانو خوى جوړ وي چې مونږ دغه ټول سيان چې کلک دى ليدلى نه شو خو فکر يې کولى شو له دې کبله عمومي نوم يا ويي (لفظ يا اصطلاح) د فکر يو څهره ده «هر فکر چې د انسان په سر کې تل پيدا کېږي دغه يوازې د ژبنې موادو او د ژبنې د ويېو او جملو په بنسټ منځ ته راتللى او پيدا کيدلى شى. داسې فکر چې د ژبنې موادو څخه، د ژبنى طبعى موادو څخه آزاد وى موجوديت نه لري» (۳)

لنډه دا چې مونږ د ژبې په مرسته فکر کوو بې د ژبې څخه فکر هډو منځ ته راتللى او پيدا کيدلى نه شي ژبه او فکر نه شلېدونکې اړيکي لري.

ژبه يوازې د فکر د څرګندولو او پوهېدلو اله نه ده، بلکې د فکر يوه بڼه هم ده.

اخستونځى:

(۱) ډوکتور هلالى «د ژبپوهنى مسالى» په کابل مجله کې، ګڼه ۱۱ کال ۱۳۲۵، م ۷۲

**(۲) Teplow : ( Lehrbuck der Psychologie )Frankfurt 1972, S128**

**( 3) Stalin, J.W .: ( Der Marxismus und die Frage der Sprach Wissenschaft ) Dietz verlog ; Berlin 1951 , S 46**



# د ژبې څهرې او بڼې

ژبه د انساني ټولنې د ودې او پرمختګ بنسټ جوړوي او يوازې د پوهېدلو اله نه ده، بلکې د فکر يوه بڼه ده. بې له ژبې څخه فکر منځ ته راتللى او لوى کيدلى نه شى.

ژبه درې څهرى يا بڼې لري: د غږ ژبه يا ګړيدنه، بې غږه ژبه يا د جسماني اشارو او حرکتونو ژبه او د ليک يا انځورونو ژبه.

**۱ ــ د غږ ژبه يا ګړيدنه**: د غږ ژبه يا ګړېدنه د ټيټو څخه جګو ته په څلورو برخوويشل شوې ده چې هره ټيټه برخه يې د خپلې جګې برخې ځانګه ده.

۱ ــ ګړ: ګړد ګړيدنې تر ټولو کوچنۍ برخه ده پښتانه وايې چې پلانکى سړى ما ته ګړ هم نه شي کوى.

يانې هيڅ راته ويلى نه شي. رښتيا چې ګړ ځانته او ګوښې هيڅ دى او هيڅ مانا لرلى نه شي، خو ګړونه که په يوه ټاکلي ګړنديوالى (سرعت) يو د بل پسې راشي نو بيا غږ جوړوي. د ګړونو مجموعى ته چې د غږ په ټاکلي ګړند يوالي (سرعت) سره نه وي غورريدنه وايې چې د ژبې مخکنۍ بڼه ده. (۱)

۲ ــ سیلاب: سیلاب کم نا کمه د دوه ګړونو څخه د ټاکلي ګړند یوالی په بنسټ جوړ شوی غږ دی لکه غر، کب، ور او داسې نور...

۳ ــ نومونه یا ویي (لفضونه): نومونه یا ویي د یو یا څو سیلابو څخه جوړ شوی غږونه دي.

۴ ــ جملې: جملې د څو نومونو یا لفظونو څخه جوړ شوی غږونه دي.

**۲ ـ بې غږه ژبه یا د جسماني اشارو او حرکتونو ژبه:**
داسې برېښې چې دا ژبه د انساني ژبې لومړنۍ او پخوانۍ څېره ده ځکه کله چې دوه کسان د یو بل په خبرو نه پوهېږي نو د جسماني اشارو څخه کار اخلی چې یو بل په خپل فکر، اراده او احساساتو پوه کړي. که څه هم د جسمانی اشارو او حرکتونو شمېر کم دی چې د ژبې ددې بڼې ارزښت او اهمیت یې راټیټ کړیدی خو بیا هم د کڼو او ګونګیانو لپاره د جسمانی اشارور یو اندازه بشپړه ژبه شته دی.

**۳ ــــ د لیک ژبه:** د لیک ژبه د غږیدو د ژبې څخه وروسته منځ ته راغلې ده د لیک د ژبې تر ټولو پخوانۍ بڼه انځوري لیک دی چې د میلاد څخه لس زره کاله د مخه اټکل کېږي. په دې لیک کې د ټا کلي لغات لپاره یو ټاکلی انځور (تصویر) وو. بیا ورسته انځور د مانا څخه ناپیيلی شو او دلغات سیلابونو پورې وتړل شو، یانې د لغات هر سیلاب ته یو انځور ونیول شو. په دې توګه د سیلابونو یو سیستم منځ ته راغی. ددی ګټه دا وه چې هماغه یو انځور به په مختلفو لغاتونه کې استعمالیده چې یو شانته سیلاب به یې درلود. د دی ډول



انځوري لیکونو ببلګې سومېري **(Sumere)** لیک دی چې له میلاد څخه دری نیم زره کاله د مخه اټکل کیږي، د مصر هیروغلیفي **(Hieroglyphe)** لیک چې له میلاد څخه دوه زره نهه سوه کاله د مخه موجود وو، مېخي لیک، پونیځي **(Phoenizie)** لیک او چیني لیک دی(۲)

عبدالحی حبیبی (۳)

یو ډېر لیک چې د میلاد څخه ۴۸۲ کاله د مخه په پښتو لیکل شوی او همدغسې ګل جانان ظریف (۴)

یو بل پښتو ډېر لیک چې دوه نیم زره کاله د مخه په میخی لیک لیکل شویدی را په ګوته کړی، دا دی مانا لری چې د اسلام څخه د مخه د پښتو ژبې لیکنی په میخی لیک وی.

دا نځوری لیکونو دودی په نتیجه کې د تورو (حرفونو) لیک د میلاد څخه زر کاله د مخه منځ ته راغی چې یو ډول د ګړونو سیستم دی، یانې هر ګړ ته چې د سیلاب یوه برخه ده یو خپل توری نیول شوی. بیا دغه لیک ایټالویانو واخیست او نوره وده یې ورکړه. او لاتینی لیک تری منځ ته راغی، چې نن ورځ زیات شمیر هېوادونو په لږ څه تغیر سره خپل ګرځولی دی یانې د هغه ګړونو لپاره چې د لاتیني ژبې په تورو کې نه و، خپل توری جوړ کړي او یا دوه یا زیات توری د یوه ګړ لپاره نیولی.

لنډه دا چې هر یوه د غږ ژبه د ټاکلی شمیر ګړونو څخه کار اخلی، چې د غږ تر ټولو کوچنی برخه ده نو د لیک د ژبې لپاره همدغه بنسټ او تاداو ګرځول شوی دی او د هر یو ګړ لپاره یو توری نیول شویدی. په دې توګه د غږ ژبه د لیک په ژبه اړول شویده او د لیک ژبه بېرته د غږ په ژبه اړول کیدلی شي.

اخستونځی: ۱ ـ ستوری ژبساپوهنه (ناچاپ اثر)

۲ ـ Duden ; Bd3 ,1962

۳ ـ عبدالحی حبیبي : د پښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوک پښتو ټولنه ـ ۱۳۴۲ مخ ۲ ـ ۸

۴ ـ ګل جانان ظریف : د پښتو ژبې د لرغونو متنونو یوه نمونه فرانکفورت ۱۹۹۳

پښتونخوا /دولسمه ګڼه /اووم کال / اګست: ۱۹۹۳

**Pakhtoonkhwa magazine**
**Jahrgang (Volume): 7 / Nummer (Number): 12 /**
**August 1993**



# د پسرلي احساس

په پسرلي کې د پسرلي احساس هم پیدا کېږي، دا چې د تودوخې زیاتوالی او د لمر وړانګې د انسان په مغزو کې څه پیدا کوي، د پوهنې د څېړنې یوه موضوع ده. کله چې پسرلی هېواد ته راشي، نو بیا یوازې مرغۍ نه چغېږي، بلکې په انسانانو کې هم د ژوند نوې ساه غوړېږي. د پسرلي دا احساس یوازې په زړه او مغز کې پروت نه دی. په دې هکله د BoscGhun د Rugr د پوهنتون نړېوال پېژندل شوی استاد بیو ساپوه Onur Junturnun وايي، چې هر څه په سترګو کې پیل کېږي. موږ په دې پوهېږو چې زموږ د سترګو د لیدلو برخې دا توان لري، چې د رڼا د توپیرونو پته ولګوي. د سترګو د لیدلو دا برخه د ورځې او د شپې د تال په انتظام کې مهم رول لوبوي. دا تال زموږ په ژوند اغېزه لري. د ورځې اوږدېدنه چې د سترګو له لیارې ثبت کېږي، د موسم په دوران کې رول لوبوي. Sunturnun زیاتوي، چې په منځنۍ توګه په پسرلي کې له ژمي څخه ورځې اوږدې وي او د ژوو یا حېواناتو په تجربو کې ثابته شوې ده چې د پسرلي او منې موسمونه پرې اغېزه لري. ددې تجربو په لړ کې سرې ته دا پته لګېږي، چې پسرلی او منی د ژوو، حېواناتو د هارمون په سیستم باندې اغېزه لري او د دماغ ډېرې نورې پېښې ددې موسمونو سره سمون خوري. په حېواناتو دا ډول تجربې ډېرې شوي دي، چې نتیجې یې د

انسانانو لپاره هم اعتبار لرلای شي.

د لمر وړانګې او تودوخه د انسانانو د هارمونو په سیستم اغېزه لري او د تودوخې د زیاتوالي له کبله ښځې هم نرۍ جامې اغوندي، چې وجود ته یې هوا پکې ورسېږي، چې دا بیا په سړو هم بل ډول اغېزه کوي. پوهاند Guntakun وایي چې دا خبره طبیعي ده چې په پسرلي کې هوا ګرمېږي او خلك هم بل ډول جامې اغوندي، چې سترګو ته غذا ورکوي.

د پسرلي د لمر د رڼا او تودوخې له کبله سترګې په ښکلیو کې داسې ښخې شي، چې زړه په درزا راولي. د پوهاند لپاره دا یواځې د تودوخې د تنظیمولو یوه پوښتنه ده .

Guntakun وایي چې دا امکان لري، چې موږ په ژمي کې ډېره انرژي کاروو، چې د وجود حرارت یا تودوخه او ګرمي ثابته وساتو. په پسرلي کې ښکاره خبره ده، چې د بهرني تودوخي او د وجود دننني تودوخي ترمنځ توپیر ډېر کم وي. دا د دې مانا لري، چې موږ ډېره انرژي په اختیار کې لرو. د اکثره بیو ساپوهانو لپاره ښکلول د اضافي انرژۍ د وېستلو مانا لري، خو پوهاند Guntakun وایي، چې په پسرلي کې پکار نه ده چې ښځې له سړو څخه جګ انتظارونه وکړي، ځکه چې دی په دې کې شك ګڼي چې دا اضافي انرژي واقعاً د ډېر او غټ فعالیت سبب ګرځي. کېدای شي چې اکثره وخت دا د غوړ په جمع کولو کې په کار واچول شي او ددې انرژۍ په اثر فعالیت منځ ته رانه شي.

ستوری مجله /۵مه ګڼه /دریم کال / اپریل: ۲۰۰۹

STORI magazine
Jahrgang (Volume): 3/ Nummer (Number): 5 / April 2009



# فرانکفورت کې دکتابونو نړیوال نندارتون

اکتوبر ۲۰۰۰

د ۲۰۰۰ م کال د اکتوبر د میاشتې په۱۷ مه نیټه د المان د فرانکفورت په ښار کې د کتابونو **۵۲** دوه پنځوسم نړیوال نندارتون پرانستل شو چې د اکتوبر په ۱۸مه نیټه تماشاچیان ورتللې شول او د اکتوبر تر **۲۳** مې نیټې پورې دوام لري. زه هم دغه نندارتون ته ورغلی وم.

د فرانکفورت د کتابونو په **۵۲** ام نړیوال نندارتون کې د ۱۰۷ هېوادونو څخه ۲۸۸۷ مطبعو او د کتابونو د هټیو استازو (نماینده ګانو) برخه اخستلې وه، چې څه نا څه دوسوه مربع متر ځایونو کې ۰۰۰ ۳۷۷ (درې لکه اوه اویا زره)کتابونه ایښودل شوي ؤ، چې له دې جملې څخه ۹۱۴۰۷ یې نوې چاپ شوي کتابونه ؤ.

د فرانکفورت د کتابونو په نړیوال نندارتون کې هم د نړۍ تخنیکي وده لیدل کیده. تقریباً هر څلورم کتاب پلورونکي الکتروني تولیدات ښودل او د انټرنټ **Internet** له لارې د کتابونو بازار نوی رنګ پیدا کړي ؤ.

په ننداړتون کې د Internet له لارې د کتابونو د اخستلو ښودنه هم کيدله، سړی کولی شي چې د ان لاين On کتابونو له بازار څخه د Internet له لارې کمپيوټر ته د يو خاص پروګرام د ورکولو او د فورمې د ډکولو له لارې کتاب واخلي او هر کتاب چې يې پکار وي هغه کتاب د کتاب په بڼه کې راغوښتلی ،په خپل کمپيوټر کې يې ثبت کولی او هم يې د څو دقيقو په وخت کې د کتاب په بڼه چاپ کولی شي.

داچې د انټرنټ دا ډول بازار دکتابونو په عنعنوي هټيو باندې څه اغيزه کړې اويا کولی شي، په دې هکله بيلابيلې نظريې شته دی. که سړی د المان د کتابونو بازار په نظر کې ونيسي ، نو وبه ويني چې په تير ۱۹۹۹ ع کال کې د ۱۸ ميليياردو مارکونو په اندازه کتابونه خرڅ شوي دي، په داسې حال کې چې د عنعنوي هټيو کتابونو بازار په کال کې په سلو کې يو اشاريه پنځه۱,۵او د انټرنټ د کتابونو بازار بيا په سلو کې ۱,۷۵يو اشاريه پنځه اويا ،وده کړې ده، د کتابونو د ټولنې د څرکندونو له مخې په اوسني وخت کې د کتابونو ان لاين بازار زياته وده کړي ده،خو سره ددې د ټول بازار يوه کوشنۍ (کوچنۍ) برخه جوړوي.

د المان د کتابونو د ۲۰۰۰ هټيو څخه په سلو کې د۱۵ څخه زيات يې په انټرنټ کې الکترونيکي ځانګې لري اوداسې اټکل کېږي چې په سلو کې ۴۰ کتابونه په عنعنوي هټيواو په سلو کې ۶۰ يې بيا په ان لاين (انټرنټ) کې خرڅيږي.



# کابل پوهنتون ته لنډه کتنه

د افغانستان په ناستون (پايتخت/پلازمينه) کابل کې دکابل پوهنتون چې په سيمه کې ډېر مهم او پخواني پوهنتون ګڼل کېږي اوس يې انګړ (احاطه ) په ډېره پيمانه (اندازه) سره خراب شوي دی. بريښنا (برق/بجلي) په نشت حساب ده. د بريښنا زيات مزي/تارونه شليدلي دي. د اوبو زيات شمير بمبي (نلکې) بندي شوي او له کاره لويدلي دی.

د کابل پوهنتون کتابتون، ارزښتناک کتابونه په ډېره اندازه ورک ياخرڅ شوي او يا د منځه تللي دي. د کتابتون هغه کتابونه چې د طالبانو د سياست او يا د دين سره تضاد لرلو ليرې کړی شوی دي، خو سره ددې هم د کتابتون په الماريو کې د غيرې اسلامې بريښيدونکو موضوع ګانوپه باره کې ليکلي کتابونه شته دی لکه «په امريکا کې ولسي سندغاړي او ولسي سندرې «او يا د افغانستان د کولتوي ميراث په هکله د بودا د مجسمو کتابونه چې طالبانو څه موده دمخه دمينځه ويوړل هم پکې شته دي. د نورو پوهنځيو سربيره د طب پوهنځي کمپوټرونه ،کتابونه، مايکروسکوپونه او لابراتوارونه هم له منځه تللي دي.

د دوه لسيزو جګړو څخه وروسته د کابل پوهنتون د نوي

پیل هڅه کوي او د کمپوټرېو نوی مرکز یې هم پرانستی دی. یو کمپوټر چې سرې پرې کار کوي د څلورو برخو څخه جوړ شوي دي. تر ټولو مهمه او اصلي برخه ته یې چې پروګرامونه پکې اچول کېږي اسناد (ډکومنټ) اونور هر څه پکې ژغورل شوي او خوندي شوي وي شمیرونکی وایي. بله برخه یې د لیدلو تخته یا تلویزیون (سکرین) دی، دریمه برخه یې دلیکلو یا د تورو تخته «کیبورډ»ده او یوه بله برخه یې د موږک (ماوس) په نامه یادېږي چې یو ډول ریموټ دی.

په دې مرکز کې دري کمپوټرونه او یو د کمپوټري لیکنو چاپوونکی (پرنټر) پروت دی. څلور یا پنځه شمیرونکي **Rechners** چې د کمپوټر اصلي او غټه برخه ده هم پراته دي.

له نیکه مرغه دلوما لینډا پوهنتون چې د امریکا د کلیفورنیا ولایت یو عیسوي پوهنتون دی چې کره برخه یې طب جوړوي، غواړي چې د افغانستان سره خپل د کلونو اړیکي بېرته تازه کړي نو له دې کبله یې د کابل پوهنتون په انګړ کې د طبي معلوماتو دیو مرکزجوړولو تابیا کړي ده. ددغه پوهنتون همکاران به وار په وار کابل ته راځي او د کابل پوهنتون سره به په راتلونکي کې مرستې جاري ساتي.

کابل پوهنتون په شپیتمو او ایویایمو لسیزو کې د عصري کیدلو قوه وه او نن ورځ د دیني او دونیائی نظریو د لانجې مرکز دی.

**۲۵** کاله دمخه په کابل پوهنتون کې نهه **۹** زره پوهیدونکي ؤ، او اوس د پنځوا شپږنیم زرو پوهیدونکو تر منځ دي.

د کابل پوهنتون رئیس مولوي پیرمحمد روحاني چې په



**۱۹۹۲** ع کال کې د طالبانو له خوا مقرر شوی دی وایي چې طبعي خبره ده چې نجونې (جنکې) په پوهنتون کې نه شته دی، له دې کبله د پوهیدونکو (محصلانو) شمیر کم شوی دی. د رسمي څرګندونو له مخې طالبان د ښځو د لوړې ښونې او روزنې پلویان دي. مونږ ددې هڅه کوو چې په پوهنتون کې د ښځو د بیا شاملولو لپاره لاره هواره او وسایل پیدا کړو. خو څرنګه چې د اسلامي حقوقو له مخې د ښځو او نرو ګډه زده کړه یا ګډ سبق منع شوی دی نو لومړی پکار دي چې بیل بیل د پوهیدنې او روزنې امکانات برابر شي. دا ددې مانا لري چې ښځې پرته له دې څخه چې په خپلو کورونو کې زده کړه وکړي د ښوونې او روزنې ځایونو ته لاره نه لري. پدې هکله نظریې شته دی، خو ددې نظریو خاوندان دې ته امتیاز ورکوي چې په احتیاط سره تبلیغ وکړي، تر څو چې د واکمنو سره په لانجه کې را نه شي.

د پوهیدنې په برخه کې یوازې د موسیقۍ زده کړه، د مجسمو جوړول او دژوندیو او ساه لرونکو درسامي رسم او انځورونه منع شوي دي.

ښاغلی روحاني دلودیځو نظریو ارزښتونه ردوي او وايي چې په اویایمو کلونو کې بهرنیو استادانو او پوهیدونکو د پوهنتون د ښو وسائیلو څخه ګټه اخستله ،خو په ډېره اندازه سره د افغاني کولتور ، دود او عنعنې څخه وړاندې ؤ، مونږ غواړو چې خپل دین او خپل کولتور وساتو چې دا زمونږ اصلي دنده ده.

# وطـن

وطـن څـه شـی دی ؟. هغـه ځـای چـې سـړی پکـې پيـدا شـوي دی، کـه هغـه ځـای چـې سـړی پکـې اوسـېږي، او کـه هغـه ځـای چيرتـه چـې د سړی کورنۍ او ملګري وي؟.

هـر يـو زمـونږ يـو يـا ډېـر دغـه شـان ځايونـه لـري، کلـه چـې يـو د لاسـه ورکـړي، نـو د هغـې پـر ځـای بـل لټـوي. يـو نـوی ځـای،نوی ملګـری او نـوي کـورنۍ. جلاوطـن هـم يـو نـوی ځـای دی چـې سـړی ورسـره د خپلـې کـورنۍ او ملګـرو سـره روږدي کېـږي. يـو شـمير کسـان پـه جلاوطنـۍ کـې ځـان يـوازې او ګوښـي ګڼـي، ځنـي نـور بيـا په پردي وطن کې ځان ارام او ژغورلی حس کوي.

وطـن تـل يـوه داسـې خوشـبويي ده چـې څـه يـا څـوک سـړي تـه رايـادوي ،ماشـوم والـی او يـا د ژونـد بـل بختـور پـړاو چـې پـه ځـټ نه راځي.

نـوی وطـن: المـاني پوهـان Bernhard Schlink پـه خپـل کتـاب ,, وطـن د خيـالي ټـاپو پـه توګـه ,, کـې وايـي چـې دلتـه دا لـږ مهمـه ده چـې سـړی چيرتـه وي، بلکـې مهمـه داده چـې سـړی يـو داسـې ځـای ولـري چـې د يـوي ټـولنې پـورې اړه لـري، هلتـه منـل شـوی وي او ددغـه ځـای سـره ځـان د ځيـږيـدو، کـور، کـورنۍ او يـاد ملګـرو لـه کبلـه ځـان تړلـی حـس کـوي.د Bernhard Schlink لپـاره



د وطـن اصـطلاح يـوازې لـه لېـرې څخـه پيژنـدل کېـږي، پـه هغـه وخـت کـې چـې کلـه نـه وي. دا يـوه سـمه پرتلـه ده لکـه چـې د هـوا د تنفس پته په ساه لنډۍ کې سړي ته لګيږي.

د زېږيـدو او پيدا ايښـت ځـای د ماشـومتوب پـورې اړه لـري، د اوسـيدو ځـای وطـن ګرځـي. دا حـس سـړي تـه هغـه وخـت پيـدا کېـږي چـې کلـه پـه بـل ځـای کـې د څـه کـار لپـاره وی اويـا پـه رخصـتۍ (چوټۍ)کې وي.

دا چـې سـړی څـه د کـورنۍ سره لري، پـه هغـه وخـت کـې پـري ښـه پـوهېږي چـې تـرې بيـل شـي، او داچـې سـړی څـه لـه ملګـرو سـره لـري هغه وخت ورته ښه پته لګيږي چې له لاسه يې ورکړي.

Schlink د وطـن بيلابيلـي بيلګـې را پـه ګوتـه کـوي، دی پـه دې عقيـده دی چـې د ډېـر انسـانانو لپـاره وطـن خپـل کسـب او وظيفـه ده. هنرمنـده د ننـدارې پسـې ګرځـي او د ننـدارې هيلـه لـري، وطـن يې صحنه او ننداره ده.

د غـږ تخنيګـران د غـږ د سـټوډيو د الکترونيکـي ارامـۍ سـره مينه لري، او دغلته ځان په خپل کور کې ګڼي.

پـه لـومړي نظر هر څـه سړي تـه مـالوم بريښـي، هـر چا يـو ځلي يـو چيرتـه سفر کـړی دی، هـر څـوک د ماشـوموالي ارمـان کـوي چـې پـه ځـټ راتللی نه شي.

Schlink وايـي چـې وطـن هـيڅ ځـای نـه دی، بلکـې يـو خيـالي ټـاپو دی د تـل لپـاره Schlink . لپـاره يـې ښـه بيلګـه د المـان دفـدرالي جمهوريـت د نـوو ولايتونـو (صـوبو) المانيـان دي، چـې ځنـي يـې ځـان پـه جلاوطنـۍ کـې حـس کـوي، کـه څـه هـم هلتـه اوسـيږي، چـې تـل پکـې اوسـيده، او حتـی پـه هماغـه کارخانـه، اداره، ښـوونځي او يـا ورځپاڼـه کـې کـار کـوي چرتـه چـې يـې د

بدلون د مخه کار کاوه، خو سره ددې هم ددې انسانانو لپاره هر څه بدل شوي او پردي دي، بې له دې څخه چې دوی خپله بدل کړي وي، او اکثره وخت ددوی د ارادې پر خلاف.

له دې کبله د ختيځ المان ډېر کسان ځان جلا وطنه او په پردي ځای کې احساسوي، په کوم کې چې سړی دداسې قانون لاندې اوسېږي چې خپله يې جوړ کړی نه دی. دزړو المانيانو لپاره نوی المان جوړ شوی دی. زوړ وطن يو خيالي ټاپو ګرځيدلی دی. يوازې د ختيځ المان کسان د وطن د نشتو والي د لاندې نه ځوريږي، بلکې هر څوک د وطن په لټه کې کېږي هغه هم ځوريږي ، ځکه چې دنورو له خوا ورته په درنه سترګه نه کتل کېږي او يا يې په خبره خلک غلط پوهيږي.



# په المان کې
# د ښځو پوهنيزه روزنه

د ښځو د پوهنيزې روزنې د هيلې سره به په بل يو هېواد کې دومره کلک مقاومت نه وي شوی، لکه څنګه چې په المان کې شوی دی.

د ښځو د پوهنيزې دروزنې په هکله د المان يوه پوهيدونکې (محصله) اليس سوليمون Alice Salomon چې په برلين کې د ټولنيز ښوونځي بنسټ اېښودونکې وه او پخپله په هغه لومړنيو پوهيدونکو (محصلانو) کې راځي چې د Wilhelm په امپراتورۍ کې يې زده کړې کړي او د ډوکتورۍ درجه يې ترلاسه کړې ده په خپل کتاب «د ښځو روزنه» کې وايي چې په المان کې د پوهنې په بڼ کې د ښځو شامليدلو ته ډېره موده انتظار وشو. د ښځو د مدني غورځنګ او د پوهنې د مامورينو تر منځ په تير بيا په Preussen کې چرته چې د المان ډېر پوهنتونونه ؤ، د ښځو د پوهنيزې روزنې په هکله خبرې رواني وې. په دغه وخت کې اروپايي ګاونډي هېوادونو فرانسې، هسپانيااو انګلستان کې د پوهنيزې روزنې دروازې ښځو ته خلاصي شوي وې.

په سويس کې ښځو د ۱۸۶۵ م کال راهيسې زده کړې کولې، او د طب، حقوقو او فلسفې په څانګو کې يې

نجونې(جنکۍ) په پوهېدنه بوختې وې، چې بهرنۍ نجونې هم پکې وې.

د Zürich پوهېدونکي نازولې وي ځکه چې دا لومړنۍ جنکۍ وې، چې د پوهنتون په تاریخ کې راغلي دي. په دې ښځو کې Rosa Luxemberg هم شامله وه، چې وروسته یې پوره شهرت پیدا کړ.

په المان کې د ښځو دښوونې او روزنې پر ضد د مقاومت علت په تېره بیا ددې پورې اړه لري، چې د نولسمې پېړۍ په پای کې پوهېدونکي د منځنۍ قشر ؤ، نو د روزنې سیاستمدارانو داسې فکر کاوه چې ښځې به په هلکانو پوهېدونکو منفي اغېزه وکړي او د پوهنتون د استاذانو یا پروفیسرانو چې مقام یې د یوه وزیر د مقام سره برابر ؤ، نه غوښتل چې د زده کړې په فضا کې د بې جرابو والا یعنې جنکۍ خنډ راولي. همدا علت ؤ چې د Weimarer د جمهوریت پورې د پوهنتون داستاذ اجازه شرط وه ، چې ښځې ته اجازه ورکوي چې دده درس واوري او که نه.

په ۱۸۹۱م کال کې د المان پارلمان د ښځو د پوهنېزې روزنې موضوع په اجنډا کې ونیوله. په ۱۸۹۲ م کال کې په ګڼو پوهنتونونو کې ښځو ته یوازې (صرف)د اورېدونکو مقام ورکړل شو، چې په دې سره په سلګونو جنکو دا مقام تر لاسه کړ.

کله چې د عنعنې له مخې ازاد Baden په ۱۹۰۰ م کال د فبرورۍ د میاشې په ۲۸ مه نیټه ښځو ته په پوهنتون کې د سمې او بشپړې داخلې حق ورکړ، نو بیا نورو صوبو (ولایتونو) کې هم حق ورکړل شو. لومړی بایرن Bayern بیا Württemberg ورپسې Sachsen ، Thüringen او



Hessen ورته هم دا حق ورکړ.

Preussen په ۱۹۰۸ م کال کې په روزنه کې د ښځو او هلکانو تر منځ توپیر ختم کړ او د المان په ټولو پوهنتونونو کې تقریبا شپږ زره جنکۍ په پوهیدنه بوختې شوې، چې د هلکانو په سلو کې یې ۱۰ لس جوړولې.

د ۱۹۳۲ م کاله پورې د جنکو پوهیدونکو شمیر تقریباً دوه چنده شو.

د هغې وخت یوه پوهیدونکې چې په ۱۹۰۹ کې زېږېدلې وه او Maria Luise Steinhauen نومیده ویلې ؤ چې دا خبره زه نه شم هیرولی چې کله زه د لومړي ځل لپاره د کوره ووتم او مونشن ته د سبق لپاره روانه شوم ، نو ماسره د اور ګاډي په کوټه کې ۸ اته نور پوهیدونکې هلکان هم ؤ چې Würzburg ته د زده کړې لپاره تلل، د هغوی سره مې خبرې شورع کړې. یو تن راته وویل: داچې ته سبق وایې دا بلکل بې مانا کار دی، ته سبق ته حاجت نه لرې، ډېره ښایسته یې.

زه په دې خبره خوشاله نه شوم او ډېره په قار شوم او له قاره مې وخندل. په هغه وخت کې خلکو داسې سوچ کاوه، چې هغه جنکۍ چې لږ څه خایسته وي باید ودونه وکړي، او هغه جنکۍ چې بدرنګې وي سبق دی وایي.

# د لر او بر پښتنو نژدېوالی

د لـر او بـرو پښـتنو نژدېـوالی د پښـتنو د قـامي وحـدت پـه لـور یو ستر ګام دی.

دکمـونیزم او پانګـه والـی (کپیټـالیزم) د پهلـوانی پـه وخـت کښـې نړی، پـه دوه برخو ویشـل شـوې وه، چې ډېر قامونه/ ولسـونه هم ددغه پهلوانی قرباني او په زور ویشل شوي ؤ.

پـه کمـونیزم بانـدې د پانګـه والـی (کپیټـالیزم) د بـري وروسـته بلاکونـه رنـګ شـول ،د بلاکونـو د رنګېـدو وروسـته د نـړی د نـوي نظـم پـه چوکـاټ کښـې نـوې سیاسـي وده منـځ تـه راغلـې ده. پـه نـړی کښـې ځـای پـه ځـاي غـټ او کـوچني (واړه) وحدتونـه او منـډه یـې ګـانې جوړېږي، ویشـل شـوي قامونـه بېرتـه سره یـو ځـای شـول، چې ښکاره بیلګه یې جرمنیان، ویتنامیان او یمنیان دي.

د نـړی پـه نـوې نظـم کښـې د انـرژی چینـې ارزښـتناک او مهـم رول لوبـوي، چـې د انـرژی غټـې چینـې زمـونږ پـه منطقـه او د مرکزي اسیا پـه نـوو خپلـواک شـویو هېوادونـو او پـه ځـانګړي ډول پـه ترکمنسـتان کښـې شـته دی چې دنړی تر ټولو غـټ اخستونکی (پیرودونکـی) د امریکـا متحـده ایالتونـه ،د هغـه ملګـري او د



ځینـو نـورو نړیوالـو سـترګي یـې ځـان تـه رااړولـي دي چـې غـواړي د انرژی ددې چینو څخه استفاده وکړي.

د مرکـزي اسـیا څخـه ددې انـرژی د وړلـو (انتقـال) لپـاره د نلونـو (پائـپ لاینونـو) او لارې جـوړول دافغانسـتان او پاکسـتان لـه لارې پـه پـام کښـې نیـول شـوې ده. کـه چیـرې داتجـارتي لاره د افغانسـتان او پاکستان لـه اړخـه تیره شي نو دواړه ملکونـه بـه اباد شي. دنړی والـو پـام بـه نـه یـوازې داچـې د افغانسـتان د انـرژی چینـو تـه راوګرځـي او د انـرژی د چینـو لپـاره بـه اخسـتونکي ولـري، بلکـې دجنګ جګړو ځپلي افغانستان دابادی وسیله به هم شي.

هـر هغـه څـوک چـې د افغانسـتان پـه خـاوره ددې تجـارتي لارې د تیریـدلو ملاتـړ (حمایـت) کـوي هغـه د افغانسـتان د ملـي مفـاداتو (ګټو) لپاره کـار کـوي، او هغـه څـوک چې یې مخالفت کـوي، هغـه د افغانستان د ملي ګټو پر ضد دي.

د ایـران اسـلامي جمهوریـت چـې خپلـه د انـرژی چینـې لـري، نـه غـواړي چـې پـه څنـګ کښـې یـې د ترکمنسـتان د انـرژی د چینـو څخـه کـار واخسـتل شـي او دا تجـارتي لاره د افغانسـتان لـه لارې تیـره شـي نـو ددې هڅـه کـوي چـې دا تجـارتي لاره د ایـران پـه خـاوره تیره شي او هر څه یې په خپل لاس (قبضه) کښې وي.

همـدا شـان روسـیه چـې د ترکمنسـتان نـه یـې پـه خپلـه خـاوره نلونـه (پایـپ لاینونـه) غځـولي دي، نـه غـواړي چـې د ترکمنسـتان انـرژي بـل ځـای اخسـتونکي ولـري او پـه روسـیې بانـدې یـې نـرخ جـګ او قیمتـه شـي، ځکـه هـر څـومره چـې ددې انـرژی غوښـتنه (تقاضا) زیاتیږي، هغومره یې بیه (نرخ) جګیږي.

ددې سـوداګریزي (تجـارتي) لارې پـه تـړاو (ارتبـاط) کښـې د یـوې خـوا د ایـران او روسـیې ګټـې (مفـادات) ګـډې او شـریکېږي،

او دبلې خوا د افغانستان او پاکستان ګټې (مفادات) ګډې او شريکې‌يې، چې د افغانستان ملي ګټې د پاکستان ملي ګټې او د پاکستان ګټې د افغانستان ملي ګټې ګرځي، او پکار دي چې يو بل ته لاس ورکړي ،چې دا واقيعت د افغانستان او پاکستان تر منځ چې ګډې (شريکي) ګټې لري، د نژديوالي ضروروت پيداکوي.

د نړۍ په اوسني پړاو کښې جغرافيائي او سياسي پولې (محدودې) خپل اهميت او ارزښت له لاسه ورکوي، او اقتصادي اتحادونه ارزښت پيدا کوي چې دا د قام پرستو پښتنو څخه هم نوی اند (فکر) او سوچ غواړي، چې د ټولې منطقې د هوساينې سياست وچلوي او د نړۍ ددې نوي نظم په درشل کښې د افغانستان او پاکستان د نژدې والې هڅه وکړي چې د افغانستان او پاکستان نژدې والي ددواړو هېوادونو په ګټه ،د وخت غوښته (تقاضا)او د پښتنو د قامي وحدت (ملي يووالي) په لو يو ستر ګام دی.

د ايران، روسيې او هندوستان په پرته چې خپل مفادات (ګټې) د ګاونډي هېوادونو د ګټو څخه درنې ګڼې، د مرکزي اسيا له خپلواکه جمهوريتونو سره د اقتصادي ټولنې هڅه د وخت ضرورت دی.



# ارواښاد غني خان

ارواښاد غني خان د پښتنو د ستر مشر خدای بخښلي خان عبدالغفار خان «باچاخان» مشر زوی او د بهرام خان لمسی دی چې د پښتنو د خوازيخيلود ټبر پورې اړه لري.

غني خان په ۱۹۱۴ عيسوي کال کښې د پښتونخوا د هشتنغر د اتمانزو په کلي کښې زېږېدلی دی . دی د پنځو کالو په عمر ؤ چې مور يې سترګې له دنيا پټې کړې. د غني خان مور د رزړو د مشر خان يار محمد خان لور وه، چې له باچا خان سره يې په ۱۹۱۲ ع کال کښې واده شوي ؤ.

د غني خان دواړه نيکونه د خپل وخت نامتو خانان او قامي مشران وو. د مور تر مړينې وروسته پداسي حال کښې چې باچا خان د ډېره غازي خان په جيل کښې قيد و.

د غني خان پالنه او روزنه دده نيا د «باچا خان مور» په غاړه واخسته، خو د هغې د ژوند هم ډېرې ورځې پاتې نه وي، نيا يې مړه شوه او غني بې سرپرسته پاتې شو.

غني خان خپله لومړنۍ زده کړه د پېښور نيشنل هايي سکول (ملي لوړ ښوونځي) کښې پيل او بيا کله چې ۱۹۲۱ ع کال کښې دباچا خان په هاند، هڅو او زيار د اتمانزو ازاد سکول (ازاد ښوونځی) جوړ شو ، نو غني خان په دغه ښوونځي کې

شامل شو او دا ويار يې په برخه شو چې ددې ښوونځي په لومړنيو زده کوونکو کښې وشميرل شي.

د لسم ټولګي (جماعت) د فارغېدو (پاس کولو) وروسته د ډيلي په جامعه مليه کښې شامل شو. په **۱۹۲۹** ع کال کښې باچا خان دی بېرته پښتونخوا ته راوغوښت او د همدغه کال د جولاي د مياشتې په **۲۳** مه نيټه په بېړۍ (د اوبو جهاز) کښې لندن ته د زده کړې لپاره روان شو. په لندن کښې ددوه نيم کاله زده کړې په وخت کښې پرې د لندن يوه د فلم لوبغاړې (فلم ستار) مينه شوه چې بې اندازې ښکلې وه.

دده نورو ملګرو ته وېره پېدا شوه، چې غني يې په نکاح نه کړي، نو يو ملګري يې باچاخان ته خط وليکه، او د ټولې قيصې نه يې خبر کړ. باچا خان غني خان ته د تار په ذريعه خبر ورکړ چې سمدلاسه بې له ځنډه امريکې ته لاړ شه او هلته کوم کالج (پوهنځي) ته لاړ شه.

غني خان د پلار په حکم له لندن نه امريکې ته لاړ او د لويزيانا ايالت د بورې او شکرې جوړولو په يوه کورس کښې شامل شو، خو دوه نيم کاله پس چې باچا خان بيا بندي شو نو غني خان ته ژوند تريخ شو او پوره اته مياشتې يې د خپل خرڅ لپاره پيسې نه وې ورسېدلې. بلاخره يو خپلوان دومره پيسې ورولېږلې، چې دی پرې د امريکا نه هندوستان ته واپس راغی.



# شينګن

د شينګن تړون د اروپا د اتحاد په دننه کښې د پولو د کنترول څخه د تيريدنې بنسټ دی.

د **۱۹۹۵** ع کال د مارچ د مياشتې راهيسې سفر کوونکي/مسافر د المان، فرانسې، بلجيم، هالنډ، لوګسمبورګ، هسپانيې او پرتګال تر منځ د پولو څخه په هر وخت کښې بې له پاسپورت او پېژندپاڼې د کنترول څخه تيريدلی شي.

د **۱۹۹۸** ع کال د اپريل د مياشتې د لومړۍ نيټې راهيسې ايټاليا او اطريش هم د شينګن په تړون کښې شامل شوي دي او د پولو کنټرول يې له منځه وړی دی.

ددې لپاره چې په دننيو پولو کنټرول نه کېږي، نو د شينګن د تړون د هېوادونو دبهرنيو پولو په غښتلي کنټرول موافقه راغلې ده.

سر بېره پر دې ددې هېوادونو پوليس نژدې ګډ کار کوي، د بيلګې (مثال) په توګه په شتراس بورګ کښې د معلوماتو يو بانک يا د شنګن د معلوماتو سيستم جوړ شوی دی، دغلته د ټولو غړو هېوادونو معلومات چې د چا په باره کښې لري راغوښتل کيدلی شي.

ددې لپاره چې د جنايت کارانو او يا هغه کسانو مخه ونيول

شي او په مقابل کښې مبارزه وشي، کله نا کله د شنګن د غړیو هېوادونو په هوایي ډګرونوکښې او یا د ننیو پولو ته په نږدې سیمه کښې کنترول کېږي.

ددغه تړون برخه د ویزې د سیاست یووالی هم دی، که چیرې د شینګن د تړون له هېوادونو څخه یو غړی هېواد ویزه ورکړي، نو دا دشینګن د ټولو غړیو هېوادونو لپاره اعتبار لري.

پرته د انګلستان او ایرلینډ څخه په دې منځ کښې د اروپا د اتحاد ټول هېوادونه د ناروې او ایسلینډ په ګډون د شینګن په تړون کښې شامل شوي دي.

سکانډناوي هېوادونو سره د پولې د کنټرول د منځه تګ په څو کلونو کښې په پام کښې نیول شوی دی. یونان تر اوسه پورې یوازې د ویزې په سیاست کښې شامل دی، خو د پولو کنترول یې کېږي، ځکه چې د شینګن د نورو هېوادونو په نظر د یونان بهرنۍ پولې په اغېزه ناکه توګه ژغورل شوي نه دی.

دا تړون په شینګن کښې چې د موسل د سیند په غاړه د لوګسمبورګ یوه د انګورو سیمه ده منځ ته راغلی دی نو له دې کبله د شینګن د تړون په نامه یادیږي.

د راتلونکي وخت په هکله نظري د اروپا د هېوادونو د مشرانو له خوا ډېرې کمې ښکاره کېږي او د چا ډېرې خوښیږي هم نه. حکومتونه د ایرو د رواجولو د شکیلاتو په سمښت او ختیځ ته د اروپا د اتحاد د پراخوالي په پروژو مشغول دی.

دا چې ګام په ګام واک بروکسل ته ورکړل زیاتیږي نو د اروپا د اتحاد غړي نورې خپلې ملي هیلي په عمل کښې پلي کولی نه شي، خو د اتحاد د لړۍ په څټ ګرزونه هم امکان نه لري. د اروپا د ستر هېواد جوړولو صحنه چې ډېر لا پکښې شک شبه لري



څوک رامنځ ته کول نه غواړي. د المان د اتحادي جمهوریت جمهور رئیس یوهانس راو یو د هغه کسانو څخه دی چې په جرئت سره میدان ته راووت او د اروپا پارلمان ته یې په خپله وینا کښې وویل چې مونږ یوې فدرالي اروپا ته چې ګډ اساسي قانون/ائین ولري ضرورت لرو. چې دا غوښتنه د لومړي ځل لپاره د المان دا تحادي جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر یوشکا فیشر کړې وه، خو هغه د اروپایي د همدندو د کلکو غبرګونونو له کبله غلی شو. خو یوهانس راو نه غلی کېږي. دا چې ده ته د شتراس بورګ د وکیلانو په مخکښې ددوه خونو د پارلمان په غوښتنه سره پراخه ټینډه وشودل شوه، کومه د تعجب خبره نه ده، ځکه چې دغلته وکیلان په دې نظریه دي چې دوی د پریکړې واک نه لري، او په بروسل کښې د حکومتونو استازي (نماینده ګان) پریکړه کوي، که څه هم په ډیموکراټیکه توګه ټاکل شوي دي.

مخالف ګوندونه که هر څومره غښتلي په بیلابیلو هېوادونو کښې د خبرو اترو د میز په غاړه ناست نه دي، داخبره د ټاکنو د مبارزې په وخت کښې ډېر زور اخلي، که چېرته یو حکومت په بروسل کښې د یوې پریکړې سره موافقه ښکاره کړي چې په خپل هېواد کښې د خللکو خوښه نه وي، نو مخالفه ډله ترې ډېره ګټه اخلي.

له دې کبله د جرګې لپاره د لږ واک پلوي کوي او غواړي چې د اروپا پارلمان او کمیسون ډېر واک ولري. سربیره پر دې یو اساسي قانون یا ائین د اروپا د پیژندګلوۍ او تشخص

# ژبه د انسان د ژوند

# په اوږدو کښې

(اوله برخه)

لکه څنګه چې ژبه د انساني نړۍ په تاريخ کښې د زده کړې له لړۍ ولاړه ده انسان ژوند د مور په ګېډه کښې پيل کېږي او تر مرګه پورې دوام لري . امريکائی پوهانو د خپلو څېړنو په ترڅ کښې لا د مور په ګېډه کښې د ماشوم يو شمير غلي ګړونه اوريدلي دي او له دې څخه يې داسې نتيجه اخستې ده چې د انسان زيږيدو څخه د مخه هم د ګړونو ی خاص ميخانيزم لری (salbar 1958) .

خو دا ددې مانا نه لري، چې د مور په ګېډه کښې ماشوم ګڼې خبرې کوی يوازې دا مونږ ته را په ګوته کوي چې د خبرو د توان بنسټ ورشوې دی چې وروسته بيا وده کولی شی . همدغسې کله چې يو ماشوم په اول ځل پيدا کېږي نو چغه کوی دغه چغه هم د خبرو د توان د بنسټ د جوړېدو مانا لري . سالبر (salbar) ليکي چې د «ډېوې» او مارتې له پاره د ژبې جرړې د ټولنېزې اړتيا څخه اوبه اخلي او اردمان (erdmann) همبولډ او لا ځاريوس بيا په دې برخه کښې خاص ارزښت د ژبې او نورو ساوالو فعاليتونو توانونو اړيکو ته ورکوی . () همدغسې د



ستړن له پاره د ژبې بنسټ لومړی ورو ورو يې د سوچ (فکر) تصور ، احساساتو او ارادی د ودې او ځرګندولو اله وګرځېده (salbar 1958) .

ژبه د ټول (سمت) ساوال (نفسي، روحي) ژوند سره ټينګه تړلې او د ساوال (نفسي، روحي) ژوند په دوه کښې کره برخه لري او هم د ساوال ژوند جوړښت او وده په ژبه پورې اغېزه لري او د ژبې ځرنګوالی (کيفيت ، جنسيت) ټاکي . ژبه او ساوال ژوند يو له بل سره دوه اړخيزه اړيکې لري او يو له بل څخه بيليدلی نه شي . د ژبې په ډډ او وده سرې سم نه شي پوهيدلی که يې د نورو ساوالو پيښو او ځواکونو څخه په ناپيیلی توګه د اشارو يو سيستم وګڼي او يا يې د ګوښي او ځانګړي توان نښه لکه د پوهېدلو او پوهولو مفاهمې اله وبولي، خو هر انسان چې په يوه ټولنه کښې پيدا کېږي ځانته ژبه لری او په هره ټولنه کښې چې څوک پيدا شی د همدې ټولنې ژبه دود ، ديتور او نور کړه وړه خپلوي . دا چې پښتني ټولنه د لويديځوالو ټولنو سره ډېر توپير لری، نو مونږ د ډاکتر کبير ستوری څېړنکيو د ټولنېز نظريو څخه چې يوازې د لويديزو ټولنو پورې تړلې نه وی او د پښتني ټولنې له پاره هم اتبار لري او د پوهنيزو لارو او ميتودونو څخه کار اخلو په خپلو څېړنو او کتنو تکيه کوو.

**کورنۍ** :کورنۍ د هرې ټولنې کوچنۍ برخه ده . د پښتنې ټولنې کورنۍ د لويديزوالو ټولنو کورنۍ يو کوله يا يو نسله کورنۍ دی او يوازې د مور ، پلار او بچيانو څخه جوړه شوی او کم بچی چې يې لوی شی هغه پخپله لاره ځی او د مور او پلاره څخه بيليږی د پښتني ټولنې کورنۍ د دوه يا زياتو کولونو يا نسلونو څخه جوړه شوې ده . چې مور ، پلار ، نيا ، نيکونه ،

غور نیکونه او ترنیکونه پکښې یو ځای اوسیږي . داکورنۍ د د کولونو د ترون په بنیاد ولاړه ده کولونو پکښې تر هغې په یوه کور کښې وسیږي تر څو چې تنګ شوي نه وي او کله کور تنګ شي نو بیا د بیل کور غم خوړل کېږي . دې ډول کورنیو ته ډله ایزې کورنۍ یا غټې کورنۍ ویل کېږي . هره کورنۍ چې د ټولنې یوه برخه ده د ټولنې سره د ژبې له لیارې سمون کوي ، هر تن د خپلې کورنۍ له لیارې د ټولنېز کیدو په لړۍ کښې برخه لري . په دې توګه ژبه د انسان په ژوند کښې له ټولنې سره د سمون او ټولنېز کیدو په لړۍ کښې مینځ ته راځي . د ژبې زده کړه په هغه کورنۍ کښې په کومه کښې چې ماشوم پیدا شوی وي، پیل کېږي خو دا زده کړه د ماشوم په ساوال او جسماني ودې ولاړه ده. ساواله او جسماني وده یو له بل سره تړلې ده او چاپیریال پرې متقابله اغېزه لري. د ساوالو او جسماني توکونو پیدا ایښتې جوړښتونه د چاپیریال د متقابله اغېزې د لاندې د ژوند په مختلفو پړاوونو کښې بشپړ او پخېږي . انسان ژوند په مختلفو زده کړه کوي . په دې کښې د ژبې زده کړه هم شامله ده .

په پښتني یا غټه کورنۍ کښې د لویدیځ د کوچنۍ کورنۍ په برخلاف ما د مور او پلار سربیره د نیا ، نیکه او کور د نورو کسانو سره د جسماني او ساوالي ودې په لړ کښې اړیکې پیدا کوي او کوچنۍ کورنۍ په شان نه وي چې یوازې د مور او پلار، خوېندو او ورونو سره یې لري. دلته د کوچینو کورنیو په شان ځانګړي اخلاقي « وجدن » زه ته بلکې یو ډول ډله ایز اخلاقي زه یا وجدان وده کوي چې وروسته بیا د ټولنېز ژوند نماینده وي د ورځې ژوند په ډګر کښې ښېړنه ما د ټولې ساوالي او جسماني ودې په نښتون کښې پخپله غټه پښتنه



کورنۍ کښې که څه هم بهرني چاپیریال جرمنی دی خپل پیدا شوی لمسیان پوهیال (۰۳.۱۱.۱۹۹۸)، پتوال (۲۲.۰۷.۱۹۹۹) او سلما (۲۲.۰۱.۲۰۰۰) د ژبې دودې او زده کړې په برخه کښې دمنظمې کتنې لاندې ونیول چې سړی ورته د ورځنی ژوند په ډګر کښې ځیړنه ویلې شي ، د ځیړنې په نتیجه کښې دودې لاندې پړاونه راپه ګوته شول

**د ملاستې پړاو :** دا پړاو له زېږیدلو څخه پیل کېږي او د ماشوم له ملاستې څخه د سر تر جګولو پورې رسیږي. په دې پړاو کښې ماشوم ژړا او موسکا کولی شي.

# سریزه

پښتانه د نړۍ په لرغونو قامونو کښې شمېرل کېږي دا خبره مونږ ته د جرګې سیستم راپه ګوته کوي، چې د پښتونولۍ بنسټ جوړوي . د جرګو سیستم د هغې ټولنو محصول دی [۱] چې د نړۍ په سر څه نا څه (۱۵) زره کاله د مخه منځ ته راغلی دی (۲)

پښتنو د خپل دې اوږد تاریخ په لړ کښې ډېرې خوږې او ترخې لیدلي دي . د پښتونخوا دنګ دنګ غرونه ددغه پېښو شاهدان دي ډېر یرغل ګر د پښتنو په خاوره تېر شوي او ددې خاورې ټولنېزې، پوهنیزې ، کلتوري او مدني شتمنۍ او ارزښتونه یې لوټ کړي دي.

د پښتونخوا سردرې مونږ ته دغه یرغل ګرد او هغه پښتنو ننګیالیو چې د یرغلګرو مخې ته لکه د سپر په شان ودریدلی دی کیسې کولی شی خو ددی مجلې پوله په پښتني خاوره د فرنګیانو په یرغل ننګه ده.

په نولسمه پېړۍ کښې چې انګریزانو خپل کمیت په هند کښې ټینګ کړو، نود روسانو مقابل کښې د خپل حاکمیت د ژغورلو لپاره یې په افغانستان باندې یرغل پیل کړ او وروسته د یوې سترې ماتې څخه یې خپل سیاست د (وویشه او حاکمیت وکړه) په ازماینښت شوي اصول ودروو . په یوه بله جګړه کښې



چې د ګنډمک (۱۸۷۹ . ۵ . ۲۲) په تړون پای ته ورسېده . انګریزانو وکولای شول چې ختیځ او جنوب ختیځ افغانستان سیمې چې د ستراتیژۍ له پلوه ډېرې مهمې وې ونیسي او د افغانستان دفاعي او بهرنی سیاست د خپلې اغیزې لاندې راولي او بیا وروست د ډیورنډ د تړون (۱۸۹۳ . ۱۱ . ۱۲) او د ډیورنډ د کرښې په واسطه پښتانه په برخو ووېشل.

دغه کرښه له لومړي سر څخه تراوسه پورې هیڅ پښتون نه ده منلې. په ننګرهار ، پکتیا ، قندهار ، کونړ ، باجوړ مومند ، خیبر ، وزیرستان او ټولې پښتونخوا په ګوټ ګوټ کښې پاڅونونه، ددې خبرې ثبوت دی.

اوس چې ددغه کرښې سل کاله پوره کېږي، د پښتنو ټولنېز ولسولیز ګوند چې د فرنګیانو په مقابل کښې د باچا خان (فخر افغان) د مشرۍ د لاندې د ملي ازادۍ د غورځنګ برخه ده او د پښتنو د یووالي او خپلواکۍ تاریخي رسالت ورپه غاړه دی، دا پرېکړه وکړه چې د (۱۹۹۳) کال د نومبر د میاشتې دولسمه نېټه چې د ډیورنډ د تش په نامه کرښې سل کاله پوره کېږي، د ډیورنډ د لوظنامې د باطلېدو او ټولو پښتنو د یووالي د ورځې په نوم ونمانځي او یوې جرګه ګۍ ته یې دا دنده ورپه غاړه کړه چې د ډیورنډ د کرښې او لوظنامې په باره کښې معلومات راټول او د پښتونخوا په یوه خاصه ګڼه کښې د پښتنو د یووالي د ورځې په ویاړ خپره کړي .

دغه تړون په تاریخي، سیاسي او فوځي اړخونو باندې ددې مجلې په مضمونو نو کښې پوره رڼا اچول شویده، چې زه پرې نور څه لیکل نه غواړم . یوازې د حقوقي اړخ څو ټکي راپه ګوته کوم.

١ ـ په ټوله نړۍ کښې پيښې دا په ثبوت رسوي چې داسې تړونونه چې د ښکيلاکي مناسباتو د لاندې منځته راغلي دي، نن ورځ اعتبار نه لري.

٢ ـ د ولسونو د حقوقو يوه پخه نظريه دا ده چې « يو تړون چې اغېزه يې ختم او د تړون هدف تر لاسه شي دا عتباره لوېږي» ( ٣ ).

د هند ښکيلښتي ( مستعصرې ) څخه د فرنگيانو په وتلو سره د ډيورنډ تړون په اتوماتيکي توگه لغوه او د اعتباره لويدلی دی، ځکه چې د تړون د برخه والو يو اړخ په هند کښې خپل موجوديت د لاسه ورکړی او په دې توگه يې هدف هم له منځه تللی دی، چې د روسيې په مقابل کښې په هند کښې خپل حاکميت وژغوري.

٣ ـ پښتنو دغه کرښه په عمل کښې مراعات کړې نه ده او بې د پاسپورټه يو د بل سره ازاد تگ راتگ کوي او خپل ژبنی، نسلي ، تاريخي ، جغرافيايي ، کلتوري ، ټولنيز او اقتصادي وحدت يې پاللی دی، چې دا د ډيورنډ د کرښې د بې اعتبارۍ يو بل ثبوت دی.

د پښتنو ټولنيز ولسوليز گوند چې د پښتون ولس د ازادۍ ممثل دی . ددغه تړون د قبر په سر د اخري ځل لپاره خاورې اړوي او د تل لپاره يې لغوه اعلانوي.

په پای کښې د پښتونخوا ددې مجلې د جرگه گۍ د غړو محمد شيرين گرديوال ، مبارز څاپي ، ډاکتر صابر ، دوکتور ډگروال حضرت رسول او علي خان محسود څخه خوښنه کوم چې په دومره لنډ وخت کښې يې ددې مجلې مضمونونه تيار کړل. همدغسې د حاجي فضل الرحمن شير ، او د عطا محمد



شيرزي څخه چې ددې مجلې د چارو په چټکتيا کښې يې مرسته کړې ده، ډېره مننه کوم . سربيره پردې د عزيز سرشار ، غلام نبي سخي ، ناصر خان يار ، هدايت بنگښ او انجنير حبيب رسول چې د مجلې د بڼې په ښکلا کښې يې زيار وايست اوپه تېره بيا د محب الله روفي څخه چې د مجلې په ليکو يې شپه شوگير کړې او قام ته يې په دې خدمت کښې بې خوبۍ په ځان منلې، د زړه د کومی خوښنه وړاندې کوم.

په بری

دوکتور کبير « ستوری »
د پښتنو ټولنيزولسوليز گوند مشر

اخستونځی:


1 ) Engels ; Friedrich : Der Ursprung der Familie ; des Privateigentum uund des Staat, Berlin 1974 S : 194 f.
2 ) Stein , Werner : Kulturfahrplan , Berlin 1954 , S 14
3 ) Völkerrecht ( Lehrbuch ) Bd . 1 , Berlin 1973 , S 252

# درې خبرې

د ليکلو نېټه ۱۲.۱۲.۱۹۷۲

## لومړۍ: د افغانستان سياسي خوځښتونه يا ګوندونه:

ګوند، پره، ډله ټپله په افغانستان کښې او بلخصوص په پښتنو کښې کوم نوې ځېزونه نه دي، بلکې د ډېرې مودې راهيسې په پښتنو کښې رواج دی. دا چې ګوندونه څه وخت او څنګه راپيدا شول بيلابيل روايتونه شته دی، مګر د انګريزانو رول بايد په دې باره کښې هير نه شي. انګريزانو چې د پښتنو مړانه، توره او مقاومت وليده، نړويې غوښتل چې په دې قوم کښې د نفاق اور بل کړي، ترڅو په خپلو کښې اخته، مړه او تباه شي او دوی ته ښې دمه جوړه نه شي، نو هغه ؤ، چې د پښتنو د خاصيتونو مطالعه يې وکړه او د پښتنو د ځينو خاصيتونو څخه لکه پښتني غرور، په دې لاره کښې استفاده وکړه، نو خپلو بريڅو ته يې وويل چې يو د کاکا زوی ته ووايئ، چې ته خوستا د کاکا زوی نه کم نه يې او هغه سره بايد سيالي وکړې او کم ترې رانه شې. دا خبره به د غرور د غريزې په واسطه تقويه کيدله او په دې ترتيب د کاکا زوی نوم د ورور پر ځای تربور شو، چې بالاخره پايله (نتيجه) يې ګوندي، تربګني او پتنه شوه او يو د کاکا زوی بل د کاکا زوی وينو ښنلو ته تږی يې.

دا خبره هم دلته پرېږدو له دې څخه موخه (مقصد) داوه، چې د



ګوند کلمه په پښتنو کښې د پخوا نه موجود ده. دغه ګوندونه چې لاتر نن ورځې هم شته کومه ايډيالوژيکي، سياسي او علمي اساس بنا نه و، بلکې د بهرنيو (خارجي) مغرضينو او د هغوی د بريڅو له خوا په ټاکلې موخې (معين هدف) په ټاکلو تاريخي شرايطو کښې د پښتنو د هلاکت او د منځه وړلو لپاره راوستل شوي دي.

نن ورځ په افغانستان کښې د اجتماعي طبقې ودې (تکامل) او د وخت د غوښتنو (تقاضا) په پايله (نتيجه) کښې سياسي خوځښتونه (يا ګوندونه) چې ټاکلې (معين) موخه (هدف) او واحده ايډيالوژي لري منځ ته راغلي دي، لکه خلق، پرچم، شغله جاويد ،افغان ملت، مساوات، اخوان المسلمين او داسې نور...

داچې په افغانستان کښې دغه رنګه سياسي خوځښتونه څه وخت، څنګه او د چا له خوا منځ ته راغلل ، بېلابېل (مختلف) روايتونه شته دی. ځينې خلک وايي، چې د وينښ زلميانو ټولګی تر ټولو سياسي خوځښتونو په افغانستان کښې پخوانی او د اوسني سياسي خوځښتونو مورده. ځکه چې د وينښ زلميانو د ټولګي زياتره غړي اوس په اوسنيو خوځښتونو کښې کار کوي. ځينې نور خلک د وينښ زلميانو د ټولګي او د اوسني سياسي خوځښتونو په مينځ کښې کوم تاريخي اړيکي (روابط) نه ويني،او وايي چې اوسني سياسي خوځښتونه د ځانله تاريخي شرايطو محصول دی. ځينې د دغه خوځښتونو څخه پخوا پټ موجود وو او تنظيمي غونډې به يې لرلې، مګر کله چې په افغانستان کښې اساسي قانون منځ ته راغی، نو نوموړي خوځښتونه ښکارې ته راووتل. که څه هم لا تر اوسه يې يو هم د سياسي ګوند ،ډلې يا ټپلې په حيث په رسميت نه دی پېژندل شوی، ځکه چې د ګوندونو قانون يوازې د ولسي جرګې نه تير

شوی او د افغانستان د ټولواک د لاسليک نه لا خلاص نه دی.

## ۱- د خلق او پرچم سياسي خوځښتونه:

د يوه پرچمي له خولې نه روايت دی، چې د خلق سياسي خوځښت هغه وخت ښکارې ته راووت، کله چې د افغانستان اساسي قانون پاس شو، دې خوځښت د خلق په نوم يو اخبار راوويست، چې د امتياز خاوند يې نورمحمد تره کی ؤ، چې بلاخره يې اوومه شماره مصادره شوه، دې زياتوي، چې په **۱۳۴۴** هـ کال کښې په کابل کښې د خلقيانو کنګره جوړه شوه، او د منشي (سيکرټري) لپاره يې ببرک کارمل د نورمحمد تره کی په مقابل کښې ځان کانديد (انتخاب) کړ. د مرکزي کميټې د اوو کسانو د غړو څخه څلور کسانو ببرک کارمل ته او دريو کسانو نورمحمد تره کی ته رايه (ووټ) ورکړ، او بالاخره دا مسئله دومره ترينګلې (جدي) شوه چې ببرک کارمل ځانه د پرچم په نوم سياسي ګروپ جوړ کړ او د پرچم په نامه يې اخبار راوويست، چې د امتياز خاوند يې سليمان لايق ؤ. نورمحمد تره کی د خلق د سياسي خوځښت مشر پاتې شو. خلقيانو د پرچميانو دې روايت په هکله چې وايې چې د ببرک کارمل او نورمحمد تره کي په منځ کښې مخالفت لا پخوا موجود ؤ، ځکه چې ببرک کارمل يو حکومتي سړی مرکزي کميټې ته داخل کړی ؤ نو په هم دې بنسټ (اساس) د کارمل او تره کي تر منځ مخالفت پيدا شوی ؤ، چې بالاخره د مرکزي کميټې ټاکنې (انتخابات) د دوی د بيلوالي (جدايي) لپاره بهانه شول.

**۲ -شعله جاوی**: ددې خوځښت د منسوبينو د خولې نه، دغه خوځښت سر د اول نه کومه مرکزي کميټه نه لري، مګر منظمې غونډې کوي.



**۳ -افغان ملت**: دا خوځښت د غلام محمد فرهاد په مشرۍ منځ ته راغی. ددې خوځښت پلويان د طبقاتي اودې ته ورته د داسې نورو مبارزو څخه منکر نه دی، بلکې په دربمه نړۍ کښې ملي مبارزه تر نورو مهمه او باارزښته بولي. ددوی په عقيده ملي مبارزه په دربمه نړۍ کښې اړينه (ضروري) او حتمي او د نورو مبارزو محور تشکيلوي، دا بايد هم وويل شي، چې دوی په سرمايه داري ممالکو کښې طبقاتي مبارزې ته فوقيت ورکوي.

۳ -اخوان المسلمين: پدې خوځښت کښې د کابل حضرتان فعال رول لوبوي

که چېرې سړی په افغانستان کښې د بيلابيلو سياسي خوځښتونو د غړو او يا پلويانو سره اړيکه (تماس) ونيسي نو وبه ويني، چې د يوه خوځښت پلويان او غړي د بل خوځښت په غړو او پلويانو پسې پروپاګند کوي، او تر ټولو زيات په هغه خوځښتونو کښې رواج ده چې ځانونو ته مترقي وايې، د بيلګې په توګه خلقيان د پرچميانو پسې او پرچميانو د خلقيانو پسې او ملايانو بيا په دغه دواړو پسې خپلې خولې پرانيستې دي او په ضد يې فعاليت کوي، چې دغه تضادونه ددوی د ايډيالوژۍ ،تيورۍ او تاکتيک کښې پرتې نه دي، بلکې د دغه خوځښتونو د مشرانو د ځانپرستۍ او شخصيت پرستۍ څخه اوبه اخلي، چې دا رنګه تضادونه او پروپاګندې، نه يوازې دوی د خپل هدف څخه منحرفوي، بلکې پخپله کمزوري کېږي او په ډلو ،ټپلو او ټولګيو ويشل کېږي.

"**يادونه**: د پورتينيو سياسي خوځښتونو موخې (هدفونه) او کړنلاره د خلق او پرچم او داسې نورو اخبارونو کښې چاپ شوي دي، د معلوماتو لپاره ددوی بنسټيزې (منشور) کتلی شئ."

# د ژبو مسئله

د ژبو مسئله نن ورځ په افغانستان کښې یوه حساسه او اساسي مسئله ده. شپږ میاشتې دمخه د مامورینو قانون د پاس کولو لپاره ولسي جرګې ته راغی، د یوه وکیل له خوا وړاندیز (پیشنهاد) وشو چې پښتو او دري باید د مامورینو د مقرریدو لپاره مساوي حقوق ولري او هر څوک چې پس له دې په دولتي دوترونو(دفترونو) کښې مقرریږي باید په پښتو او دري لیکل او لوستل وکړی شي. دا پیشنهاد د ولسي جرګې په پوره ډېره کې (قاطع اکثریت) سره د ۱۱۸ وکیلانو له خوا تائید شو.

«««دغه وړاندیز (پیشنهاد) او د هغو وکیلانو نومونه، چې دا وړاندیز یې تائید کړی دی د اتحادملي ورځپاڼې په ۱۰۸۰ لمبر ګڼه کښې چاپ شوی دی»»»

د ولسي جرګې غونډه هغه وخت رسمي شکل پیدا کوي، چې دوه پر دري برخې وکیلان حاضر وي. ټول وکیلان ۲۱۲ کسان دی، چې دوه پر دري برخه یې ۱۴۴ کسان کېږي. ددغه وکیلانو له جملې څخه یې څه ناروغه، یو څو یې کمبود دي او یو څه یې د ځینو نورو ستونزو او لاملونو له امله نه ؤ راغلي، چې او سمهال ۱۳۴ وکیلان ولسي جرګې ته حاظریږي، چې په دې حساب لس ۱۰



وکیلانو حاضری ته اړتیا ده چې نصاب پوره شي. که ۱۴۴ وکیلان پوره نه شي، نو نصاب نه پوره کېږي او ولسي جرګه هېڅ فیصله نه شي کولی او ټول کارونه ډب پاتې کېږي. د ولسي جرګې ټول غړي وکیلان په غیر د کوم معقول عذر څخه باید د قانون سره سم ولسي جرګې ته حاضر شي او خپل مسؤلیتونه وپیژني، د کورني او بهرنیو احصائیو له مخې پښتانه په افغانستان کښې له ۷۵ سلنې (فیصده) څخه زیات دی، نو د افغانستان د ډېره کې (اکثریت) ولس ژبه پښتو ده، نو د نړیوالو نورومونو سره سم باید د افغانستان ملي او دولتي ژبه پښتو وي او د افغانستان د ټولو وګړو باید یاده وي او د نورو لږه کیو (اقلیت) قامونو د ژبو لکه ازبکي، ترکمني، هزاره ګي، بلوچي، پشه يي، نورستاني، پارسي (دري) او نورو ژبو د پرمختګ او ودې لپاره باید په دولتي سویه پروګرامونه او پلانونه جوړ شي، خو له بده مرغه د افغانستان د ډېره کي ولس ژبه د وخت و واکدارانو له خوا له نظره غورځول شوې، چې دا د پښتو ژبې په برخه کښې لویه نا انصافي او بې عدالتي ده.

**نیشنل عوامي ګوند**: دې ګوند د پښتنو ستر مشر خان عبدالولي خان په مشرۍ د پښتنو په تاریخ کښې یو نوی بدلون او انقلاب راوست. د بنګال (بنګله دېش) د ازادۍ وروسته نېشنل عوامي ګوند د جمعیت علما اسلام د مولانا مفتي محمود د ګوند سره ایتلاف وکړ او د پښتنو او بلوڅو د صوبايي خپلواکۍ (خودمختارۍ) اعلان یې وکړ.

# پوځیان او انساني حقوق

د ډیموکراټیکو یانې ولسواکو هېوادونو پوځیان ولې د جګړې د بندیانو سره ناوړه چلند کوي ، سره ددې چې د شکنجې انتظار زیاتره د ډیکتاتورانو یانې زورواکانو څخه کېږي؟

ددې پوښتنې په ځواب کښې توماس کلیشه چې د الماني ساپوهانو په اتحادیه کښې د سیاسي ساپوهنې د څانګې مشر دی او د سیاسي ساپوهنې تر نامه لاندې یوه مجله هم خپروي وایي، چې د هغه پوځیانو یا عسکرو چې په ډیموکراټیکه توګه کنټرول کېږي او د نورو پوځیانو یا عسکرو تر منځ توپیر ډېر کم دی. دوی په هماغه یوه ډګر کښې په یو شان ته دندو او وسایلو سره کار کوي، نو له دې کبله د ټولو اردوګانو او پوځیانو عملي چلند یو بل ته ورته دی.

دا تجربه د شلمې پیړۍ په اوږدو کښې په ویتنام او افغانستان کښې د وسله والو جګړو په ترڅ کښې شوې ده.

د ډیکتاتورانو یانې زورواکانو لپاره د پوځیانو یا د عسکرو ډله ډېره مهمه ده ځکه چې د دوی لپاره په ټولو وسایلو سره جګړه کوي.

دا چې څه شی انسانان دا ډول زور زیاتي ته راولي؟ پدې هکله کلیجې وایي چې زور زیاتي کوونکي اکثره هغه کسان دي چې پخپله ورسره زور زیاتی شوی وي. څوک چې په ماشوموالي کښې ذلیل شوی او یا ناوړه چلند ورسره شوی او یا شاته غورځول شوی وي، پاملرنه ورته نه وي شوې نو په ژوند کښې یې دا میلان پیدا کېږي چې د تیري کوونکي په شان شي او د تیري کوونکي تقلید وکړي.

دوی ته د قربانۍ په توګه دا معلومه شوې ده، چې تیري



کوونکی څومره بې رحمه ، بې پروا او څومره نامحدود ځواک لري. دوی هم غواړي چې کټ مټ د هغه تیري کوونکي په شان شي چې بې رحمه او نامحدود ځواک یې لرلو او دا ډول میلان د پوځیانو یانې عسکرو په روزنه کښې ښېرته را ژوندی کېږي، ځکه چې پوځیان په ډېر لارو سره د خپلې غیر ذمه وارۍ او د ګناه شعور او حس غبنتلی کوي. ددوی لپاره دامیر اطاعت او د امر منل ډېر مهم دي، د دندې ذمه واریو، مسلکي ګامونو او بریالیتوبونو ته پام کوي، یانې چې څنګه کار سرته ورسوي ځکه چې د ولې او شي تپوس له دوی څخه نه کېږي.

د جګړې له بندیانو سره دا ناوړه چلند ځانګړې پېښې دي او که په پوځیانو کښې دا عمومي خبره ده ؟ددې پوښتنې په ځواب کښې باید وویل شي چې عسکر د زور د استعمال لپاره تر وژلو پورې روزل کېږي. له دې کبله ددوی د ملکي اخلاقو پوله ډېره ټیټه او هر څه ته زړه ښه کوي.

په ټولنیزه ساپوهنه کښې ویل کېږي چې دوی له خاصو ځانګړو اخلاقو سره عادت لري یا د خاصو اخلاقو خاوندان دي.

عسکر باید ده دي چې د امر په بنسټ باندې کار وکړي او که امر ونه مني، نو بیا سزا ورکول کېږي او پخپله جیل یا زندان ته ځي.

پوځیان د جسماني دردونو څخه زیات د ساوالو یا روحي دردونو قرباني شوي دي، ځکه په جګړه کښې دوی ډېر د فشار لاندې وي. په عسکرو اکثره وخت ډېر بار اچول کېږي. دوی د سیاستوالو له خوا د نا حل کیدونکیو لانجو سیمو ته لیږل کېږي. دوی د انساني حقوقو د ماتولو ډېر امکانات لري. کله چې له دوی څخه د انساني حقوقو د ماتولو جرم وشي، نو بیا ددوی تنظیم ددې سره علاقه لري چې بل ډول یې وښایي او ځانونو ته د خلاصون لارې چارې دلایل برابري کړي .

# د خوب مانا

## پېژندګلوي:

خوب لفظ: خوب په پښتو کې یو داسې لفظ دی، چې زیات وخت د نورو لفظونو (وئیو، لغتونو یا کلیمو سره یو ځای راځي، لکه خوب لیدل ، خوب کول، خوب وړل، خوب ځنګول، خوب راتلل، خوب درتلل، خوب ورتلل او خوب تښتېدل.

بې د خوب لیدلو او خوب تښتېدلو څخه دا نور لفظونه د ویده کېدلو یا ویده کولو مانا ورکوي، خوب تښتېدل د وینښتېدلو یا راوینښېدلو په مانا کارول کېږي، چې د ویده کېدلو یا ویده کولو ضد دی.

خوب خپله هم دخوب لیدلو او هم د خوب کولو مانا ورکوي خو مونږ یې په دې کتاب زیات وخت د خوب لیدلو په مانا کاروو او کله یې چې د خوب کولو په مانا کاروو، نو بیا خپله خوب کول یا ورسره په لندیو کې خوب کول لیکو. په نورو تورو سره خوب سړی هلهویني، چې ویده وي او وینښ نه وي، خو کله نا کله په وینښه د خوب لیدلو یا د ورځې د خوب لیدلو څخه هم خبرې کېږي. دا بې د تخیل (Facy یا Phantais) څخه بل شی نه دی، تخیل د وخت او ځای د قید څخه آزاد دی. د تخیل په



شان خوب هم د وخت او د ځای د قانون پابند نه ده، سړی کولی شي په خوب کې خپل خپلوان چې پخوا وفات شوې وي ووینې هم انسانان او هم پر مخ تللي ژوی (حیوانات) چې مغزو یې لوړه وده کړې وي خوبونه ویني.

## مصنوعي یا جوړ کړي خوبونه:

مصنوعي یا جوړ کړي خوبونه، هغه خوبونو ته وایي، چې چا لیدلې نه وي او د یوې موخې (هدف ) لپاره چا خیالي جوړ کړې وي ددې خوبونو یوه بېلګه د جنرال رحمت الله د خیالي قدرت نمونې په کتاب کې راغلې ده، چې دی لیکي چې: ((مرحوم مولوي صاحب طاوس خان چې د شبقدر په کمپ کې اوسېده له اقتصادي مشکلاتو او ستونزو نه یې ډېر شکایت وکړ، مونږ څو ملګرو ورته وویلې، چې حضرت صاحب ته خوب ووینه کومک به درسره وکړي، مولوي حضرت صاحب وویل: چې ته مې په خوب کې لیدلی یې مجددي صاحب ورته وویل: چې خوب دې په مجلس کې ووایه، له ډوډۍ نه وروسته مجلس جوړ شو او مجددي صاحب تر ټولو مخکې وویلې، چې مولوي صاحب خوب لیدلی توجه وکړئ چې خپل خوب ووایي، طاوس خان وویل: چې وریځ وه، باران و، توپان شو، تپه تیاره شوه، سترګه په سترګه نه ښکارېدل، ګورم چې قبلې خوا ته رڼایي شوه، وریځې سپینې شوې، ګورم چې جګه غونډۍ ده او یو سړی د غونډۍ په سر په آس سپور ښکاري، ښه رڼایي شوه آس و، لکه د "افسانو" براق مجددي صاحب له آس نه کوز شو او په ډنډو اوبو ودریده او خپل لستوني یې پورته کړل، ما د آس جلب ته لاس کړه چې آس ونیسم چې لاړ نشي. مجددي وویلې، چې آس بلد دی چېرته نه ځي، مجددي صاحب دغه ګنده اوبه په

خپلو لاسونو لرې واچولې او ډنډ ځای پاک شو. د خوب په تعبیر شروع شوه، یو چا وویل چې آس اقبال دی او اقبال له مجددي صاحب سره بلد دی، همېشه به دده سره اوسي، بل چا وویل چې دغه ګنده ډنډ روسان او کمونستان وو چې حضرت صاحب ایسته واچول او خدای به افغانستان د حضرت صاحب په لاس آزاد کړي.

وکیل اسدالله خان وویل، چې خوب او تعبیر درست دي حقیقت لري او شک په کې نشته، خو دا یو شی معلوم نه شو، چې مجددي صاحب دغه ګنده اوبه د پاکستان په لور واچولې او که د ماسکو په لور؟

په دې خبره ځینې په خندا شول، په نتیجه کې حضرت صاحب مولوي صاحب ته معاش وټاکه او د وکیل اسدالله خان معاش یې قطع کړ ((جنرال رحمت الله صافی ۱۳۷۷هـ.ش مخونه ۴۱/ ۴۲).

## خوب کول:

ورځ د کار او شپه د خوب کولو لپاره پیدا شوې ده له دې کبله انسانان په دعادي حالت کې د ورځې وینښ وي او کار کوي او د شپې ویده کېږي، او خوب کوي بې له خنډه خوب کول د انسان د جسماني او ساوال (روحي یا نفسي) روغتیا لپاره ضروري دي. د خوب کولو د ضرورت اندازه د انسان د عمر پورې تړلې ده، نوی زېږېدلی ماشوم په ۲۴ ساعته شپه او ورځ کې د ۱۲ نه نیولې تر ۲۰ ساعتونو (ګینتو، ګړیو) پورې خوب کولو ته اړتیا لري. (Eva Kumar, 2003, 13) درې میاشتنی ماشوم بیا د ۱۳ نیولې تر ۱۵ ساعتونو او د شپږو میاشتو یا نیم کال څخه نیولې تر یوه کال پورې ماشوم بیا د ۱۲ نیولې تر ۱۴ ساعتونو پورې خوب کولو ته په ۲۴ ساعتونو کې اړتیا لري. د یو کال



څخه نیولې تر دري کلونو پورې ماشوم د لسو څخه نیولې تر ۱۲ ساعتونو پورې خوب کولو ته او اووه کلن ماشوم څه نا څه لسو ساعتونو خوب کولو او غټان (بالغ کسان) بیا په منځني توګه د ۷ نه نیولې تر ۹ ساعتونو پورې خوب کولو ته اړتیا لري، زیات غټان (بالغ کسان) په څلېریشت ۲۴ ساعتونو کې اته ۸ ساعته خوب کوي، خوب کول یا ویده کېدل د انسانانو بنسټي اړتیا ده کله چې یو شپه سړی سم خوب ونکړي سبا ته ځان سم نه احساسوي، څه شی ته یې ډډه نه لګېږي، که سړی خوب ته پرې نښودل شي نو په څلورمه ورځ د انسان جسماني حالت خرابېږي دځای او ووخت په مالومولو کې نیمګړتییا راځي د یوولسو ورځو څخه زیاته بې خوبي یا خوب نه کول سړی زغملی نه شي.

(Eva Kumar, 2003, 13) کوچنیانو او بوډاګانو خوب کول یا ویده کېدل په شپه او ورځ وېشل شوي، چې غټه برخه یې د شپې او کوچنۍ برخه یې د ورځې کېږي. په ژمي کې په ۲۴ ساعتونو کې څه ناڅه ساعت سړی زیات ویده کېږي.

## د خوب کولو پړاوونه:

د مغزو د برېښنایي څپو (Elektroecnzephalogramm= EE G) له مخې خوب کولو په ترځ کې څلور پړاوونه یا برخې سره بېلېږي، دا لومړنی پړاو د سترګو د ګړندۍ خوځوونې (Rapid Eye Movement t= rem) د سرسري خوب پړاو په نامه یادېږي په دې پړاو کې نه سړی وینښ وي او نه ویده وي په نو رو تورو سره نیم وینښ او نیم ویده وي، پاتې نور درې پړاوونه د ژور یا درانده خوب پړاوونه ګڼل کېږي، دې پړاوونو ته د نه خوځېدلو (non rapid eye monement=Non-Rem) دې ته ته ګوته نیسي، چې په سلو کې ۸۰ کسان د خوب کولو په لومړي پړاو یا د سترګو ګړندي خوځېدلو (رپېدلو) په پړاو کې خوبونهویني او یواځې

په سلو کې ۷ کسان د ژور خوب یا درونډ خوب کولو په پړاو کې خوبونه ویني، دا ددې مانا لري چې د خوب کولو یا ویده کېدلو لومړی پړاو دخوب لیدلو اصلي پړاو دی.

خوب کول یا ویده کېدل په لومړي پړاو کې چې سړی پکې نیم ویښ او نیم ویده وي پیل کېږي، بیا سړی بې له دې څخه چې په ځان پوه شي دوهم پړاو ته وروسته بیا دریم او ورپسې څلورم پړاو ته کوزېږي او دلته د څه نا څه دوه ساعتونو تېرولو وروسته بېرته لومړي پړاو ته راخېژي او څه نا څه نیم ساعت پکې پاتې کېږي او بیا بېرته ند ژور خوب کولو او یا د درانه خوب کولو پړاو ته کوزېږي، په دې توګه څو ځلې سړی د خوب کولو په ترڅ کې لومړي پړاو ته راځي، خو هر څومره چې خوب کول زیات دوام کوي د درانه خوب کولو په برخه کمېږي او د سرسري خوب کولو یا د لومړي پړاو یا د خوب کولو برخه زیاتېږي، د ژور خوب کولو په دوران کې سا ورو ورو اخیستل کېږي انرژي سپما کېږي، ځکه چې سړی هېڅ فعال نه وي او لږ اکسیجن ته اړتیا لري، د خوب کولو په لومړي پړاو کې چې د خوب لیدلو پړاو دی سا بیا د ژور خوب کولو په پرتله ژر اخیستل کېږي، زړه ګړندی کار کوي او د وینې فشار جګ وي، په دې توګه مغزو ته ښه وینه رسېږي.

## ویښ ژوند او خوب لیدلو اړیکې:

ځینې لیکوالان د ویښ ژوند او خوب لیدلو د اړیکو په ضد او ځینې نور یې لپاره خبرې کوي فراید (Freud) لیکي، چې: (د ویښ انسان سرسري قضاوت دادی، چې که چېرته خوب لیدل د بلې نړۍ پورې اړه ونلري، خو خوب کوونکي بلې نړۍ ته بیایي (Freud, 1961, s. 17) دې زیاتوي، چې بور داخ (Burdach) خوب لیدنه په ډېر غور سره انځور کړې ده، وایي چې هېڅکله په وینښه ژوند د خپلو هڅو خوندونو خوشحالیو او دردونو سره په خوب لیدلو کې نه تکرارېږي، بلکې په



ډېره اندازه سره په خوب لیدنه کې ددې څخه مونږ خلاصېږو.

فراید (Freud) زیاتوي، چې په همدې مانا سره ستروميپل (Strumpell) خبرې کوي او لیکي، چې څوک چې خوب ویني هغه د ویښ یا بیدار هوښ (شعور) د نړۍ نه ستون شوی وي، په خوب لیدلو کې د ویښ هوښ (شعور) د ډډ او متن خوندی (یاد یا حافظه) او د هغه عادت منظم کړه چلند) بېخي ورک شوی وي. (Freud, 1961, s. 17).

زیات شمېر لیکوالان بر خلاف ددې د ویښ ژوند او خوب لیدلو تر منځ په اړیکو ټینګار کوي، فراید (Freud) وایي چې ویګند د (Weygandt) د بورداخ (Buradach) په پورتنۍ خبرې سیده نیوکه (اعتراض، انتقاد) کوي او لیکي چې په زیاتو خوبونو (خوب لیدلو) کې لیدل کېږي، چې دا مونږ ورځنی عادي ژوند ته بېرته راولي په ځای ددې، چې مو ترې لېرې کړي. فراید چې هافنر (Hauffner) وایي، چې لومړی خوب لیدنه ویښ ژوند مخ په وړاندې بیایي زمونږ خوب لیدنه د هغه یادونو سره غوټه کېږي، چې لږ څه مخکې زمونږ په هوش (شعور) کې و. ژور کتنه تل هغه پیدا کولی شي، په کوم چې خوب لیدل د تیرو وختونو د کتنو سره غوټه کېږي. فراید بیا دیسن (jessen) خبرې ته راځي چې وایي لږ یا ډېر د خوب لیدلو ډډ (متن) د هر یو تن د سړیتوب په واسطه ټاکل کېږي، چې د هر یو تن عمر، جنسیت (ښځې یا نرتوب) مقام، روزنه، د ژوند عادتونه، د ټول ژوند تجربه پېښې پکې رول لوبوي (Freud , 1961, s. 17).

فراید (Freud) بیا د فلسلي ماس (Maas) خبره راوړي، چې وایي تجربهٔ زمونږ دا ادعا تائیدوي، چې مونږ د هغه شیانو زیات خوبونه وینو چې مونږ ته ګران وي او مونږ پرې خپه کېږو (Freud, 1961, s. 18) ځینې نور بیا وایي چې هغه څه هم په خوب کې راځي چې سړي ته ارزښت نه لري او ورته ګران نه وي.

فرايد (Freud) په دې ښتون هلډي براند (Hildebrandt) نظر را په ګوته کوي، چې وايي د خوب ليدلو حاجت دی چې د يوې خوا د رښتيانې او حقيقي ژوند څخه ځان په ډډه او بېلوي او د بلې خوا دا د هغه پوره اړه لري.

## خوندي (حافظ):

په خوب ليدلو کې او خوب ليدو توکونه (مواد) سړی داسې ګڼه (فرضيه) کولی شي، چې هر څه مونږ:

## خوندي:

په انګليسي کې Memory او په جرمني کې Gedachnis په خوب کې وينو زمونږ د ويښ ژوند د تجربو کتنو او احساس محصول دی، خو په خوب (ليدلو کې کله نا کله داسې مواد رامخته کېږي، چې سړي ويښ ژوند کې کتلې نه وي او د ويښ ژوند پورې نه تړل کېږي. سړي ته دا په ياد وي، چې څوک يا څه شی يې په خوب کې ليدلی دی، خو په دې نه پوهېږي، چې په ويښه يې کله او چېرته ليدلی دی، سړي ته پکار دي چې دا ومني چې په خوب (ليدلو) کې څه شي نه خبر و او په ياد يې و، خو په ويښه د هغې د ياد توان نه لري.

فرايد (Freud زياتوي، چې زما په اند (هر څوک چې په خوبونو (Dream) باندې کار کوي د يوې عادي پېښې په توګه به دا ومني، چې په خوب کې سړی داسې مالومات او يادونه لري، چې په ويښه يې نه لري. (Freud, 1961, s. 23).

فرايد (Freud) زياتوي، چې يوه پېښه د ماشوم والي کتنې او ليدنې دي، چې په خوب کې توکونه (مواد) ليدل کېږي، خو په ويښه يې سړی يادولی نه شي، په خوب کې مونږ د ماشومتوب يا ډېر لېرې وخت پېښې وينو، چې مونږ هېرې کړې وي او په ويښه ورسره سر و کار نه لرو، په دې کې د ماشوم والي د هغه پېښو د کسانو او شيانو تصورونه



هم شامل دي، چې د سړي لپاره ډېر مهم نه و او غاړه ييز رول لري، له دې کبله سړي ته وروسته له هغې چې راويښ شي پردی يا نا اشنا ښکاري.

فرايد (Freud) ليکي چې فولکلت (Volkelt) وايي چې (خاصې پاملرنه وړ دا خبره ده، چې په خوب کې مونږ د ماشوم والي او ځوانۍ پېښې وينو په کومو چې مونږ سوچ نه کوو او زمونږ لپاره يې خپل اهميت د لاسه ورکړی دی). (Freud, 1961, s, 24) داسې بريښي چې د ماشوموالي او ځوانۍ پېښې په زياتو خوبونو کې کره رول لوبوي فرايد (Freud) زياتوي، چې روبرت (Robert) وايي چې په ټوليزه (عمومي) توګه په عادي خوب (ليدلو) کې د اخرنيو ورځو پېښو ته ځای ورکړی شوی وي او بيا د هلډي بران (Hildebrandt) په حواله سره وايي چې په خوب کې هغه پېښې او شيان هم راځي، چې په ويښ ژوند مهمې نه وي او غاړه ييز (فرعي) ارزښت لري (Freud, 1961, s. 26).

## د ړندو خوبونه:

رواخر (Rohracher) ليکي چې (د هغه کسانو په خوبونو کې چې ړانده پيدا شوي دي، تصويرونه نه وي چې دا ددې ادعا لپاره يوه دليل دی، چې د خوب ټول توکونه (مواد) زمونږ په تجربو او معلومات ولاړ دي). Rohgracher, 1965, s. 297.

د ړندو پيدا شوي انسانانو خوبونه تصويرونه نه لري، چې په ويښه د سترګو پورې اړه لري خو نور غلور واړه حسونه يې په خوب کې کار کولی شي لکه حس کول، اورېدل، خوند کتل او بوی کول، هو هغه انسانان چې بيا وروسته ړانده شوي وي هغه تصويرونه په خوب کې ليدلی شي.

## لنډيز:

يو شمېر ليکوالان د خوب د موادو او د ويښ ژوند اړيکې په شک

کې نه اچوي او وايي، چې خوب کې سړی هغه څه ويني يا حس کوي، چې په ويښته يې ليدلی يا حس کړی وي، کېدای شي چې دغه څه مهم يا غيری مهم او غاړه ييز د لنډ وخت وي يعنې هغه کارونه او پېښې وي، چې په ويښه په بشپړه توګه سرته ونه رسېږي، نو د شپې په خوب کې راځي او يا د تېر لرې وخت يعنې ماشومتوب يا ځوانۍ وي، ځينې نور بيا د خوب او د ويښ ژوند په منځ کې اړيکې ردوي او په دې نظريه دي چې خوب (ليدل) د ويښ ژوند نه بېل واقعيت يا موجوديت دی، چې مونږ د واقعي ژوند څخه بېلوي، يادونه يې د منځه وړي يو بلې نړۍ ته مو بيايي چې د پيدا ينښت بل ډول تاريخ لري، چې په واقعي توګه منځ ته نه دی راغلی، خو زما په اند په خوب (ليدلو) کې تخيل او تصوير ډېر مهم رول لوبوي او د خوب د (ليدلو) کره برخه جوړوي په تخيل ( Fancy Fantasie Phantasie يا Tas) او تصوير کې د وخت او ځای پابندي نه شته دی، په خوب کې هم د وخت او ځای پابندي نه شته دی. سړی په خوب کې کولی شي چې خوشحال خان بابا اجمل خټک کې څه هم د بېلو زمانو پوري اړه لري يو ځای او يو وخت کې ووينې، ددې لپاره چې په دې خبره ښه پوه شو لنډ نظر تخيل ته اچوو.

## تخيل (Phanntasie):

که چېرته مونږ داسې هڅه وکړو، چې هغه څه رایاد کړو، چې يو ساعت (يوه ګړۍ) د مخه مو کړې وي، نو مونږ کومې ستونزې نه لرو چې کره (مهمې) برخې يې د هغه خبرو چې يوه ګړۍ (ساعت) د مخه کړې وي رايادې کړو، نو بيا پخپل ياد کې ځينې کندې کپړې هوارو، ځينې برخې پرېږدو او ځينې نوي ور زياتوو. (Rohracher, 1965, s. 294).

په دې هکله زيات شمېر تجربوي (Experimentelle) څېړنې شوې دي، عمر، سړيتوب او قوميت په کې رول لوبوي او رورا خر (Rohracher) وايي چې بارلټ (Barlet) انګليسانو او هندوانو ته د دوه



سوه ويو (لغتونو) متن ورکړی و، چې ياد يې کړي. د پنځلسو دقيقو دمې وروسته انګليسانو ډېر ساه او لنډ کړی و، هندوانو بيا برخلاف اوږد کړی او سينګار کړی و (Rohracher, 1965, s. 294) هغه يادونه چې پخوانۍ کتنې ډډ (متن) جوړوي، د خوندی (حافظې) څخه راځي، هغه يادونه چې پخوانيو کتنو ولاړ نه دي د تخيل (fancy) محصول دی، تخيل هغه څه دی، چې يادونو ته بله بڼه ورکوي، نوی ترکيب جوړوي او په دې توګه د يادونو ترکيبونه منځ ته راځي، چې رښتيا (واقعي يا حقيقي) نه ګڼل کېږي. (Rohracher, 1965, s. 294).

رورا خر (Rohracher) زياتوي، چې کاينځ (Kainz) د خوندی (حافظې) او تخيل په منځ کې توپير داسې را په ګوته کړی دی، چې خوندی (حافظه) ساتونکې وه او کټ مټ د هغه څه رايادوي، چې يو ځل سړي ليدلې وي او تخيل بر خلاف ددې د بدلولو او نوې جوړونې دنده تر سره کوي، (Rohracher, 1965, s. 295). تخيل هغه ساوال (نفسي، رواني، روحي) ځواک دی چې هغه مواد چې زمونږ د مالوماتو او تجربو محصول دی او په خوندی (حافظې کې زېرمه شوي دي، د نورو موادو سره چې زمونږ د مالوماتو او تجربې محصول نه دی يو ځای کوي او نوی شی منځ ته راوړي لکه، يوه نوې ودانۍ چې د زړو ښښتو او لرګو څخه جوړه شوې وي، تخيل يو ساوال (نفسي، رواني، يا روحي) ځواک دی، چې يادونه د نويو شيانو سره يو ځای کوي او په دې توګه د يادونو ترکيبونه جوړوي، چې نوې بڼه لري.

د ماشومانو، ځوانانو او همدغه شان د شاعرانو او فنکارانو د تخيل ځواک (قوه) خورا غښتلې وي، د ماشومتوب او ځوانۍ د وخت معلومات او مواد په خوبونو کې کره رول لوبوي.

## د خوبونو سرچينه يا علت:

په پوهنيز ډګر کې خوب ليدلو سرچينه يا علت په خوب کولو کې

خنډ پیدا کېدل ګڼل کېږي، سړي به خوب لیدلی نه وي، که چېرته څه شی په خوب کولو کې خنډ نه وي اچولی، خوب لیدل په خوب کولو کې په خنډ اچولو غبرګون دی، دلته دا پوښتنه منځ ته راځي چې دا خنډ یو شی اچوي او که ډېر شیان یې اچوي، زیات شمېر لیکوالان په دې نظر دي چې په خوب کولو کې د خنډ اچولو سرچینې یا علتونه ډېر دي، دا چې کوم د خوب لیدلو لپاره مهم دی په دې هکله د مختلفو لیکوالانو نظري یو د بل سره توپیر لري چې مونږ پرې دلته رڼا نه اچوو، په ټولیزه توګه د خوبونو د لیدلو سرچینې یا علتونه په څلورو ډولونو وېشل کېږي:

(۱): بهرني حسي پاروونکي.

Objective=ABere Sinneseregung.

(۲): دنني حسي پاروونکي.

Subjective= innere Sinneseregung.

(۳): دنني جسماني پاروونکي.

Orrganischer= innere Leibreiz.

(۴): سوچه سا والي (نفسي، روحي، رواني) پاروونکي.

Rein Psychische Reizquelle.

## بهرني حسي پاروونکي:

کله چې سړی ویده کېږي، نو سترګې پټې کړي او ددې هڅه کوي، چې دبهر سره حسي دروازې وتړي خو سړی نه شي کولی، چې پاروونکي بالکل دننه را پرې نږدي او یا د حسونو پارېدنه بالکل ختمه کړي، دا چې مونږ غښتلي پاروونکي هر وخت وېښولی شي، په ثبوت رسوي چې د خوب کولو په وخت کې هم د بهرنۍ نړۍ سره پرله پسې تماس شته او ځینې پاروونکي د خوب کولو په وخت کې مونږ ته راځي، چې د خوب لیدلو چینه ګرځي، خو دا پاروونکي پخپله



رښتیاني بڼه کې نه بلکې په بله بڼه کې مونږ ته راځي، چې درښتیاني بڼې سره اړیکې لري، په دې نښتون کې فرایډ (Freud) مایر (Meier) خوب را په ګوته کوي، چې یو شمېر کسان پرې برید کوي او دی په شا ازاد په ځمکه غزوي، او غټې ګوتې او بلې ګوتې په منځ کېږي غشي په ځمکه ټک وهي، داسې په خوب کې لیدل چې په دې منځ کې راپاڅېدلی وي لیدل چې پلاله یې دغټې ګوتې او بله ګوتې تر منځ تاوه شوې ده. بله پېره چې د کمیس د هرې د خوا توکمۍ یې کلکې تړلې وي خوب یې لیده چې همانسي (غرغره) شوی وي، یعنې خپسې نیولی و او دمرۍ ځوړند شوی و. فرایډ (Freud) زیاتوي، چې هوف باوور (HolffBauer) په ځوانۍ کې خوب لیدلی و چې (جګ دېوال څخه رالوېدلی وي چې راپاڅېدو، ویې کتل چې کټ بری مات شوی دی او دی رښتیا لوېدلی دی. (Freud, 1961, s. 31) زلمی وایي چې چا راته د کلا د تاداو عکس راوړو، چې زما تره زوی زما په ځمکه جوړوله، زه په دې سوچونو کې ویده شوم، په خوب کې یو کنډر وینم چې دروازې او کړکۍ نه لري چې کتل مې دننه کنډر وپړسېده کوټې او یو کوچنی کور پکې په څو دقیقو کې جوړ شو، دا کور زما د تره زوی نه و بلکې زما د یوه دوست و، چې زما زوی تړون وویل چې زه به پکې په کرایه دیره شم، په دې منځ کې زه د خوبه راپاڅېدم.

د زلمي دا خوب مونږ ته دا را په ګوته کوي چې نه یوازې بهرنۍ پاروونکي خپله بڼه بدلوي، بلکې د خوب لیدلو په لړ کې د وخت او ځای قانون بندي چې په ویښه اعتبار لري ناچل وي په څو دقیقو کې کور جوړېږي، چې په ویښه امکان نه لري او هم د کور خاوند بدلېږي. خوب لیدل یو داسې حالت دی، چې د وخت او ځای پابندي پکې نه شته دی.

دا پوښتنه چې سړی د خوب لیدلو په ترخ کې د بهرني پاروونکي

خوي او خاصیت نه پېژني د فراید (Freud) د لیکنې له مخې شټرومپل (Strumpell) او ونډ (Wundt) داسې ځواب ورکړی دی، چې دغه پاروونکي چې په خوب کې سړي ته راځي، د تیروتنې (Illusion) په حالت کې وي یعنې د تیروتنې د شرطونو د لاندې وي.

یو حسي پاروونکي مونږ سم پېژنو کله چې ددغه پاروونکي حس او پېژند غښتلی، روښانه او پوره دوام لرونکی او په دې هکله د سوچ کولو لپاره مونږ سره پوره وخت وي، کله چې دغه شرطونه پوره نه وي نو بیا مونږ شی نه پېژنو، چې حس کوو یې، مونږ په دغه شي تیروزو. د بېلګې په توګه: کله چې سړی په پراخ ډګر کې چکر وهي او لېرې یو څه د سترګو شی، چې روښانه او جوت نه وي، نو کېدای شي چې دغه څه ورته آس ښکاره شي، او چې لږ ورته را وړاندې شي بیا ورته غوا ښکاره شي او بالاخره چې ښه ورته رانږدې شي، نو بیا یې وپېژني چې انسانان دي چې ناست دي، همدغه شان نامعلومه خوي او طبیعت هغه حس دی چې بهرنی پاروونکي په خوب کې مونږ ته راکوي همدا تیروتنه یا غلط احساس دی. (Freud, 1961, s. 35).

## دنني حسي پاروونکي یا ذهني Subjective پاروونکي:

د ټولو نیوکو سره سره عیني (Objective) حسي پاروونکو (Erreger) په خوب لیدلو کې سره رول لري، خو دا چې د ټولو خوبونو تصورونه ددغه پاروونکو په مرسته روښانه کېدلی نه شي، نو د نورو پاروونکو لټه پکار ه، دا دنني حسي پاروونکي یا ذهني (Subjective) پاروونکي کېدلی شي، مطلب دلته د تخیل او تصور څخه دي، تخیل نا مخامخ په لفظونو کېږي او تصور مخامخ په تصورونو کې رابښکاره کېږي، داسې مخامخ تصورونه یا تصور یو شمېر انسانان د ویده کېدلو په ترڅ کې لري او د سترګو برسېره کولو وروسته هم یوه شېبه وي. فراید (Freud) لیکي، چې ماوري (Maury) چې غښتلی تصور لرلو وایي چې تصوري



ځېرې په خوب کې سړي ته راځي د مخامخ تصویرونو لپاره چې سړی یې ویني او ربښتیا وجود نه لري، یعنې تصویر وي، د تصویر د منځ ته راتګ لپاره یوه اندازه غېږي فعال کېدنه پکار ده، چې انسان فعالیت بند کړي او خپل ځان راغونډ کړي فراید (freud) لیکي چې ماوري (Maury) په خوب کې هماغه تصویرونه لیدلي دي، چې مخکې د ورکېدلو څخه یې مخامخ لیدلي و.

یوه ورځ دی وږی و، ځکه چې پرهېزانه یې خوړه په تصویر کې یوه کاسه ویني چې ډوډۍ پکې ده او یو تن پنجه په لاس کېبې نیولې ده او کاسې څخه خوراک را اخلي. په خوب کې هم د خوړو ډکه کاسه لیدلې وه، چې د پنجې کشار یې اورېده چې خواړه یې ترې اخیستې (Freud, 196, s. 37- 38).

## دنني جسماني پاروونکي:

کله، چې مونږ په دې لټه کې یو چې خوب سرچینه په بهر کې نه، بلکې د بدن په دننه کې وګورو نو بیا پکار ده، چې دې ته پاملرنه وکړو، چې زمونږ د بدن قابو ټول غړي د روغتیا په حالت کې د خپل ځان نه خبرې نه ورکوي خو د ناروغۍ په وخت کې دردونکی احساس راکوي، چې د بهرني پاروونکو د درد او احساس سره برابروي، فراید لیکي چې دا ډېر پخوانۍ تجربه ده، چې د خوب کولو په وخت چې سړی ویده وي داحساس ساحه پراخه وي او داسې څه سړی حس کولی شي، چې د خپل بدن د غړو څخه یې راځي او په ویښه یې حس کولی نه شي، دا خبره ارسټولس (Aristoteles) امکاني ګڼله، چې په خوب کې سړی یوې ناروغۍ ته چې پیل کېږي، ځیر کېږي. د انسان د بدن د یوه غړي خرابتیا د ډېرو انسانانو لپاره د خوب لیدلو (پارونکي یا سرچینه) ده.

په ټولیزه (عمومي) توګه د زړه او سږو ناروغانو ته ګوته نیول

کېږي، چې ډاروونکي خوبونه ويني د زړه د ناروغانو خوبونه ډېر لنډ وي او سړي په هيبت راپاڅېږي، چې په متن کې زيات وخت په خوب حالت کې مرګ رول لوبوي. د سږو د ناروغانو د خوبونو متن، تنګسه، سابندي او تېښتـه وي، چې خپسسې ورتـه ويـل کېږي، شيطان تېر ايستنه د بدن د غړي د پاروني په واسطه د خوب ليدلو بله بېلګه ده، کله چې دا د ډاډ وړ وي چې د ناروغتيا په حالت کې د بدن غړي د خوب ليدلو علت وي او کله چې مونږ دا هم ومنو، چې د خوب کولو په وخت کې کې بهرنۍ نړۍ تـه پاملرنـه نـه کېږي، او د ننني جسماني نړۍ تـه زياتـه پاملرنـه کېږي، نـو بيـا دې تـه اړتيـا نشـته دی، چې د بـدن غـړي ناروغـه شي، چې د خوب ليـدلو بنسټ وګرځي، بلکې هغـه څـه چې د طبيبانو له نظره د بدن د غړو ټول سيستم پکې برخه لري د شپې ژوره اغېزه لري او د خوب ليدلو سبب ګرځي، مونږ دلته دخوب ليدلو د منځ تـه راتګ يـوې نظريـې تـه راغلـو، چې د ټولـو طبـي څېړونکـو لـه خوا امتيـاز ورکـول کېږي، دا ځکـه چې دوی د بـدو د غـړو د پـاروني د هغـه ننبو تر منځې چې د خوب ليدلو او د بدن د غړو د پاروني د ننبو تر منځ د ساوالي ناروغی (psychose) سبب ګرځي، په ډېره اندازه سره يـو شـان شته والی دی. فرايـد (Freud) ليکي چې د يـو شـمېر ليکوالانو لپاره د فلسـفي شـپين هـاور (Schpenhauer) نظريـه هـم ده، چې د نـړۍ انځـور زمونږ په ذهن کې داسې جوړېږي، چې زمونږ عقل هغـه پـاروونې چې د بهر نه راځي د وخت، ځای علت او معلول په بڼه اړوي ( .Freud 1961, s 41) د بدن غړي چې د خپلواک عصبي سيستم پورې اړه لري د ورځې په مونږ داسې اغېزه کوي چې مونږ يې نه حس کوو خو د شپې يې بيا حس کوو، لکه د دشور په شان چې د ورځې نه اوربدل کېږي، خو د شپې اوربدل کېږي په عمومي توګه دا منل شوې ده چې د خوب ليدلو په منځ ته راتګ کې د بدن غړي اغېزه کولی شي، دا خبره د ځينو خوبونو د



مضمون نـه را پـه ګوتـه کېږي، فرايـد (Freud) زيـاتوي، چې سيمون (Simon) وايـي چې د بـدن د غـړي د دسـتګاه چې پـه عـادي حالـت د احساساتو په ځرګندولو کې برخه لري د کوم بل علت له کبله ترينګلی شي او د احساساتو په ځرګندونو کې برخه ونه لري نو بيا سړی داسې خوب ويني، چې ددغـه احساسـاتو سره سـمون خوري، يـو بـل اصـول دادي، چې د بدن د غړي دستګاه کې خنډ راشي نو بيا په خوب کې سړی داسې څه ويني چې د بدن د غړي ددې دستګاه د خنډ پورې اړه لري. (Freud, 1961, s. 43).

## ساوال (روحي پاروونکي):

کله، چې مونږ د ويښ ژوند او خوب ليدلو اړيکې څېړلې او د خوب ليدلو په سرچينې مو رڼا اچولـه مونږ تـه دا پتـه ولګېدلـه، چې د خوب پخوانيو او نويو څېړنو له نظره انسانان هغه په خوب کې ويني چې د ورځې کوي څه چې په زړه پورې وي مونږ ددې نظريې سره تضاد هم وليده، چې خوب ليدل سړی د ورځنې ژوند نـه بې غمـه کوي د ورځنې ژوند شيان هله په خوب کې راځي چې خپل فعال خوي د لاسه ورکړي او زاړه شي.

خو ورځني په زړه پوري شيان، بهرني او دنني پـاروونکي دي، ددې لپاره بسيا نه کوي چې د خوب ټولې سرچينې را پـه ګوتـه شي، داسې خوبونه هم شته دي چې دا پوښتنې درې پـاروونکي يې روښانولی نـه شي، دلتـه د تصوير يادونـه ضروري ده. فرايـد (Freud) ليکي چې ونډ (Wandt) وايـي چې پـه ناحقـه سره د خـوب تصـويرونه سـری د حسـونو تيروتنې (Halizunation) ګڼي دا پـه حقيقت کې د تصـويرونو برښـيندنې (Illusionen) دی، ددغـې حسـيونونه پيـدا کېږي، خـو پـه زيـات شـمېر خوبونـو کـې جسـماني پـاروونکي، ورځنـی کـار او پـه زړه پـورې شـيان ساروالیزو پاروونکو په توګه ورځنی نامعلوم پاروونکی په ګډه اغېزه

لري.

د راوښيدلو وروسته ولې زمونږ هغه څه هېرېږي، چې په خوب کې مو ليدلي وي؟ ددې پوښتنې په ځواب کې سړی ويلی شي چېې د خوبونو د هېرېدلو په برخه کې لومړی ټول هغه څه اعتبار لري، کوم چې په ويښه هم په هېرېدلو کې رول لوبوي، مونږ په ويښه يو شمېر هغه شيان هېروو، چې زمونږ د ساېز حالت سره کمزورې غوټه شوې وي، همدا خبره د خوب د ډېرو انځورونو لپاره اعتبار لري، چې زمونږ د ساوال ژوند سره اړيکې کمزور وي، په داسې حال کې چې د غښتلو اړيکو شيان ژر نه هېرېږي، خبره په ويښه داده، چې څه چې سړی يو وار وويني يا حس کړي هغه ژر هېرېږي او څه چې سړی تکرار ويني يا حس کوي هغه ژر نه هېرېږي، د خوب زيات شمېر تصويرونه سړی يو ځلويني له دې کبله ژر هېرېږي، دريمه خبره داده چې احساس، يادونه او سوچونه يوه اندازه په ياد پاتې شي، ضروري ده چې په مناسب ډول ټوليز اتحاد ولري ـ که چېرته سړی د يو شعر بيت لغتونه کړي او ټول ګډوډ کړي نو يادول يې ګران دي په منظم ډول ليکل شوی يو لغت د دبل سره مرسته کوي او په اسانۍ سره ډېره موده په ياد کې پاتې کېږي جاړ او غير منظم شيان په سختۍ سره په خوندۍ (حافظه( کې ساتل کېږي، په خوب کې شيان نامنظم وي.

په خوب کې د ويښ ژوند منظم يادونه نه راځي، بلکې خاصې برخې ددې راځي چې د هغه عادي ساوال اتحاد نه وينا شي چې په ويښه دوه نور شيان د خوب د هېرېدلو سبب ګرځي، چې يو يې په خوب کې بدل شوی احساس دی، چې په ويښه بل ډول وي او بل يې د رايادېدلو مودو نظم دی، چې د ويښ لپاره ژباړل کېدلی نه شي، د انساني عقل دا هڅه چې هر څه په نښتون کې ويني دومره غټه ده چې د بې نښتون خوب نيمګړتيا د راپارولو په ترڅ کې د منځه وړي فرايد (Freud) زياتوي،



چې سپيلتا (Spilta) داسې ګڼنه کوي چې د خوب د رايادولو په ترڅ کې مونږ د خوب په موادو کې چې يو د بل په خوب کې پراته وي، نظم راولو يو بل پسې کوو او سم اندي (منطقي) نښتون پکې چې په خوب کې نه شته دی، منځ ته راوړي.

## د خوب ساوالي ځانګړتياوې:

خوب ليدلو ته د پوهنيزې کتنې په لړ کې مونږ داسې ګڼه (فرضيه) کوو ، چې خوب زمونږ د خپل ساوال فعالت پايله (نتيجه) ده خو د خوب ډېر څه سړي ته نا اشنا او پردي ښکار، چې دا پوښتنه را پيدا کېږي، چې په خوب کې ساوالي پېښې بدلې نه دي؟

څه نا څه پاو کم اته بجې چې زه د خوبه راپاڅېدلی يم ببېرته مې ډډه اچولې ده، يو لنډ خوب وينم، چې د کميس مخکنۍ لمن کينې خوا ته شلېږي، سمدستي راپاڅېدم چې سوچ مې وکړ زه يو د خېټې اپريشن په مخکې لرم چې سبا ته يعنې په ۹ تاريخ د وخته د نرکوزي (Anesthesia Narkose) مخکې معاينې ته ورځم، ددې خوب علت هم راته دا د اپريشن اندېښنه معلومه شوه، چې د خېټې په ځای کميس څرېږي، يعنې پخپله شی بدل شوی دی، څه نا څه د سهار نهه بجې چې ويده شوم بېرته راپاڅېدم خوب وينم، چې د يو چا سره په موټر په مخکې سيټ کې ناسم يم چې هغه يې چلوي يو ميدان غوندې ځای کې ډېر ګړندی روان وي، زه ورته وايم چې پام کوه چې نه څوک ونه وهې چې ګورم موټروان بې هوښه دی، دلته يو څو کورونه دي که يو کور دی.

موټر ودرېږي، زه ترې راکوز شوم موټروان بې هوښه وي غږ وکړي چې ترې يم، زه اوبو پسې دغه کور ته ورننوزم لومړی ماشوم او بيا يوه ښځه وينم، ښځې ته ووايم چې خورې لرې

اوبه راکه چې موټروان ته يې ورکوم.

دا خــوب زمـــا د نرکـــوزي (Anasthesia) د انديښـــنې ســـره پـــه نښتون کې دی.

**نـنوتنه:**

د خوب څېړنه په طبي سا پوهنه کې يو خاص مقام لري او خوب مانا يو ستره انقلابي پېښـه ګڼل کېږي، خپله د طبعي ساپوهنې مؤسسې ځيږموند فرايد (S. Freud) د خپلو هغه هڅو بريتوب چې د خوبونو په مانا پوه شي ډېر جګ ارزيابي کوي، ځکه چې خوبونـه د ساوالو پېښو غېږې بيدارې (غېږې شعورې) برخې ته غونډه لار لري.

پـه دې ځـای کـې طبـي سـاپوهنې يـو شـمېر بنسـټې فرضـيو تـه لنـډه کتنـه پکـار ده تـر څـو چې هغـه لوسـتونکي چې د سـا پـوهنې سره بلد نه وي هم....

**يادونه:**

ارواښاد ډاکتر کبير ستورى ٢٠٠٢ - ٠۴ - ٠۴ له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې او دا کتاب له همدې ځايه وروسته له ليکلو پاتې



# د پښتنو د سياسي، علمي او ټولنيزو مشرانو په نوم د ارواښاد ډاکټر کبير ستوري

# ليــــکونه

✸

## د افغانستان د اسلامي جمهوریت محترم جمهور رئیس حامد کرزي صیب ته سلامونه!

عزتمنده ! ددې لیک په واسطه زه ستاسې پام په لنډو تورو سره د وخت یو څو ضرورتونو ته را اړوم:

۱ـ په بهر کې په تېره بیا په لویدیزو هېوادونو کې زمونږ راتلونکی نسل او ماشومان عربي لیک دود زده کولی نه شي؛ خو پښتو په لاتیني یا رومي تورو په اسانۍ سره لیکلی او لوستلی شي. همدا شان په انټرنیټ(**Internet**) او نورو تخنیکي چارو کې پښتو په لاتیني تورو پکاروي؛ خو مونږ په لاتیني یا رومي تورو عمومي منل شوی لیکدود نه لرو او حتی د خپل قام پښتون نوم یو شان نه شو لیکلی او هر څوک یې په بېله بېله بڼه لیکي. له دې کبله د پېښور د پښتو اکاډمۍ او د کابل د علومو د اکاډمۍ یوه ګډه جرګه ګۍ پکار ده، چې د پښتو په لاتیني تورو کار وکړي او بیا وروسته د عربي لیک په خوا کې په لومړنیو ښوونځیو کې رواج شي. په دې توګه به په بهر کې زمونږ راتلونکی نسل، چې ډېر پوهان او مسلکي کسان پکې شته دي، کله چې خپل



هېواد ته ځي ځان به بې سواده او پردی نه حس کوي او هم به د تخنیکي پوهې جوګه شو.

۲ـ د افغانستان څخه پاکستان ته د جګړې له کبله د کډې کولو په لړ کې ډېر پښتانه دوه کوره شوي دي؛ خو دوی په پاکستان کې د خپلو حقوقو څخه بې برخې دي، چې ځمکه پخپل نوم واخلي او یا بل څه کاروبار پیل کړي، له دې کبله پښتنو ته لکه د فرانسې او جرمني په شان د دوبل تابعیت (شهریت) امکانات ورکول او هم د تجارت او تګ راتګ آزادي، چې هر پښتون بې د کاغذونو تګ راتګ وکړي د وخت اړتیا ده.

په درنښت

ډاکټر کبیر ستوري

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند مشر

**15.02.2006**

Germany, Köln:  April 2001

## د پښتونخوا د قامي ګوند مشر محمد افضل خان لالا، د پښتونخوا ملي عوامي ګوند مشر ښاغلي محمود خان اڅکزي او د عوامي نیشنل ګوند مشر ښاغلي اسفندیار ولي خان ته،

پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د مشر ډاکتر کبیر ستوري او مرستیالانو ښاغلي علي خان محسود او ښاغلي محمد شیرین ګردیوال ګډ لیک.

**سلامونه!**

د راتلونکو بدلونونو په اړوند داسې جوتیږي چې یو څه بدلونونه راروان دي، لیکن ددې بدلونونو اصلي تصویر څوک نه شي مالومولی او نه د اټکلونو له مخې د حالاتو اصلي ترسیم کیدی شي. هیڅوک نه پوهیږي چې څه راروان



دي، او څنګه راروان دي، خو هر څه چې راروان وي راځي به و خو مونږ له پکار دي چې د راتلونکي بهیر کښې زمونږ دریځ او غوښتنې جوتې او ښکاره وي.

د پلورالستي ډیموکراسۍ او ګڼ ګوندیز پارلېمنټ لپاره هلې ځلې او فکر باید وده وکړي او د روانو حالاتو سره سم (مطابق) ډګر (میدان) ته راوځي.

د۲۰۰۱ عیسوي کال د فرورۍ د میاشتې د ۲۲ مې نیټې راپېد ېخوا د طالبانو حکومت د بودا د مجسمو د ورانولو هلو ځلو د هېواد دننه او بهر هېوادوال اونړېوال ناارامه کړي دي. داسې بریښي (ښکاري) چې طالبان د تیرو حکومتونو په شان خپل ځان پخپله د کمر څنډې ته ورنژدې کوي. که د دوی دا حال وي نو په راتلونکی کښې به دوی ځان پخپله کندې ته ګوزار کړي.

دا چې د پښتني تاریخ په اوږدو کښې تل داسې وړې او غټې کولتوري، ټولنیزې او سیاسي چپې راغلي او تیرې شوي دي نو دا هم د طوفان د څپو یوه ځپه ده او کیدی شي چې تیره شي.

اصلي خبره داده چې ددې نه وروسته یانې د طالبانو د حکومت نه وروسته به ددې سیمې د پښتنو او د افغانستان څه حال وي.

دا خبره ټول ته جوته ده چې چې طالبان نژادي پښتانه دي او یا اکثریت نژادي پښتانه دي، خو سیاسي پښتانه نه دي.

ددې لپاره چې د وختا و زمانې د حالاتو په اړوند ټول قوم پرسته سیاسي او غیري سیاسي ډلې، ټپلي او مخور

مشران خپله ذمه واري او دنده تر سره کړیو نو پکار دي چې د طالبانو نه وروسته کومه سیاسي تشه (خالیګا) چې راروانه ده ډکه او یا خو ټول قوم پرسته سیاسي او غیرې سیاسي ډلې، ټپلي او مخور مشران د یو متبادل (الټرناټیف) په حیث میدان ته راووځي.

پدې هکله ستاسې پام او توجه یو څو ټکو ته راګرځوو:

**لومړی:** ټولو قوم پرستو سیاسي ګوندونو، خوځښتونو، ډلو، ټپلو او غیر سیاسي ټولنو او سرېټوبوونو (شخصیتونو) ته پکار دي چې د پښتنو د قومي وحدت، د پښتو ژبې، ادب، کولتور او د پښتنو د راتلونکي په هکله یو ډیالوګ بحث او مباحثې پیل کړي او د خبرې او حالات خپله خلک تر اخري پولې (اعظمي حده) پورې وسپړي او وه یې چیرې، نظر پرې ورکړي او پایله (نتیجه) یې راوباسي او په هر ځی او هر ګوډ کښې را میدان ته شي.

**دویم:** داچې طالبان نژادي پښتانه دي او سیاسي پښتانه نه دي، نو ددوی هره نادوده سبا خلک په مونږ پورې تړلي شي، او دا ځکه چې د پښتنو ضد او مخالفې ډلي او خلک به بیا دا دلیل راوړیو چې طالبان پښتانهٔ چې ددې صفائي بیا ډېره ګرانه ده.

**دریم:** که د طالبانو عملونه داسې روان وي لکه اوس چې بُتان ورانوي، مخکښې یې موسیقي، راډیو او تلویزیون بند کړي وو او په زوره په خلکو رېږې پرېښودلې، نو دا ټول ددې مانا لري چې په طالبانو باندې په هېواد کښې دننه او د



هېواده بهر هېوادوالو او نړیوالو څخه داسې فشار راروان دی، لکه چې مخکښې ورته اشاره وشوه طالبان د کمر سر ته ځانونه پخپله برابروي او کندې ته به ځانونه پخپله ګذاروي.

که دوی داسې عملونه کوي، نو ددې اغېزې (تاثیرات) به په لاندې پښتنو هم حتمي پریوزي.

ددغه پورتنیو څو ټکو په اړوند په جرمني کښې یو څو ملګري په شخصي توګه راکیناستل او دا پریکړه (فیصله) یې وکړه چې په ټولو قوم پرستو سیاسي او غیر سیاسي مشرانو، ډلو او ذمه وارو قومي شخصیتونو باندې یو اواز وکړي او د پښتنو د روان ناورین او د افغانستان د مسئلې د حل لپاره یو متبادل (الټرناټیف) په حیث میدان ته راووځي، که نور هیڅ ونه شي دا خو به ټولو ته جرته شي، چې قوم پرسته ډلو او ذمه وارو قومي شخصیتونو خپله ذمه واري په خپل وخت کښې تر سره کړه او د ولس د بنستي (بنیادي) ښېګنیو او سوکالۍ لپاره یې خپل اواز اوچت کړ. داده چې دغه ډیلوګ به د پښتنو په منځ کښې په بنستیزو ټکو پیل شي او دا وشاربل شي ی حتمي راووځي، چې دغه پایله (نتیجه) به د پښتنو راتلونکي نسل، پښتون قامي وحدت، ژبې، ادب، کولتور او د پښتني ټولنې لپاره یوه خښته وي چې د راتلونکي بنا به پرې وشي.

تر څو چې پښتانه یو موټی نه شي او د شریک کار د هلو ځلو لپاره په شریکه او اخلاص لاسونه رابډ نه وهي دا مسئلې نورې هم سختیږي.

په راتلونکي کښې چې هر څه او هر بدلون راځي، یوه

خبره پکښې ډېره مهمه ده او هغه دا چې ضد پښتنون نه وي، له همدې کبله د ټولو مشرانو څخه هیله کیږي چې په دې هکله زمونږ دغه لیکنه په غور ولولي او د دې لیکنې په هکله مونږ سره خپل نظر ، مشورې او وړاندیزونه شریک کړي.

په درناوي
محمد شیرین ګردیوال
علي خان محسود
او ډاکتر کبیر ستوری



✸

خپل عزتمند مشر خان لالا صاحب محمد افضل خان ته د زړه د کومي سلامونه وړاندې کوم.

مونږ تر دې ګړۍ پورې روغ جوړ یو او ستاسې د خوښۍ او روغتیا په ارزو یو.

قدرمنه مشره!

د نړۍ په اوسني سیاسي پړاو کې د پښتنو یو والی تاریخي ضرورت دی او په دې لاره کې عملي ګامونه اخیستل پکار دي؛ خو د عملي ګامونو د پاره ګډه بنسټ ناسوب دی. دا ځکه چې پښتانه په عمل کې په درې برخو وېشل شوي دي او یوه برخه یې د ټول پښتون د پاره پرېکړه او فیصله کولی نه شي. داسې یو ګډ بنسټ د پښتنو د یو والي د پاره پیدا کېدلی شي کله چې سړی د مرکزي اسیا یا د مرکزي جنوبي اسیا د ګډ بازار نظریه رامخته کړي، چې پاکستان، افغانستان، تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان پکې شامل دي.

په دې توګه که سړی د پښتون نوم یاد کړي او که نه پخپله د ګډ بازار په چوکاټ کې سره یو ځای کېدلی شي. د ګډ بازار د نظریې په عمل کې د پلي کولو د پاره د مرکزي

اسـيا او يـا مركـزي جنـوبي اسـيا د ډيموكراتيكـو ځواكونـو او ګونـدونو اتحـاد پکـار دى. مطلـب د مركـزي اسـيا او يـا مركـزي جنـوبي اسـيا د ګـډ بـازار د ملكونـو ډيموكراتيـک ګوندونـه هـم پـه يـوه اتحـاد كـې راغونـډول ضـوري دي تـر څـو چـې نـه يـوازې د هېوادونــو د حكومتونــو پــه چوكــاټ؛ بلكــې د ګونــدونو پــه چوكـاټ كـې هـم د مركـزي اسـيا يـا د مركـزي جنـوبي اسـيا د ګـډ بازار د پاره كار وشي.

قدرمنه خان لالا!

زمـا پـه عقيـده د پښـتنو د يـو والـي د پـاره سـړى د مركـزي اسـيا يـا د مركـزي جنـوبي اسيا د ګـډ بـازار د ټولنې د نظريـې پـه چوكـاټ كـې ډېـر كـار كـولى شـي. زه چـې د ځينـو ملګـرو سـره پـه دې نظريــه ګړېـدلم هغـوى تاييـد كـړې ده، سـتا محتـرم څخـه مخكـې لـه دې څخـه چـې زمـونږ د ګونـد پـه چوكـاټ كـې ورتـه د يـوه سيمينار پـه شـكل كـې كـار وشـي هـم د سلا هيلـه مند يـم. پـه پـاى كـې خپـل ډېـر سـلامونه ټولـو ملګـرو تـه رسـوم. ماتـه كـه څـه امر خدمت وي ويې كړئ.

ستاسو كشر

كبير ستورى

**14.12.1995**



✸

## ګـران او ډېـر محتـرم ملګـري واكمـن صـاحب تـه خپـل د زړه د كومې سلامونه وړاندې كوم.

هيلـه ده، چـې روغ جـوړ اوسـې. ستاسـو محتـرم ليـک ماتـه ډېـر پخـوا رارسـېدلى دى؛ خـو دا چـې تـر اوسـه پـورې مـې جـواب نـه دى دركـړى علـت يـې زمـا نـاروغي او د ډوكتـورې ازموينـه وه. هيلـه ده، چې درونـد ملګرى ما پـه دې برخه كې وبخښي.

زړه پـه زړه پـوهېږي، تاسـې تـل زمـا پـه زړه كـې ځـاى لرلـو او لـرئ. ستاسـو د كتـاب د پـاره مـا ملګـرو تـه وويـل او ملګـرى شـاه جهـان موظـف شـو، چـې پـه ډېـره پيمانـه راوغـواړي. دا چـې تاسـې د بـل كتـاب د ليكلـو نيـت هـم لـرئ ډېـر د خوشـحالۍ ځـاى دى او د افغـان اولـس د پـاره تـر ټولـو سـتر خـدمت دى. ستاسـې ګونـدي ملګـري زمـونږ خپـل ملګـري دي دا سـمه ده، چـې د نظـر يـو اخـتلاف بـه څـه ناڅـه وي؛ خـو د لاس پـه پينځـو ګوتـو كـې هـم تـوپير شـته دى او ټـول يـوه دنـده اجـرا كـوي. زمـونږ ګونـدي چـارې ورو ورو مـخ پـه وړانـدې روانـې او منظمـې كېـږي وروسـته لـه دې بـه يـو څـه ګړنـدۍ مـخ پـه وړاندې لاړې شي ډاډه اوسئ.

زه بـه پـه بـل ليـک كـې مفصـل احـوال وليكم. هيلـه ده، چـې ټولـو ملګرو ته زما سلامونه او احترام وړاندې كړئ.

**02.07.1985**

په يو والي او برى.

كبير ستورى

د پښتنو د ټولنيز ولسوليز ګوند مشر

✸

## د پښتون ستوډنټس صدر ښاغلي طارق دراني ته

د پېښور د پوهنتون د پښتون ستوډنټس صدر ښاغلي طارق دراني ته ګېډۍ ګېډۍ سلامونه او پېرزوينې وړاندې کوو.

ګرانه طارق دراني ستا د مينې ډک ليک را ورسېدو زيات خوشحاله شو. هيله ده، چې تل مونږ سره خپل قلمي اړيکي ټينګ وساتي.

ستاسې د غوښتنې سره سمه مو د پښتونخوا اخرنۍ پخوانۍ ګڼه او زمونږ د ګوند منشور درولېږه د پښتونخوا نوې ګڼه د چاپ لاندې ده، چې چاپ شوه در وبه لېږل شي.

که تاسې ملګري پښتونخوا ته خپل مضمونونه او مقالې راولېږلی شئ؛ نو دا به د پښتنو د يووالي او آزادۍ ولولې تودې کړي او ذهني اوښتون (انقلاب) به د قامي خپلواکۍ او سوکالۍ دپاره ګړندی کړي.

په درناوي

ډاکټر کبير ستوری

د پښتنو د ټولنيز ولسوليز ګوند مشر

**11.10.1989**



✸

## برمنګهم کې د پښتون انجمن بنسټ ايښودونکيو ته

د پښتنو د ټولنيز ولسوليز ګوند (پښتون سوشل ډيموکراټيک پارټي) له خوا په برمنګهم کې د پښتون انجمن بنسټ ايښودونکو ته.

ګرانې خورې زويا اباده اوسې!

ستاسې ليک، چې د پښتون انجمن اغراض او مقاصد ورسره مل وو را ورسېد. مونږ د پښتون انجمن اغراض او مقاصد د باچا خان د دوهم تلين په مناسبت غونډه کې، چې د پښتنو د ټولنيز ولسوليز ګوند له خوا د روان عيسوي کال د جنوري د مياشتې په شلمه نېټه د فرانکفورت په ښار کې جوړه شوې وه او په لويديځ جرمني کې ګڼ شمېر پښتنو پکې ګډون کړی و ولوست او ټولو پرې د لاسونو په ټکولو سره د خوشحالۍ ولولې ښکاره کړې.

د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند ستاسو د دغې نېکې ارادې، چې د پښتون انجمن جوړوي نه يوازې هرکلی کوي؛ بلکې د پښتنو د يووالي او د پښتونخوا د ابادۍ او سوکالۍ په لاره کې يو ستر ګام ګڼي او په دې لاره ستاسو

برى غواړي.

ستاسې د بلنې څخه، چې مونږ ته مو د [پښتون انجمن د پنستېټ] ابښودلو په غونډه کې د ګډون د پاره راکړې ده، د زړه د کومي خوښنه کوو او ډاډ درکوو، چې زمونږ د ګوند يوه ډلګه ګۍ به په غونډه کې د برخې اخيستلو د پاره برمنګهم ته درشي.

په درناوي

**02.01.1990**

ډوکتور کبير ستورى،

د پښتنو د ټولنيز ولسوليز ګوند مشر



✸

## عزتمند ملګري دوکتور راج ولي شاه خټک ته!

د زړه له کومي سلامونه!

ستاسې د پېرزوينې څخه، چې زما کتاب "د هوښيارتيا تله" مو د سريزې په ليکلو سره درنه کړې ده ډېره ډېره مننه، ستاسې ددې زرين ليک ياد به نه يوازې زما په زړه کې تلپاتې وي؛ بلکې د هغو کسانو سوچونه به هم سم کړي، چې وايي لر او بر پښتانه بېلې ژبې وايي او يو د بل په ژبه نه پوهېږي.

له دې کبله زه د لرې پښتونخوا ملګرو ته تکليف ورکوم، چې زما په ليکنو څه وليکي، تر څو چې دا احساس خلکو ته ورکړي، چې د پښتون قام ژبه وېشل شوې نه ده. يوه ژبه لري او ټول پرې پوهېږي. محلي توپيرونه په هره ژبه کې شته دي؛ خو دا وېش مانا نه لري.

په پای کې يو ځل بيا ډېره ډېره مننه.

ټولو ملګرو ته سلامونه.

په درناوي

کبير ستورى - ۲۰۰۰-۰۸-۲۳

✸

## د عـالمي پښـتو کـانفرانس چېـرمېن ملګـري سـلیم راز صاحب ته ګېډۍ ګېډۍ سلامونه!

د دویـم عـالمي پښـتو کـانفرنس پـانې مـونږ تـه پـه بلجېم کې زمـونږ د ملګـري عابـد علي خـان پـه لاس راورسېدې. مـونږ هغـه پـانې ډېـرې کـړې او د پښـتون سوشـل ډیموکرېټیـک ګونـد د غـړو پـه یـوه غونډ کې مـو ملګـرو تـه وو بښلې او پـه دې توګـه پـه بهـر کـې ډېـر پښـتانه ستاسـې ددې نېـک ګـام، چـې د عـالمي پښتو کانفرنس تابیا مو کړې ده خبر شو.

زه خپلـه او زمـونږ د ګونـد د مشـرانو جرګـه او د ګونـد نـور ملګـري ستاسـې ددې پیـاوړې ګـام، چـې د پښـتو خـدمت تـه مـو مـلا تړلـې ده د زړه لـه کـومي هرکلـی او درنـاوی کـوو پـه تېـره بیـا د کـانفرنس هدفونـه او مقاصـد، چـې تاسـې را پـه ګوتـه کـړي دي، د وخت ضرورت دی.

مـونږ د پښـتون / افغـان جرګـه تـه، چـې د قـدرمن مشـر خـان لالا محمـد افضـل خـان لـه خـوا پـه پېښـور کـې د نـومبر پـه ۱۴ او ۱۵ نېټه راغوښتل شوې ده د درتللو نیت کړی دی.



اوس پـه غېـرې رسـمي توګـه خبـر شـو، چـې عـالمي پښـتو کـانفرنس د روان کـال د نـومبر د میاشـتې پـه درېیمـه نېټـه جـوړېږي کـه دا خبـره سـمه وي؛ نـو مـونږ خامخـا ددې هڅـه کـوو، چـې مخکـې درشـو او پـه پښـتو عـالمي کـانفرنس کـې برخـه واخلو.

په بري، ستاسو ملګری
ډاکتر کبیر ستوری
۲۰۰۰-۰۸-۱۸-

جرمني - کولن ۱۷ /مئ/۱۹۹۲

## ډېر ګران او زړه ته رانږدې ورور ښاغلي معصوم خان کاسي صیب!

سلامونه او ښې چارې

دویم پښتو نړیوال(عالمي)کانفرنس ته ستاسي بلنلیک راورسید. داچې یوځل بیا مو د پښتو نړیوال (عالمي)کانفرنس شمعه رڼا کړې ده، ډیر زیات پرې خوشحاله شو.

پدې ورځو کې په جرمني کې د پښتنو کولتوري ټولنې چې د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (پشتون سوشل ډیموکراټیک پارټي) ته نږدې ټولنه ده ، له پښتونخوا څخه د یوه کولتوري ماښامي لپاره د پښتو ژبې درانه او پېژندل شوي هنرمندان ښاغلی استاد خیال محمد ، استاد شاه ولي، ښاغلی ګلزار عالم، استاد بختیار او ښاغلی ماس خان مېلمانه کړي دي، نو زمونږ ملګري ددغو درنو مېلمنو او د کولتوري ماښامیو د تیارۍ له کبله ډیر بوخت دي او نه شي



کولی چې د دویم پښتو نړیوال (عالمي) کانفرنس درنې غونډه کې ګډون وکړي.

زه او د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (پشتون سوشل ډیموکراټیک پارټي) د مشرانو جرګه د دویم پښتو نړیوال (عالمي) کانفرنس بریالي پیل او پای ته هیله منд یو او پدې لاره کې ستاسې لا بریالیتوب غواړو.

په درنښت
ډاکتر کبیر ستوری
د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند مشر

جرمني ـ کولن ۱۴/جولاي/۱۹۹۱

## د افغانانو د ازاد انتخاب د ملاتړ کمیټې ته !

ګران ورور ډوکتور امان الله رسول ته د زړه له کومې سلامونه او نیکې هیلې وړاندې کوم.

ستاسو لیک مونږ ته راورسید ، ډېره ډېره مننه.

ستاسو د غوښتنې سره سم زمونږ د ګوند یوه ډلګه ګۍ به ستاسو سره د نژدې لیدنې کتنې او د افغانستان د ربړې د سوله ایز حل د لارو چارو په هکله د نظریو د بدلون لپاره سویس ته درشي.

هیله ده چې مونږ ته ولیکې، چې ستاسو لپاره کوم وخت مناسب دی او هم مونږ ته خپله د تلیفون نمره او د لیدنې د ځای پته راولېږئ.

په درناوي

ډاکتر کبیر ستوری

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند مشر



جرمني ـ کولن

## ګران ملګرې ظاهر جان ته سلامونه.

ستاسې د پښتني احساساتو ډک لیک مونږ ته راورسید.

ستاسې د ملاتړ نه چې د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (پشتون سوشل ډیموکراټیک پارټي) نه مو کړی دی چې ستاسې د سپېڅلو (پاکو) پښتني احساساتو څرګندونه کوي ، خوښنه او مننه کوو.

ستاسې ددې پوښتنې په هکله چې ایا د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند نوم واقعاً د تاریخي حقایقو څخه اخستل شوی دی او که تاکتیکي بڼه لري؟

باید وویل شي چې د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند او ددې ګوند د پښتنو د اوږدو مبارزو چې د تاریخ په اوږدو کې زمونږ د ملي مشرانو له خوا چې د ولس پریکوونکی ملاتړ ورسره وو اخستل شوی دی.

د بیلګې (مثال) په توګه د میرویس خان هوتک مبارزه چې د ایراني استعمار په مقابل (پرضد) او ددغه پروسې دوام د هر ډول استعمار پرضد او په اوسني تاریخي پړاو کې یې ښه بیلګه (مثال) د باچا خان مبارزی دي.

مونږ دغه تاریخ د ټولو پښتنو ګډ میراث ګڼو چې د

پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند نوم د دغه اوږدو او تاريخي مبارزو لاسته راوړنه (محصول) او ادامه ورکوونکی بولو.

د موادو په هکله بايد ووايو چې زمونږ هڅې رواني دي چې د پښتنو تاريخ او نور اړوند (مربوط/تړلي) مواد راټول او خپاره کړو.

هغه مواد چې تر اوسه مونږ راټول کړي دي، د چاپ لپاره تيار دي، کله چې چاپ شول تاسې ته به درولېږل شي.

مونږ اوسمهال داسې مواد چې په عاجل ډول يې تاسو ته درولېږو په لاس کې نه لرو، هيله ده چې زمونږ معذرت ومنئ.

په پښتو، الماني او انګريزي ژبه د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند منشور، د پښتون په نامه اخبار او د دافغانستان د ربړې سوله ايز حل لپاره وړانديز (پيشنهاد) مو ډاکتر صيب ربي ته ورکړې دي، چې د پښتون اخبار او دګوند پښتو منشور مو ستاسې لپاره درولېږه.

د قام او وطن د خدمت په لاره کې ستاسې بريالیتوب زمونږ هيله ده.

په درناوي

ډاکتر کبير ستوری

د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند مشر



جرمني ـ کولن ۱۰/جون/۱۹۹۱

## د افغانانو د ازاد انتخاب کمېټې ته !

ګرانو هېوادوالو هريو ډوکتور امان الله رسول او ډوکتور نجيب عزيزي !

ستاسو د ملي جرګې د جوړولو ليک مونږ ته راورسېد، ډېره مننه.

د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند ددې واقيعت له مخې چې مونږ افغانانو د تاريخ په اوږدو کې خپلې ربړې د جرګو او مرکو په واسطه حل کړې دي، ستاسو دا هڅه د افغانستان د سولې، سوکالۍ او ابادۍ په لاره کې يو نيک ګام ګڼي او غواړي چې جرګې ته يوه ډلګه ګۍ درولېږي.

هيله ده چې د جرګې وخت، د جرګې د ځای پته او د جرګې اجندا مونږ ته راولېږئ.

په درناوي

ډاکتر کبير ستوری

د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند مشر

جرمني- کولن ۳۰ /جون/۱۹۸۲

## په انګلستان کې د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د څانګې مشر ښاغلي سلطان پښتون ته د پښتنې مینې ډک سلامونه وړاندې کوم.

ګرانه ملګریه !

د قام او وطن د ازادۍ ناوې ډېر کار غواړي او مونږ ته ډېر کار پکار دی.

هر څه په کار کولو سره کیږي. زه په دې پوره باور لرم چې تاسې د قام او وطن د ازادۍ او سوکالۍ په لاره کې پوره او نه ستړې کیدونکې هڅې کوئ.

د سوسیالستې انټرناسونالې او د لیبر ګوند پټې مې درولېږلې او دهغه لیکونو کوپي ګانې مې هم ستاسې د معلوماتو لپاره درولیږلې، چې مونږ دوی ته لیږلې دي، خو لاتر اوسه یې ځواب نه دی راغلی.

هیله ده چې تلیفون ورته وکړې او وخت ترې واخلې او خپله ورسره وګوري، تر څو چې هغوی ته مالومه شي چې پښتانه یو قوت دی.

دا ورته هم ووایه چې تاسې کله غونډې کوئ نو ما خبروئ، که مولازم ګڼله نو برخه پکې اخلئ. نور نو تاسې



پو هیږئ.

ګوندي کارونه دلته او د نړۍ په نورو ځایونو کې مخ په وړاندې روان دي.

زه او علي خان د خان عبدالولي خان لیدنې ته درځو که سوسیالستې انټرناسونالې او دلیبر ګوند د لیدنې کتنې وخت درکړي نو د هغوی سره به هم ووینو.

نور نو په بري

ټولو ملګرو او په تیره بیا نبي مصداق ته زما سلامونه ورسوئ.

په درناوي

کبیر ستوری

٣٠ جون ١٩٨٢

د امريکا په متحده ايالتونو کې د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند د ځانګې مشر افتخار حسين ته پښتني غورځنګونه !

ګران ملګری !

ستا ليک راورسيد دادی يوه د غړيتوب فورمه درليږم چې هلته يې ډېره کړې او په هغه ملګرو يې، چې مونږ سره د قام او وطن د ازادۍ په لاره کې کار کوي، ډکه کړئ او مونږ ته يې راوليږئ.

ما تاته يوځل د پښتون رساله درولېږله خو هغه بيرته په ثټ راغله. بيا مې ادم خان ته ورکړه او هغه درولېږله. وروسته د هغې مې د ګوند انګريزي منشورونه درولېږل، خو د هغې هم هيڅ پته رامعلومه نه شوه. هيله ده چې په دې هکله معلومات راکړئ.

دادی اوس بيا يوه يوه نسخه د ټولو څخه درليږم. هيله ده چې درورسيږي، ما ته يې بيرته ډاډ راکړه.

په بين المللي برخه کې مونږ ډېر زيات کار وکړ، اوس مونږ د پښتون قام استازيتوب (نمايندګي) کوو، هر څومره چې زمونږ تماس زياتيږي، هغومره ورسره کار هم زياتيږي.



تاته د دغه دوه ګوندونو پتې درليږم، که چيرې يې دغلته ځانګې وي نو ورسره تماس ونيسه.

ولي خان لندن ته راغلی دی. د امريکا غږ راډيو هم اوس پښتو خپرونه پيل کوي ورسره په تماس کې شه.

د ګوند اقتصادي وضعه لا ښه نه ده ، که مهر دې پکار وي نو پنځوس مارکه راوليږه چې مهر درته جوړ کړو، تر هغه وخته د دغه کاغذونو څخه چې زمونږ د ګوند نشان پرې رسم دی استفاده کوه او خپله پته پرې ليکه.

نور نو ټولو ملګرو ته ځما سلامونه ورسوه.

په درناوي

کبير ستوری

پـــــــای